د مازديګر په وخت کې په خوشحالی سره ښار ته واپس شولو.

د الفاظو تحقيق

أَذَّنْتُ	صيغه واحد متکلم. فعل ماضي معروف. باب (تفعيل) اذان کول/ خبر ورکول.
آثار	معنی يې ده: علامې نخښې. (مفرد) أَثَرٌ
مسرورين	صيغه جمع مذکر بحث اسم مفعول. باب (ن) خوشحاله کېدل.

فائده: (مَسْرُوْرِيْنَ) د حال واقع کېدو له وجې په حالت نصبي کې دی

اللغات الجديدة/ نوي لغتونه

مُتَنَزَّهَاتٌ	چکر/ منظره/ تفريح.
مَنَاظِرٌ رَائِعَةٌ	خوندوره سيمه
نَسِيْمٌ الْجَبَلِ	زبردسته ښايسته هوا
مَكْتَبُ السِّيَاحَةِ	د منظرې دفتر.
مَتْحَفٌ	آثار قديمه/ پخواني آثار.
قَصْرٌ مَلَكِيٌّ	شاهي مانۍ.
سَيَّارَةُ أُجْرَةٍ	د کرايې موټر/ ټکسي

جَدْوَلُ الْمَوَاعِيْدِ	تقسيم اوقات/ د وختونو مهالويش/ ټايم ټيبل
رُسُوْمُ الدُّخُوْلِ	د داخلې فيس

مَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّيْ؟

تا به څوك له ما منع كړي؟

خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزْوَةٍ: هَلْ تَعْرِفُوْنَ مَا هِيَ الْغَزْوَةُ؛

رسول الله صلى الله عليه وسلم يوې غزا ته لاړو، ايا تاسو پوهېږئ چې غزا څه ته وايي؛

لَعَلَّكُمْ تَعْلَمُوْنَ أَنَّ الْمُسْلِمِيْنَ كَانُوْا يَخْرُجُوْنَ . لِلْجِهَادِ

شايد تاسو ته معلومه وي چې مسلمانان به د جهاد لپاره وتل.

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَكَانُوْا يُقَاتِلُوْنَ الْمُشْرِكِيْنَ . وَالْكُفَّارَ

د الله تعالى په لاره كې، هغوى به د مشركينو او كافرانو سره جنګ كولو.

لِوَجْهِ اللّٰهِ تَعَالٰى وَلَعَلَّكُمْ تَعْلَمُوْنَ فَضِيْلَةَ الْجِهَادِ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ؛

د الله تعالى د رضا لپاره. اميد دى چې تاسو ته به د الله تعالى په لاره كې د جهاد فضيلت معلوم وي؛

وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ أَحْيَانًا مَعَ الْمُسْلِمِيْنَ وَ أَحْيَانًا يَمْكُثُ

رسول الله صلى الله عليه وسلم به كله كله د مسلمانانو سره وتلو او كله كله به

فِيْ الْمَدِيْنَةِ لِشُغْلٍ أَوْ مَصْلَحَةٍ وَيَبْعَثُ جُنْدًا مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ

به په مدينه منوره كې د كوم كار يا مصلحت حكمت به خاطر پاتې كېدلو او د مسلمانانو لښكر به يې نېرلو

د الفاظو تحقيق

غَزْوَةٌ	د جهاد هغه لښكر چې خپله رسول الله -صلى الله عليه وسلم- پكې وي د صحابه كرامو -رضي الله عنهم- سره.
لِلْجِهَادِ	اسم مصدر. د اعلاء كلمة الله لپاره خپل ټول قوتونه په كار اچول، جهاد كول
يُقَاتِلُوْنَ	صيغه جمع مذكر غائب. فعل مضارع معروف. باب «مفاعله» خپلو كې جنګ كول
اَلْمُشْرِكِيْنَ	صيغه جمع مذكر. اسم فاعل. باب «افعال» شرك كول. «مفرد» مُشْرِكٌ
اَلْكُفَّار	كفر كوونكي. «مفرد» كَافِرٌ «جمع مكسر»
اَلْوَجْهَةُ	خوشحالي. رضامندي. مخ. «ج» وُجُوْهٌ
يَمْكُثُ	صيغه واحد مذكر غائب. فعل مضارع معلوم. باب «ن» پاتې كېدل. بندېدل

يَنْفُثُ	صيغه واحد مذكر غائب. فعل مضارع معلوم. باب رف، لهيږ
جُنْدًا	معنى يې ده لښكر، قافله. (ج) جُنُوْدٌ

الفاظ الفَضِيْلَةُ تفصيل:

فَضِيْلَةٌ: د ښو اخلاقو لوړه درجه. (ددې عكس رذيلة راځي). د رتبې لوړوالى. امتيازي صفت

فائده: أُمَّهَاتُ الْفَضَائِلِ معنى يې ده بنيادي فضائل. ددې اطلاق په څلورو صفتونو باندې كيږي

١. حكمت

٢. عفت (پاك لمنې)

٣. شجاعت (زړورتيا)

٤. عدل (انصاف).

وَالْغَزْوَةُ مَا خَرَجَ فِيْهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَسَلَّمَ فِيْ جُنْدٍ مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ
غزوه هغه ده چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د مسلمانانو د كوم لښكر سره
لِلْجِهَادِ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ نَعَمْ خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَسَلَّمَ فِيْ غَزْوَةٍ
د الله تعالى په لاره كې د جهاد لپاره وتلى وي، هو. رسول الله صلى الله عليه وسلم په يوه غزا كې ووتلو.
وَرَجَعَ عَنْهَا فِي الظَّهِيْرَةِ وَكَانَتْ أَيَّامُ الصَّيْفِ فَأَرَادَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَسَلَّمَ
د ماسپښين په وخت كې ترې بيرته واپس شو او د گرمى موسم ؤ. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم اراده وكړه
أَنْ يَّسْتَرِيْحَ وَلَيْسَ فِي الْبَرِّيَّةِ مَكَانٌ يَّسْتَرِيْحُ فِيْهِ الْإِنْسَانُ إِلَّا الشَّجَرُ
چې ارام وكړي او په ځنگل كې د ونې څخه بغير داسې ځاى نه ؤ چې انسان پكې ارام وكړي

د الفاظو تحقيق

الظَّهِيْرَةُ	معنى يې ده: د ماسپښين وخت. د ورځې نيمايې. (ج) ظَهَائِرُ
يَسْتَرِيْحُ	صيغه واحد مذكر غائب. فعل مضارع معلوم. باب استفعال، ارام كول
الْبَرِّيَّةُ	معنى يې ده ځنگل، وچه ساحه. (ج) بَرَارِيُّ

وَلَيْسَ فِي الْبَرِّيَّةِ فِيْ بِلَادِ الْعَرَبِ شَجَرٌ كَثِيْرٌ وَلَيْسَ فِيْهَا إِلَّا الثَّمَرُ

د عربي هېوادونو په ځنگلونو كې دومره زياتې ونې نه وې. په هغې كې نه وې مگر كيكر.

فَنَزَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَسَلَّمَ تَحْتَ سَمُرَةٍ وَعَلَّقَ بِهَا سَيْفَهُ

رسول الله صلى الله عليه وسلم د كيكر تر ونې لاندې كښېنستلو. خپله توره يې په ونه كې زوړنده كړه.

وَ تَفَرَّقَ النَّاسُ وَنَامُوْا
صحابه کرام -رضي الله عنهم- جدا جدا شول. هغوی ویده شول

وَنَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحْتَ السَّمُرَةِ
او رسول الله صلى الله عليه وسلم- هم: كيكر ترونې لاندې ويده شو.

وَجَاءَ رَجُلٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ وَسَيْفُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ مُعَلَّقٌ بِالسَّمُرَةِ
د مشرکینو یو کس راغلو او د رسول الله صلى الله عليه وسلم- توره زوړنده وه په کیکر باندې

وَهُوَ فِيْ غِمْدِهٖ فَأَخَذَ الْمُشْرِكُ السَّيْفَ وَسَلَّهٗ مِنْ غِمْدِهٖ
توره په تيكي پوښ کې وه، مشرك توره واخيستله او له تيكي څخه يې وويستله.

وَاسْتَيْقَظَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ
او رسول الله صلى الله عليه وسلم- ورپاندې ويښ شو

د الفاظو تحقيق

اَلسَّمُرُ	د كيكر ونې. ج: أَسْمُرٌ
عَلَّقَ	صيغه واحد مذكر غائب. فعل ماضي معلوم. باب تفعيل زوړندول
سَيْفٌ	معنى يې ده: توره. ج: سُيُوْفٌ، أَسْيَافٌ.
مُعَلَّقٌ	صيغه واحد مذكر. بحث اسم مفعول. باب تفعيل زوړند ساتل.
غِمْدٌ	تيكي: پوښ. ج: غُمُوْدٌ
سَلَّ	صيغه واحد مذكر غائب. فعل ماضي معلوم. باب ن توره بهر راويستل.
اِسْتَيْقَظَ	صيغه واحد مذكر غائب. فعل ماضي معلوم. باب استفعال بيداره كيدل ويښيدل

فَقَالَ الْمُشْرِكُ..... وَالسَّيْفُ مَسْلُوْلٌ فِيْ يَدِهٖ ....لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ
مشرک په داسې حال کې رسول الله صلى الله عليه وسلم- ته وويل چې توره يې ويستل شوې په لاس کې وه.

تَخَافُنِيْ؟ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ : لَا! قَالَ الْمُشْرِكُ:
زما څخه وېرېږې؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم- وفرمايل. نه. مشرك وويل:

مَنْ يَّمْنَعُكَ مِنِّيْ؟ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ: اَللّٰهُ.
زما څخه به دې څوك منع كړي؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: الله تعالى.

فَسَقَطَ السَّيْفُ مِنْ يَدِ الْمُشْرِكِ فَأَخَذَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلىٰ آلِهِ وَسَلَّمَ السَّيْفَ

د مشرک له لاسه توره وغورځېده، نو توره رسول الله ـ صلی الله عليه وسلم ـ راواخيسته.

فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلىٰ آلِهِ وَسَلَّمَ لِلْمُشْرِكِ: مَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّيْ؟

رسول الله ـ صلی الله عليه وسلم ـ وفرمايل: زما څخه به دې څوک منع کړي؟

دالفاظوتحقيق

مَسْلُوْلٌ	صيغه واحد مذکر، اسم مفعول، باب (ن) ويستل شوي
سَقَطَ	صيغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معلوم، باب (ن) غورځېدل
يَدٌ	معنی يې ده: لاس، (ج) أَيْدِيْ

فَقَالَ الْمُشْرِكُ: كُنْ خَيْرَ آخِذٍ! فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلىٰ آلِهِ وَسَلَّمَ:

مشرک وويل: ته غوره اخيستونکی شه رسول الله ـ صلی الله عليه وسلم ـ وفرمايل.

أَتَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَ أَنِّيْ رَسُوْلُ اللهِ؟

ايا ته شاهدي ادا کوې چې د الله تعالی څخه بغير بل معبود نشته او زه د الله تعالی رسول يم؟

قَالَ الْمُشْرِكُ: لَا! وَلٰكِنِّيْ أُعَاهِدُكَ عَلىٰ أَنْ لَّا أُقَاتِلَكَ

مشرک وويل: نه، خو زه ستا سره ژمنه، وعده کوم چې ستا سره به نه جنګېږم

وَلَا أَكُوْنَ مَعَ قَوْمٍ يُقَاتِلُوْنَكَ! فَخَلّٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلىٰ آلِهِ وَسَلَّمَ سَبِيْلَهُ

او نه به هغه قوم مرسته کوم چې ستا سره جنګېږي، رسول الله صلی الله عليه وسلم ـ يې لاره پرېښودله.

فَأَتَى الْمُشْرِكُ أَصْحَابَهُ فَقَالَ: جِئْتُكُمْ مِنْ عِنْدِ خَيْرِ النَّاسِ.

نو مشرک خپلو ملګرو ته راغلو او ورته يې وويل: زه تاسو ته په خلکو کې د غوره کس له طرفه راغلی يم

دالفاظوتحقيق

كُنْ	صيغه واحد مذکر، امر حاضر، باب (ن) کېدل.
خَيْرٌ	معنی يې ده: غوره.
آخِذٌ	صيغه واحد مذکر، بحث اسم فاعل، باب (ن) اخيستل.
خَلّٰى	صيغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معلوم، باب تفعيل لاره پرېښودل، جدايي اختيارول
أَتٰى	صيغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معلوم، باب (ض) راتلل.

اللغات الجدیدة/ نوي لغتونه

اَلْحَرْبُ	جنګ، جګړه

فایده: دا لفظ مؤنث سماعي استعمالیږي او کله د قتال په معنی مذکر هم استعمالیږي.

حُرُوبٌ

اَلْحَرْبُ الْاَهْلِيَّةُ	کورنی جګړې، داخلي جنګونه
اَلْحَرْبُ الْبَارِدَةُ	سوړ جنګ، هغه جنګ چې هره ولړه په مکر او چالاکی سره یو بل ته تاوان رسولو فکرونه کوي
رَجُلٌ حَرْبٌ	زړور، تکړه، غیرتي/ جنګیالی
اَلْحَرْبِيُّ	جنګي، فوځي
اَلْمَدْرَسَةُ الْحَرْبِيَّةُ	حربي پوهنځی
وَزِيْرُ الْحَرْبِيَّةِ	د جنګ وزیر

سَفَرُ الْقِطَارِ

د ریل ګاډي سفر

لَا اَنْسٰى سَفَرِيْ الْاَوَّلَ عَلِمْتُ اَنِّيْ مُسَافِرٌ بُكْرَةً مَعَ اُمِّيْ وَاِخْوَتِيْ

زه خپل لومړی سفر نه هېروم. ماته معلومه شوه چې زه سهار وختي د خپلې مور او وروڼو سره مسافر کېږم.

فَاسْتَيْقَظْتُ قَبْلَ السَّحَرِ وَبَقِيْتُ اَنْتَظِرُ سَاعَةَ السَّفَرِ

زه د صبح صادق څخه وړاندې ویښ شوم، ما همداسې د سفر د وخت انتظار کولو.

وَلَسْتَيْقَظَ اَهْلُ الْبَيْتِ مُبَكِّرِيْنَ وَصَلَّيْنَا الصُّبْحَ وَجَاءَ عَمِّيْ

پاتې د کور خلک هم سهار وختي بیداره شول. مونږ د سهار لمونځ وکړو، زما تره (کاکا) راغلو.

وَبَدَأَتْ فِي الْبَيْتِ حَرَكَةٌ وَاَصْوَاتٌ هٰذَا يَجْرِيْ

په کور کې شور او غوږونه شول. دا منډې وهي.

وَذٰلِكَ يَلُفُّ الْفِرَاشَ وَهٰذَا يُنَادِيْ

هغه فرش غونډوي او دا اوازونه کوي

د الفاظو تحقيق

اَلْقِطَارُ	معنى يې ده: رېل ګاړي، (ج) قُطُرٌ
لَا آتِي	صيغه واحد متكلم، فعل مضارع معلوم منفي، باب (س) هېرول
لِنَحْرٍ	د سهار څخه لږ وړاندې، د پېشمني وخت، (ج) اَنْحَارٌ
عَمٌّ	معنى يې ده: تره/ كاكا، (ج) اَعْمَامٌ
بَدَأَتْ	صيغه واحد مؤنث غائب، فعل ماضي معروف، باب (ف) شروع كېدل
حَرَكَةٌ	اسم مصدر، باب (ک) خوځول/ نقل او حركت كول
اَصْوَاتٌ	معنى يې ده: اوازونه، (مفرد) صَوْتٌ
يَلُفُّ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل مضارع معلوم، باب (ن) راغونډول
اَلْفِرَاشُ	بستره، (ج) فُرُشٌ
يُنَادِيْ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل مضارع معلوم، باب (مفاعله) رابلل، اواز كول

وَذٰلِكَ يُجِيْبُ وَالْعَمُّ يَغْضَبُ وَيَسْتَعْجِلُ وَالْوَالِدُ قَائِمٌ يَأْمُرُ وَيَنْهٰى

هغه جواب وركوي او تره غوسه كېږي او تېزي كوي، پلار ولاړ دى، حكم كوي او منع كوي،

وَيَغْضَبُ وَيُرْشِدُ وَالْخَادِمُ يُهَيِّئُ الزَّادَ حَتّٰى كَانَ

غوسه كېږي او لارښودنه كوي. خادم د سفر سامان تياروي، تردې پورې چې

وَقْتُ الْخُرُوْجِ مِنَ الْبَيْتِ وَقُرْبَ مِيْعَادُ الْقِطَارِ

له كوره د وتلو وخت نږدې شو او د رېل ګاډي وخت نږدې شو.

د الفاظو تحقيق

يَغْضَبُ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل مضارع معلوم، باب (س) غوسه كېدل
يَسْتَعْجِلُ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل مضارع معلوم، باب (استفعال) تېزي كول
يُهَيِّئُ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل مضارع معلوم، باب (تفعيل) تيارول
اَلزَّادُ	د سفر سامان، توشه، (ج) اَزْوِدَةٌ
مِيْعَادُ	صيغه واحد، بحث اسم ظرف، باب (ض) ټاكلى وخت

جاءت مركبتان فركبناهما وسلمت على أبي فودع

دوه سوارلي راغلې. موږ پکې سواره شولو. ما خپل پلار ته سلام وکړو. هغه ماته خداى په امانى وکړ

ودعا لي ووصلنا إلى المحطة فأخذ الحمالون الحوائج والسـ

ماته يې دعاء وکړه. موږ هډې ته ورسېدلو. جواليانو ضروريات او سامان پورته کړو

وكانت أيام شتاء فكانت الفرش كبيرة وذهب عمي فاشترى تذاكر القـ

د ژمي ورځې وې. ددې وجې فرشونه زيات وو. زما تره کاکا لاړو. د رېل ګاډي ټکټ يې واخيستلو

وسألت عمي عن النول فقال: إن النول ثلاث روبيات وربية ونصف للـ

ما د خپل تره څخه د کرايې پوښتنه وکړه. هغه ووېل درې روپۍ ده او ستا کرايه يوه نيمه روپۍ ده

د الفاظو تحقيق

وَدَّعَ	صيغه واحد مذکر غائب. فعل ماضي معروف. باب (تفعيل) رخصتول
اَلْمَحَطَّةُ	معنى يې ده ستېشن. (ج) مَحَطَّاتٌ
اَلْحَمَّالُوْنَ	سامان پورته کوونکي جواليان. (مفرد) حَمَّالٌ
تَذَاكِرَ	معنى يې ده ټکټ. (مفرد) تَذْكِرَةٌ
اَلنَّوْلُ	معنى يې ده کرايه

وقلت لعمي: أعطني تذكرتي فقال عمي: إنك تضيعه تذكرتك فقلت:
ما خپل تره/ کاکا ته ووېل زما ټکټ ماته راکړه. ... راته ووېل ته به خپل ټکټ ورک کړې، ما ووېل
لا! سأحافظ على تذكرتي إن شاء الله فأعطاني تذكرتي ووضعتها عندي
نه که د الله تعالى خوښه وي. زه به خپل ټکټ وساتم. نو هغه ماته ټکټ راکړ او له ځان سره مې کېښودلو.
دخلنا المحطة فرأينا رجالا كثيرا ونساء وأطفالا ورأينا زحاما شديدا
موږ هډې ته داخل شولو. نو موږ ډېر سړي، ډېرې ښځې او ماشومان ولېدل. موږ سخت رش ولېدلو.
وسمعنا أصوات الناس وبكاء الأطفال وصيحة الحمالين وصفير القاطرة
موږ د خلکو غږونه، د ماشومانو ژړاګانې، د جواليانو چيغې او د انجنونو شپېلۍ، شور اورېدلو

د الفاظو تحقيق

تُضَيِّعُ	صيغه واحد مذکر حاضر. فعل مضارع معروف. باب (تفعيل) ضايع کول
نِسَاءٌ	معنى يې ده: ښځه. (مفرد) اِمْرَأَةٌ جمع يې خلاف القياس راغلې ده

فائده: لفظ د نِسَآءً د مفعول به واقع کېدو له وجې منصوب دی

اَلنَّاسُ	معنی يې ده خلک. انسانان. جمع يې اُنَاسٌ خلاف القياس ده
بُكَاءٌ	اسم مصدر، باب (ض) ژړل
صَيْحَةٌ	اسم مصدر، باب (ض) شور کول او چيغې وهل
صَفِيْرٌ	معنی يې ده شپيلی. (ج) صُفُرٌ

وَكَانَ قِطَارُنَا مُتَأَخِّرًا لِذَهَبْنَا اِلَى الْمَنْظَرَةِ وَجَلَسْنَا قَلِيْلًا

زموږ رېل ګاډی وځنډېدلو. نو موږ سيل منظرې ته لاړو. لږ کېناستلو.

ثُمَّ جِئْتُ اِلَى الرَّصِيْفِ لِاَرَى هَلْ جَاءَ الْقِطَارُ ثُمَّ رَجَعْتُ اِلَى الْمَنْظَرَةِ

بيا سټېشن/ هډې ته راغلم چې وګورم ايا رېل ګاډی راغلی؟ بيرته منظرې ته لاړم.

وَبَعْدَ قَلِيْلٍ جَاءَ الْقِطَارُ فَخَرَجْنَا مِنَ الْمَنْظَرَةِ وَقَامَ النَّاسُ كُلُّهُمْ

لږ وخت وروسته رېل ګاډی راغلو، موږ د سيل منظرې څخه راووتلو. ټول خلک ودرېدل.

عَلَى الرَّصِيْفِ وَوَقَفَ الْقِطَارُ وَنَزَلَ اُنَاسٌ فَرَكِبَ اُنَاسٌ وَرَكِبْنَا

په انتظارګاه باندې. رېل ګاډی ودرېدلو. خلک ښکته شول او نور خلک سپاره شول او موږ هم سپاره شولو

د الفاظو تحقيق

اَلْمَنْظَرَةُ	معنی يې ده. سيل/ منظره کول، (ج) مَنَاظِرُ
قَلِيْلًا	معنی يې ده: لږ/ کم. (ج) اَقِلَّاءُ، د مفعول به واقع کېدو له وجې منصوب دی
اَلرَّصِيْفُ	معنی يې ده. انتظار ګاه، (ج) اَرْصِفَةٌ، رُصُفٌ
وَقَفَ	صيغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معروف، باب (ض) پاتې کېدل

وَكُنْتُ اُطِلُّ مِنَ الْقِطَارِ وَ اَرَى الْمَنَاظِرَ وَكَانَ الزِّحَامُ شَدِيْدًا فِي الْقِطَارِ

زه وم چې د رېل ګاډي څخه مې سيل کولو، په رېل ګاډي کې سخت رش ؤ.

وَجَاءَ الْبَاعَةُ وَجَعَلَ النَّاسُ يَشْتَرُوْنَ وَيَاْكُلُوْنَ وَاشْتَرَى بَعْضُ النَّاسِ مِنَ الْبَاعَةِ

خرخوونکي راغی، خلکو شيان اخيستل او خوړل يې، ځينو خلکو د خرخوونکي څخه

هَدَايَا لِأَصْدِقَائِهِمْ وَ أَقَارِبِهِمْ وَبَعْدَ قَلِيْلٍ صَفَّرَ أَمِيْنُ

خپلو دوستانو او خپلوانو ته دالی واخیستلې. لږ وخت وروسته د رېل ګاډي محافظ شپیلی ووها...

وَهَزَّ الْعَلَمَ الْأَخْضَرَ فَأَسْرَعَ النَّاسُ وَدَخَلُوْا فِي الْقِطَارِ وَتَحَرَّكَتِ الْقَاطِرَةُ وَسَارَ الْقِـ...

شین بیرغ یې وخوځولو. خلک په منډه راغلل او رېل ګاډي ته ننوتل. انجن حرکت وکړو او رېل ګاډی روا...

د الفاظو تحقیق

أُطِلُّ	صیغه واحد متکلم. فعل مضارع معروف. باب (افعال) د سر وېستلو په حالت کې کـ...
الْبَاعَةُ	د شیانو خرڅوونکي
هَدَايَا	معنی یې ده دالی، (مفرد) هَدِيَّةٌ
هَزَّ	صیغه واحد مذکر غائب. فعل ماضي معروف، باب (ن) خوځول.
الْعَلَمَ	بیرغ علامه نخښه، (ج) أَعْلَامٌ
فَأَسْرَعَ	صیغه واحد مذکر غائب. فعل ماضي معروف، باب (افعال) تېزي کول.
تَحَرَّكَتْ	صیغه واحد مؤنث غائب. فعل ماضي معروف، باب (تفعّل) حرکت کول.

وَ دَخَلَ مُفَتِّشٌ فِيْ عَرَبَتِنَا فَثَقَبَ تَذَاكِرَنَا وَرَدَّهَا إِلَيْـ...

تفتیش کوونکی زموږ کوټې ته راغلو. زموږ ټکټونه یې سوري کړل، بېرته یې موږ ته راکړل.

وَفِي الطَّرِيْقِ تَغَدَّيْنَا بِالزَّادِ وَأَكَلْنَا وَشَرِبْنَا وَحَمِدْنَا اللّٰهَ تَعَالٰى

په لاره کې مو د خپلې توښې څخه د ماسپښین خوراک او څښاک وکړو، د الله تعالی حمد مو ادا کړو.

وَلَمْ يَزَلْ يَقِفُ الْقِطَارُ عَلَى الْمَحَطَّاتِ وَيَسِيْرُ حَتّٰى وَصَلَ وَقْتُ الظُّـ...

برابر به رېل ګاډی په سټېشن کې درېدلو او بیا به روانېدلو. تردې چې د ماسپښین وخت راورسېدلو.

فَتَوَضَّأْنَا بِسُرْعَةٍ عَلَى مَحَطَّةٍ وَصَلَّيْنَا صَلَاةَ السَّفَرِ، صَلَّيْنَا الظُّهْرَ رَكْعَتَيْنِ

موږ په سټېشن کې ډېر زر اودس وکړو او د سفراني لمونځ مو وکړو. د ماسپښین لمونځ مو دوه رکعته وکړو.

وَسَلَّمْنَا وَصَفَّرَ أَمِيْنُ الْقِطَارِ فَرَكِبْنَا سَرِيْعًا

او سلام مو وګرځولو. د رېل ګاډي محافظ شپېلی ووهله او موږ ډېر زر سپاره شولو.

د الفاظو تحقيق

قَطَّار	صيغه واحد، بحث اسم مبالغه، باب:ن تحقيق. لټون او تفتيش کول
رَدَّ	صيغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معروف، باب:ن وا پس کول
رَكْعَتَيْنِ	تثنيه، دوه رکعتونه، مفرد، رَكْعَةٌ

د لفظ العَرَبَة لوراستعمال:

۱ تېزه دريا وهل

۲. نفس/ خان.

۳: د دوه يا درې تيرونو والا ګادی

۴: د دجله درياب ولاړې کشتی.

۵: وېګن يا د رېل ګادي دبه/ خانه.

د نورو الفاظو سره د عربه استعمال:

عَرَبَةُ سِكَّةِ الْحَدِيْدِ	د رېل ګادي دبه/ خانه، وېګن.
عَرَبَةُ الْعَفْشِ	د سامان ګادی
عَرَبَةٌ لِلْجَرِّ	ترالی، د سامان او نورو شيانو لپاره وړوکی ګادی
عَرَبَةُ الْبَرِيْدِ	د پوست خانې موټر/ ګادی
عَرَبَةُ الْأَكْلِ	د خوراک موټر.
عَرَبَةُ الْأَمْتِعَةِ	د سامان دبه.
عَرَبَةُ الصِّهْرِيْجِ	د اوبو ټينکر.
عَرَبَةُ الطَّعَامِ	د خوراک دبه.
عَرَبَةُ الْمُسْتَشْفَى	د هسپتال موټر/ ايمبولنس، (ج) عربات.

وَقَالَ	عُمَرُ:	لَوْ	كَانَ	الْقِطَارُ	لِلْمُسْلِمِيْنَ	لَكَانَ	فِيْهِ	مَكَانٌ	لِلْوُضُوْءِ
زما ترور/ کاکا راته وويل که رېل ګادی د مسلمانانو وای، نو په دې کې به د اودس									
وَ	لِلصَّلَاةِ	لَأَذَّنَ	فِيْهِ	وَنُصَلِّيَ	جَمَاعَةً،				
او لمانځه ځای وای، ما به پکې اذان کړی وای او په جماعت سره به مو لمونځ کړی وای.									

وَفِي الْعَصْرِ وَصَلَ الْقِطَارُ إِلَى مَحَطَّتِنَا وَكُنْتُ أُطِلُّ مِنَ النَّافِذَةِ

د مازديګر په وخت کې رېل ګاډی زموږ هډې ته ورسېدلو. ما له کړکۍ څخه کتل.

فَرَأَيْتُ هَاشِمًا وَسَعِيدًا عَلَى الرَّصِيفِ وَعَرَفْتُهُمَا وَسَلَّمْتُ عَلَيْهِمَا

ما هاشم او سعيد په انتظار ګاه کې وليدل. دواړه مې وپېژندل. په دواړو مې سلام وکړو

وَسَلَّمَا عَلَيَّ وَوَصَلْتُ إِلَى قَرْيَتِي وَقَابَلْتُ أَصْدِقَائِي وَإِخْوَانِي

و هغوی دواړو په ما سلام وکړو. زه خپل کلي ته ورسېدم. د خپلو ملګرو او وروڼو سره ملاو شوم.

وَجَعَلْتُ أُحَدِّثُهُمْ حَدِيثَ الْبَلَدِ وَأُخْبِرُهُمْ بِعَجَائِبِهِ

ما د هغوی سره د ښار په اړه خبرې وکړې، د ښار عجيبه خبرې مې ورته وکړې.

وَأَحْكِي لَهُمْ مَا رَأَيْتُ فِي السَّفَرِ.

د خپل سفر په حالت کې ليدل شوي شيانو کيسې مې ورته وکړې

د الفاظو تحقيق

النَّافِذَةُ	معنى يې ده: کړکۍ، (ج) نَوَافِذُ.
قَابَلْتُ	صيغه واحد متكلم، فعل ماضي معروف، باب (مفاعله) ملاقات کول
أَحْكِيْ	صيغه واحد متكلم، فعل مضارع معروف، باب (ض) بيانول.
السَّفَرُ	معنى يې ده: د سفر حالت، (ج) أَسْفَارٌ.

اللغات الجديدة/ نوي لغتونه

مَكْتَبُ التَّذَاكِرِ	د ټکټونو دفتر.
غُرْفَةُ الْإِنْتِظَارِ	د انتظار خونه/ کوټه، انتظار ګاه.
شَيَّالٌ	د شيانو پورته کوونکی مزدور/ جوالي
اَلْإِشَارَاتُ	سګنل/ اشارې
حَارِسُ الْقِطَارِ	د رېل ګاډي چوکيدار
مَقْصُوْرَةٌ	د رېل ګاډي چلوونکي وړه خونه/ وړه کوټه.
خُطُوْطٌ رَئِيْسِيَّةٌ	اصلي لاينونه
مَمْنُوْعُ التَّدْخِيْنِ	سګرېټ څښل منع دي.
مَقْعَدٌ	سيټ/ د ناستې ځای

قِطَارُ الإِنْذَارِ	د خطر زنګ
رَصِيفُ الْقِطَارِ	پياده رو/ د پياده تللو ځاى
قِطَارُ الْبَضَائِعِ	د مالونو ګاډى
قِطَارُ الرُّكَّابِ	د سوارليو رېل ګاډى
الْقِطَارُ السَّرِيعُ	ايکسپريس ګاډى، تېز رېل ګاډى
الْقِطَارُ الْبَطِيءُ	سست رېل ګاډى
قِطَارٌ طَوِيلٌ	د اوږد سفر رېل ګاډى

مَاذَا تُحِبُّ أَنْ تَكُونَ؟

ته څه خوښوې چې په راتلونکي کې څه جوړ شې؟

سَأَلَ الْمُعَلِّمُ التَّلَامِيْذَ مَرَّةً فِي الصَّفِّ وَاحِدًا وَاحِدًا: مَاذَا تُحِبُّ أَنْ تَكُوْنَ؟

يو ځل استاذ د شاګردانو څخه په صنف کې تنها تنها پوښتنه وکړه: ته څه خوښوې چې په راتلونکي کې جوړ شې؟

وَقَالَ: كُلٌّ وَاحِدٍ حُرٌّ فِي جَوَابِهِ فَلَا يَخَفْ وَلَا يَسْتَحْيِ.

او وې ويل: هر يو په خپل جواب کې ازاد دى، نه به وېره کوي او نه به شرم کوي.

قَالَ أَحْمَدُ وَكَانَ أَصْغَرَ التَّلَامِيْذِ: أَنَا أُرِيْدُ أَنْ أَكُوْنَ سَائِقًا فِي الْقِطَارِ

احمد وويل چې په خپل صنف کې کشر و: زه غواړم چې د رېل ګاډي چلونکى شم.

فَأَرْكَبَ دَائِمًا وَ أُسَافِرَ مَجَّانًا وَ أَتَنَزَّهَ.

همېش به سپور يم، مفت سفر به کوم او خپلې چکرې به وهم.

د الفاظو تحقيق

تُحِبُّ	صيغه واحد مذكر حاضر، فعل مضارع معروف، باب إفعال خوښول/ غوښتل
التَّلَامِيْذُ	شاګردان، (مفرد) تِلْمِيْذٌ
مَرَّةً	يو ځل، (ج) مَرَّاتٌ/ مِرَارٌ
حُرٌّ	معنى يې ده: ازاد، (ج) أَحْرَارٌ
أَصْغَرُ	صيغه واحد، بحث اسم تفضيل، باب (س، ك) معنى يې ده: تر ټولو کشر.
سَائِقًا	صيغه واحد بحث، اسم فاعل، باب (ن) چلول، (ج) سَائِقُوْنَ.

فائده: أَكُوْنَ د فعل ناقص لپاره د خبر واقع كېدو له وجې منصوب دى.

لَايَخِفْ	صيغه واحد مذكر غائب. فعل نهي. باب (س) وبريدل
لَايَسْتَغْنِ	صيغه واحد مذكر غائب. فعل نهي. باب (استفعال شرمېدل
مَجَّانًا	مفت. د مفعول مطلق واقع كېدو له وجې منصوب دى
أَتَنَزَّهُ	صيغه واحد متكلم. فعل مضارع معروف. باب (تفعّل چكر او تفريح وهل

وَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ: إِنَّ سَائِقَ الْقِطَارِ فِيْ تَعَبٍ عَظِيْمٍ وَحَرٍّ وَجَحِيْمٍ

عبد الرحمن ووبل بې شكه د ربل ګاډي چلونكى زيات ستړى. په ګرمۍ او اور كې وي.

وَلٰكِنِّيْ أُحِبُّ أَنْ أَكُوْنَ رُبَّانًا فِيْ بَاخِرَةٍ فَأُسَافِرَ فِي الْبَحْرِ

خو زه خوښوم چې د سمندري بېړۍ/ كشتۍ كپتان شم. په سمندر كې به سفر كوم

وَ أَزُوْرَ الْبِلَادَ الْبَعِيْدَةَ مَجَّانًا وَ أُشَاهِدَ عَجَائِبَ الدُّنْيَا

او د لرې ښارونو زيارت به مفت كوم او د دنيا عجيبه شيان به وينم.

دالفاظوتحقيق

جَحِيْمٌ	تپش، ګرمايش او دوزخ.
رُبَّانًا	كپتان. د سمندري بېړۍ/ كشتۍ چلونكى.

فائده: أَكُوْنُ د فعل ناقص لپاره د خبر واقع كېدو له وجې منصوب دى.

بَاخِرَةٌ	سمندري بېړۍ. (ج) بَوَاخِرُ
اَلْبَحْرُ	سمندر. (ج) بِحَارٌ. بُحُوْرٌ
أَزُوْرُ	صيغه واحد متكلم. فعل مضارع معروف. باب (ن) كتل/ ملاقات كول/ ليدل
اَلْبَعِيْدَةُ	لرې. (ج) بُعَدَاءُ
أُشَاهِدُ	صيغه واحد متكلم. فعل مضارع معروف. باب (مفاعله) كتل.
عَجَائِبُ	نا اشنا شى. (مفرد) اَلْعَجِيْبَةُ.

وَقَالَ إِبْرَاهِيْمُ: اَلرُّبَّانُ وَبَاخِرَتُهُ فِيْ خَطَرٍ مِّنَ الْغَرَقِ وَلٰكِنِّيْ أُحِبُّ أَنْ أَكُوْنَ طَبِيْبًا

ابراهيم ووبل: كپتان او بېړۍ يې د غرقېدو په خطره كې وي، خو زه خوښوم چې ډاكټر شم،

فَأُدَاوِيَ النَّاسَ وَ أُدَاوِيَ الْفُقَرَاءَ مَجَّانًا، وَأَخْدِمَ الْخَلْقَ

د خلكو علاج/ درملنه وكړم، د غريبانانو علاج مفت وكړم او د خلكو خدمت وكړم.

... أُحَافِظُ عَلَى صِحَّتِيْ وَ أَعِيْشُ بِأَمْنٍ وَسَلَامٍ	
... د خپلې روغتيا خيال وساتم، په امن او سلامتيا سره ژوند وكړم	

د الفاظو تحقيق

تَدَرُّبًا	اسم مصدر، باب (س) دربېدل
طَبِيْبًا	ډاكټر/ علاج كوونكى معالج. (ج) أَطِبَّاءُ. (د فعل ناقص لپاره د خبر واقع كېدو له وجې منصوب دى)
أُدَاوِيْ	صيغه واحد متكلم، فعل مضارع معروف، باب (مفاعله) علاج كول
أَعِيْشُ	صيغه واحد متكلم، فعل مضارع معروف، باب (ض) ژوند تېرول

وَأَجَابَهُ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ وَقَالَ: هٰذَا لَيْسَ بِصَحِيْحٍ، لَيْسَتِ الْبَاخِرَةُ
عبد الرحمن جواب وركړو او وې ويل: دا صحيح خبره نه ده، سمندري بېړۍ
فِيْ خَطَرٍ فِيْ هٰذَا الزَّمَانِ وَالْبَوَاخِرُ تُسَافِرُ دَائِمًا فِيْ هٰذِهِ الْأَيَّامِ بِأَمْنٍ وَسَلَامٍ
(او كپتانان) نن سبا په خطره كې نه وي، نن سبا همېش د امن او سلامتيا په فضاء كې سفر كوي.
وَبِالْعَكْسِ أَرَى الْأَطِبَّاءَ يَمْرَضُوْنَ وَيَمُوْتُوْنَ وَقَاطَعَهُ إِبْرَاهِيْمُ،
(دې) بالعكس زه وينم چې ډاكټران ناروغ شي او مړه شي. د عبد الرحمن خبره ابراهيم ماته كړه:
وَقَالَ: لَمَا سَمِعْتَ أَنَّ بَاخِرَةً غَرِقَتْ قَبْلَ يَوْمَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ
او وې ويل: ايا تا دوه يا درې ورځې وړاندې نه دي اورېدلي چې بېړۍ غرقه شوه؟

د الفاظو تحقيق

اَلزَّمَانُ	وخت، (زيات وي او كه كم وي) موده/ زمانه/ د دنيا ټوله موده، (ج) أَزْمِنَةٌ
اَلْعَكْسُ	اسم مصدر، باب (ض) برخلاف كېدل/ سرچپه كېدل.
يَمْرَضُوْنَ	صيغه جمع مذكر غائب، فعل مضارع معروف، باب (س) ناروغه كېدل.
يَمُوْتُوْنَ	صيغه جمع مذكر غائب، فعل مضارع معروف، باب (ن) مړ كېدل.

وَأَرَادَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ أَنْ يُجِيْبَهُ، وَلٰكِنْ قَالَ الْمُعَلِّمُ: وَ هٰذَا لَيْسَ وَقْتَ مُنَاظَرَةٍ
عبد الرحمن اراده وكړه چې جواب وركړم، استاذ وويل: دا وخت د مناظرې نه دى.

وَكَذٰ بَقِيَ كَثِيْرٌ مِنَ الطَّلَبَةِ وَمَا ذَا تَقُوْلُ يَا قَاسِمُ؟ قَالَ قَاسِمُ: اَنَا لَا اُحِبُّ

زيات طالبان پاتې دي او اې قاسمه! ته څه وايې؟ قاسم ووېل: زه نه خوښوم چې

اَنْ اَكُوْنَ سَائِقًا اَوْ رُبَّانًا اَوْ طَبِيْبًا بَلْ اُحِبُّ اَنْ اَكُوْنَ فَلَّاحًا اَزْرَعُ

چې چلونكى شم يا كپتان شم يا ډاكټر شم، بلكې خوښوم چې دهقان شم، كښت به كوم

وَ اَحْرُثُ وَلَا اَحَدٌ يَخْدِمُ النَّاسَ وَيَنْفَعُهُمْ كَالْفَلَّاحِ

خمكه به اړوم. څوك هم د دهقان په شان د خلكو خدمت نه كوي چې هغوى ته ګټه ورسوي.

وَهُوَ الَّذِيْ يَزْرَعُ الْحُبُوْبَ وَالْخُضَرَ فَيَاْكُلُ النَّاسُ وَالدَّوَابُّ.

دهقان هغه څوك دى چې تخم او سبزي كري، خلك او حيوانات يې خوري.

د الفاظو تحقيق

مُنَاظَرَةٌ	اسم مصدر، باب (مفاعلة) د يو بل سره بحث او مباحثه كول.
فَلَّاحًا	دهقان/ كروندګر، (ج) فَلَّاحُوْنَ.
اَزْرَعُ	صيغه واحد متكلم، فعل مضارع معروف، باب (ف) كرونده كول.
اَحْرُثُ	صيغه واحد متكلم، فعل مضارع معروف، باب (ن) يوې كول/ خمكه اړول.
اَلْحُبُوْبُ	دانه/ تخم/ غله، (مفرد) حَبٌّ.
وَالدَّوَابُّ	حيوان/ خناور، (مفرد) دَابَّةٌ.

وَقَالَ سُلَيْمَانُ: اَنَا اُحِبُّ اَنْ اَكُوْنَ تَاجِرًا مَاهِرًا لِيْ دُكَّانٌ كَبِيْرٌ فِيْ سُوْقٍ كَبِيْرٍ

سليمان ووېل: زه خوښوم چې زه تكړه تاجر شم، غټ دكان په لوى بازار كې ولرم،

يَاْتِيْ النَّاسُ اِلَيَّ وَيَشْتَرُوْنَ، وَقَالَ حَامِدٌ: اَنَا اُحِبُّ اَنْ اَكُوْنَ صَنَّاعًا

خلك راته راځي او سوداګانې كوي، حامد ووېل: زه خوښوم چې زه جوړونكى شم

وَ مُخْتَرِعًا اَصْنَعُ وَ اَخْتَرِعُ الْاَشْيَاءَ الْعَجِيْبَةَ وَقَالَ خَالِدٌ: اَنَا اُحِبُّ اَنْ اَكُوْنَ جُنْدِيًّا قَوِيًّا

او ايجاد كوونكى شم، نوې شيان ايجاد كړم، خالد ووېل: زه خوښوم چې تكړه فوځي شم،

اُقَاتِلُ الْكُفَّارَ وَالْمُشْرِكِيْنَ وَاُجَاهِدُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ.

د كافرانو او مشركينو سره به جنګېږم او د الله تعالى په لاره كې به جهاد كوم

د الفاظو تحقيق

صَنَّاعًا	صيغه واحد بحث اسم مبالغه، باب (تفعيل) كاريګري كول، ايجاد كول
مُخْتَرِعًا	صيغه واحد مذكر، بحث اسم فاعل، باب (افتعال) شيان ايجاد كول
أُقَاتِلُ	صيغه واحد متكلم، فعل مضارع معروف، باب (مفاعلة) جنګ كول.
جُنْدِيًّا	معنى يې ده: اردو، عسكر، (ج) جُنُوْدٌ

قَالَ عَبْدُ الْكَرِيْمِ: أَنَا أُحِبُّ أَنْ أَكُوْنَ غَنِيًّا كَبِيْرًا آكُلُ مَا أُحِبُّ

عبد الكريم وويل: زه غوارم چې لوى شتمن شم، واغوندم هغه څه چې زه يې خوښم.

وَآكُلُ مَا أَشْتَهِيْ وَأُسَافِرُ إِلٰى أَيْنَ أُرِيْدُ

خوراک وكړم د هغه څه چې زه يې اشتها لرم، سفر وكړم هغه ځاى ته چې زه يې اراده لرم،

وَلْيَكُنْ عِنْدِيْ مَالٌ كَثِيْرٌ وَأَسْكُنُ فِيْ قَصْرٍ كَبِيْرٍ، وَضَحِكَ الْأَوْلَادُ مِنْ قَوْلِ عَبْدِ الْكَرِيْمِ

هلته زما سره ډېر مال وي، په لويه ماڼۍ كې واوسېږم، هلكانو د عبد الكريم په خبره وخندل،

وَخَجِلَ عَبْدُ الْكَرِيْمِ، وَقَالَ مُحَمَّدٌ: لَمَا أُحِبُّ أَنْ أَكُوْنَ عَالِمًا أَخَافُ اللّٰهَ

عبد الكريم پښېمانه شو، محمد وويل: زه خوښوم چې عالم شم، د الله تعالى څخه وېرېږم.

وَأَعْبُدُهُ وَأَعِظُ النَّاسَ وَآمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ

د هغه عبادت وكړم، خلكو ته نصيحت وكړم، هغوى ته په نېكۍ حكم وكړم

وَأَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَ أُحَذِّرُهُمْ عَذَابَ اللّٰهِ.

او له بدۍ څخه يې منع كړم او هغوى د الله تعالى له عذاب څخه ووېروم.

د الفاظو تحقيق

قَصْرٌ	ماڼۍ، (ج) قُصُوْرٌ.
خَجِلَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (س) شرمنده، خجالت، پښېمانه
أَعِظُ	صيغه واحد متكلم، فعل مضارع معروف، باب (ض) وعظ او نصيحت كول.
أُحَذِّرُ	صيغه واحد متكلم، فعل مضارع معروف، باب (تفعيل) وېرول.

قَالَ الْمُعَلِّمُ: أَحْسَنْتُمْ يَا أَوْلَادِيْ وَأَنَا أَدْعُوْ لَكُمْ بِالتَّوْفِيْقِ وَالنَّجَاحِ

استاذ وويل: ډېر ښه، اې بچيانو! زه تاسو ته د توفيق او كاميابۍ دعاء غوارم،

وَلٰكِنْ كُوْنُوْا مُسْلِمِيْنَ وَابْتَغُوا اللّٰهَ

خو تاسو تابعدار جوړ شئ، په خپل عمل سره د الله تعالی رضا وغواړئ.

وَانْفَعُوا الدِّيْنَ بِشُغْلِكُمْ وَاخْدِمُوا الْأُمَّةَ

د خپلو مشغولتیا په ذریعه دین ته ګټه ورسوئ، په خپل عمل سره د امت خدمت وکړئ.

قَالَ التَّلَامِيْذُ: وَمَاذَا تَقُوْلُ أَيُّهَا الْأُسْتَاذُ عَنْ عَبْدِ الْكَرِيْمِ

شاګردانو وویل اې استاذه! د عبد الکریم او د هغه د مالي په هکله تاسو څه وایئ؟

د الفاظو تحقیق

أَحْسَنْتُمْ	صیغه جمع مذکر حاضر. فعل ماضي معروف، باب (افعال) ښه کول
أَدْعُوْا	صیغه واحد متکلم. فعل مضارع معروف. باب (ن بلل) دعاء کول، اواز کول
اَلتَّوْفِيْقُ	اسم مصدر. باب (تفعیل) توفیق ورکول
اَلنَّجَاحُ	اسم مصدر. باب (ف) کامیابېدل
كُوْنُوْا	صیغه جمع مذکر. فعل امر حاضر. باب (ن) کېدل.
اِبْتَغُوْا	صیغه جمع مذکر. فعل امر حاضر. باب (افتعال) ولټوئ!
اِنْفَعُوْا	صیغه جمع مذکر. فعل امر حاضر. باب (ف) ګټه رسول
اِخْدِمُوْا	صیغه جمع مذکر. فعل امر حاضر. باب (ض) خدمت کول

قَالَ الْمُعَلِّمُ: اَلْمَالُ نِعْمَةٌ مِّنَ اللّٰهِ يَجِبُ عَلَيْهَا الشُّكْرُ

استاذ وویل: مال د الله تعالی له لوري نعمت دی. په نعمت باندې شکر واجب دی.

وَسَعِيْدٌ جِدًّا مَنْ آتَاهُ اللّٰهُ مَالًا فَهُوَ يُنْفِقُ مِنْهُ سِرًّا وَّ جَهْرًا

زیات خوش قسمته دی هغه څوک چې الله تعالی مال ورکړی وي، هغه یې په پټه او ښکاره خرچ کوي.

وَيَبْتَغِيْ بِهٖ مَرْضَاةَ اللّٰهِ وَيَخْدِمُ بِهِ الْإِسْلَامَ وَقَدْ جَاءَ فِي الْحَدِيْثِ الشَّرِيْفِ

او په دې سره د الله تعالی رضاء لټوي، د اسلام خدمت کوي، په حدیث شریف کې راغلي

لَا حَسَدَ إِلَّا فِي اثْنَتَيْنِ : رَجُلٌ آتَاهُ اللّٰهُ مَالًا فَسَلَّطَهٗ

حسد نشته: مګر په دوه شیانو کې (یو) هغه کس دی چې الله تعالی مال ورکړی وي، هغه یې په

عَلٰى هَلَكَتِهٖ فِي الْحَقِّ وَرَجُلٌ آتَاهُ اللّٰهُ حِكْمَةً

حق کارونو کې مصرف کړي او (دویم) هغه کس دی چې الله تعالی پوهه زیرکتیا ورکړې وي.

فَهُوَ يَقْضِي بِهَا وَيُعَلِّمُهَا.

هغه به څیل علم پوهه زیرکتیا، باندې فیصله کوي او نورو ته یې ښودنه کوي

د الفاظو تحقیق

نِعْمَة :(۱) انعام، دولت رزق. (۲) د قدر ور شی. (۳) آسودګي. احسان او سلوک نه و بل کیږي. لکه (۴) لَكَ عِنْدِيْ نِعْمَةٌ لَاتُنْكَرُ ترجمه په ما باندې ستا داسې احسان دی چې نه هېریدونکی دی. (ج) نِعَمٌ: أَنْعُمٌ

يَبْتَغِي	صیغه واحد مذکر غائب. فعل مضارع معروف. باب (ض) واجبېدل. ضروري کېدل

الفاظ جدًّا او وضاحت:

جِدٌّ: (۱) مخ د څمکې. (۲) د نهر څنډه. (۳) د څه شي د کثرت او مبالغې د بیانولو لپاره د پانولې په معنی باندې استعمالیږي. لکه (فُلَانٌ مُحْسِنٌ جِدًّا) فلانی کس زیات نېکي ورونکی دی. (هٰذَا خَطَرٌ جِدٌّ عَظِيْمٌ أَيْ عَظِيْمٌ جِدًّا) (۴) کوشش. (۵) واقعیت حقیقت. لکه (وَمِنْ جِدِّهِ) په حقیقت کې

فائده: جِدًّا د مفعول مطلق واقع کېدو له وجې منصوب دی

يُنْفِقُ	صیغه واحد مذکر غائب. فعل مضارع معروف. باب (افعال) خرچ کول
سِرًّا	معنی یې ده: راز، (ج) أَسْرَارٌ
جَهْرًا	معنی یې ده: ښکاره، اسم مصدر. باب (ف)

فائده: سِرًّا او جَهْرًا دواړه د مفعول لپاره د صفت واقع کېدو له وجې منصوب دي. تقدیر د عبارت به داسې شي (اِنْفَاقًا سِرًّا وَجَهْرًا).

سَلَّطَ	صیغه واحد مذکر غائب. فعل ماضي معروف. باب (تفعیل) مسلط کول او مقررول
هَلَكَةٌ	هلاکول یې دربغه خرچ کول. (ج) هَلَكَاتٌ
الْحَقُّ	اسم مصدر. باب (ض) معنی یې ده ربښتینولي. یقین. انصاف. ثابته شوي برخه. مال او ملکیت. هوښیاري. فیصله شوي معامله. (ج) حُقُوقٌ
يَقْضِي	صیغه واحد مذکر غائب. فعل مضارع معروف. باب (ض) فیصله کول
يُعَلِّمُ	صیغه واحد مذکر غائب. فعل مضارع معروف. باب (تفعیل) ښودل

وَلَقَدْ كَانَ سَيِّدُنَا عُثْمَانُ وَسَيِّدُنَا عَبْدُ الرَّحْمٰنِ ابْنُ عَوْفٍ

په تحقيق سره زمونږ سردار عثمان - رضي الله عنه - او زمونږ سردار عبد الرحمن بن عوف - رضي الله عنه -

غَنِيَّيْنِ وَرَفَعَ عَبْدُ الْكَرِيْمِ رَأْسَهُ وَقَالَ: سَأَجْتَهِدُ اَنْ اَخْدِمَ الْإِسْلَامَ

شتمن وو، عبد الكريم سر پورته كړو او وې ويل: زه كوشش كوم چې د اسلام خدمت به وكړم

بِمَالِيْ وَ اَبْتَغِيْ بِهٖ مَرْضَاةَ اللّٰهِ

په خپل مال سره او په دې (مال) سره به د الله تعالى رضا حاصله كړم.

د الفاظو تحقيق

غَنِيًّا	مالدار/ شتمن، (ج) أَغْنِيَاءُ.
رَفَعَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (ف) اوچتول
أَجْتَهِدُ	صيغه واحد متكلم، فعل مضارع معروف، باب (افتعال) كوشش كول.
مَرْضَاةٌ	اسم مصدر، باب (س) خوشحالېدل/ خوشحالي.

اللغات الجديدة/ نوي لغتونه

مَعْبَرٌ فَوْقِيٌّ جِسْرٌ	هوايي پل.	مَعْبَرٌ سُفْلِيٌّ	د ځمكې لاندې لاره/ زمين پل
مَحَطَّةُ بِتْرُوْلٍ	د پټرولو پمپ.	اَلْبَاخِرَةُ	د سمندري بېړۍ كپتان.
سَيَّارَةُ إِسْعَافٍ	ايمبولنس.	حَرَارَةٌ	ګرمي.
اَلْبَاخِرَةُ الْمُكَيَّفَةُ	ايركنډيشن/ سمندري بېړۍ.		
صُدَاعٌ	سر درد.	ضَغْطُ دَمٍ	د وينې زياتوالى/ بلډ پرېشر
حَسَّاسِيَّةٌ	الرژي/ حساسيت.	طَبِيْبُ أَسْنَانٍ	د غاښونو ډاكټر.
اَلْعَالِمُ الطَّبِيْعِيُّ	ساينس پوه.	عُلَمَاءُ الذَّرَّةِ	د ايټم ساينس پوه.

مُسَابَقَةٌ

د منډي مقابله

كَانَتْ أَمْسِ مُسَابَقَةٌ فِي الْجَرْيِ فِي مَدْرَسَتِيْ- أَوَّلًا اِخْتَارَ مُعَلِّمُ الرِّيَاضَةِ

پرون ورځ زموږ په مدرسه کي د منډي مسابقه وه. لومړی د ورزش ښوونکي

أَرْبَعَةً وَعِشْرِيْنَ طَالِبًا مِنْ جَمِيْعِ الصُّفُوْفِ هُمْ أَقْرَانٌ

د ټول صنف څخه څلرويشت زده کوونکي خوښ کړل چي دوی همزولي

وَأَكْفَاءُ وَ أَوْقَفَهُمْ فِيْ صُفُوْفٍ صَفًّا خَلْفَ صَفٍّ وَفِيْ كُلِّ صَفٍّ ثَلَاثَةٌ

او برابر وو، دوی يې د يو بل پسې صفونو کي ودرول، په هر صف کي دري کسان وو.

د الفاظو تحقيق

مُسَابَقَةٌ	اسم، مصدر، باب (مفاعلة) د يو بل سره په منډه کي مسابقه کول.
اَلْجَرْيُ	اسم، مصدر، باب (ض) منډه کول
اِخْتَارَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (افتعال) چاڼ کول.
اَلرِّيَاضَةُ	اسم، مصدر، باب (ن) بدني ورزش کول.
أَقْرَانٌ	معنى يې ده: برابر، (مفرد) قِرْنٌ.
أَكْفَاءُ	معنى يې ده: برابر، هم عمر، (مفرد) كُفْوٌ.
أَوْقَفَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (افعال) درول.
صُفُوْفٌ	معنى يې ده: قطار/لين، صف، (مفرد) صَفٌّ

وَوَقَفَ الْأُسْتَاذُ بِجَانِبٍ مِنْ هٰذِهِ الصُّفُوْفِ وَقَدَّمَ صَفًّا فِيْهِ مُحَمَّدٌ

ښوونکی ددې صفونو په يو طرف کي ودرېدلو، يو صف يې مخکي کړ چي په هغې کي محمد

وَإِبْرَاهِيْمُ وَسَعِيْدٌ وَهُمْ أَقْرَانٌ وَأَكْفَاءُ، وَقَالَ: قُوْمُوْا فِيْ صَفٍّ وَاحِدٍ

ابراهيم او سعيد وو، دوی همزولي او يو برابر کسان وو، وې ويل: په يو صف

وَعَلٰى خَطٍّ وَاحِدٍ وَلَا يَتَقَدَّمُ مِنْكُمْ أَحَدٌ وَكَانَ اِبْرَاهِيْمُ مُتَقَدِّمًا قَلِيْلًا

او يو خط باندي ودرېږئ، ستاسو څخه به يو کس هم نه مخکي کېږي، ابراهيم لږ مخکي ؤ،

فَأَخَّرَهُ وَجَعَلَهُ فِي الصَّفِّ، وَقَالَ: أَنَا أَعُدُّ لَكُمْ فَإِذَا قُلْتُ:

نو يې وروسته کړو او په صف کي يې ودرولو، وې ويل: زه تاسو ته حساب کوم، کله چې ما وويل

وَاحِدٌ: قُومُوا الصَّفَّ وَإِذَا قُلْتُ: إِثْنَانِ فَاسْتَعِدُّوا،

يو نو تاسو صف سيده کړئ. کله چې ما وويل دوه، نو تاسو ځانونه تيار کړئ

وَاجْمَعُوا ثِيَابَكُمْ، وَإِذَا قُلْتُ: ثَلَاثَةٌ فَطِيرُوا، وَذَهَبَ أَحَدُ الْمُعَلِّمِينَ

او جامي راغونډې کړئ. کله چې ما وويل درې، نو تاسو والوځئ. د ښوونکو څخه يو کس

إِلَى آخِرِ الْمَيْدَانِ وَوَضَعَ هُنَالِكَ قَصَبَةً وَقَالَ: هٰذِهٖ هِيَ الْغَايَةُ.

د ميدان آخر ته لاړو. هلته يې يو بانس ودرولو. وې ويل دا به انتهاء وي

د الفاظو تحقيق

قُومُوا	صيغه جمع مذکر. فعل امر حاضر معروف، باب (ن) درېدل
خَطًّا	کرښه، نخښه. (ج) خُطُوطٌ
أَعُدُّ	صيغه واحد متکلم. فعل مضارع معروف. باب (ن) شمارل
سَوُّوا	صيغه جمع مذکر. فعل امر حاضر معروف. باب (تفعيل) سيده کول.
قَصَبَةٌ	هغه لرګی چې په ميدان کې د علامې او نخښې لپاره درول کېږي، (ج) قَصَبَاتٌ.

وَقَالَ الْأُسْتَاذُ: وَاحِدٌ وَوَقَفَ قَلِيلًا، ثُمَّ قَالَ: إِثْنَانِ، فَتَقَدَّمَ سَعِيدٌ

ښوونکي ووېل: يو. لږ ودرېدلو، بيا يې ووېل: دوه. سعيد مخکې شو.

فَقَالَ الْأُسْتَاذُ: تَأَخَّرْ يَا سَعِيدُ وَأَنَا أَعُدُّ مَرَّةً ثَانِيَةً فَقَالَ: وَاحِدٌ إِثْنَانِ ثَلَاثَةٌ

ښوونکي ووېل: اې سعيده! شاته شه: زه دويم ځل شمار نيسم، وې ويل: يو، دوه، درې

فَطَارَ الْأَوْلَادُ لَا يَدْرِي أَحَدٌ مَنِ السَّابِقُ حَتّٰى بَرَزَ مُحَمَّدٌ

هلکان والوتل. نه معلومېده چې څوک به مخکې شي. تردې چې محمد مخکې ووتلو.

وَهَتَفَ الْأَوْلَادُ بِاسْمِهٖ وَقَالُوا: مُحَمَّدٌ مُحَمَّدٌ وَصَاحُوا مَرْحٰى مَرْحٰى

هلکانو د هغه په نوم اواز وکړو، وې ويل محمد. محمد. محمد. چيغه يې کړه چې شاباش، شاباش،

وَكَانَ هُوَ الْمُجَلِّيَ وَلَحِقَهٗ إِبْرَاهِيمُ فَكَانَ هُوَ الْمُصَلِّيَ وَجَاءَ دَوْرِيْ

هغه تر ټولو وړاندې و. ابراهيم هم وروسته و چې دوهم ځای شو، زما نوبت راغلو.

وَكُنْتُ فِيْ أَقْرَانِيْ وَأَتْرَابِيْ، وَعَدَّ الْأُسْتَاذُ: وَاحِدٌ إِثْنَانِ ثَلَاثَةٌ

زه په خپلو همزولو او همسرو کې ودرېدم. ښوونکي شمار وکړو: يو. دوه. درې.

وَبُهِتُّ	لِلَيْلا	عِنْدَ	الْجَرْيِ	فَمَا	قَدَرْتُ	اَنْ	اَسْبِقَ	وَاَكُوْنَ الْمُجَلِّيَ
	ما د منډې په وخت کې لږ ځنډ وکړو . زه قادر نه شوم چې مخکې شم او تر ټولو وړاندې شم.							
وَوَصَلْنَا	اِلَى	الْغَايَةِ	وَكُنْتُ	الْمُصَلِّيَ.				
	او موږ انتهاء ته ورسېدلو او زه په دويم نمبر باندې ورسېدم							

دالفاظو تحقيق

بَرَّزَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (تفعيل) ظاهر بدل، ځرګندېدل، مخکې تلل.
مَرْحَىٰ مَرْحَىٰ	معنى يې ده. شاباش - شاباش
اَلْمُجَلِّيْ	اول نمبر راتلل، (صيغه واحد مذکر، بحث اسم فاعل باب تفعيل).
اَلْمُصَلِّيْ	دويم نمبر راتلل، (صيغه واحد مذکر، بحث اسم فاعل باب تفعيل)

فائده: د اَلْمُصَلِّيْ: پورتنۍ معنى به هغه وخت وي چې د دې مصدر (تصليةٌ) وي.

هَتَفَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (ض) اواز کول.
بُهِتُّ	صيغه واحد متكلم، فعل ماضي معروف، باب (افعال) شاته پاتې کېدل.

د لفظ دَوْر تشريح: (۱) نوبت، نمبر، د تېې نمبر، (۲) منزل (کور) چې په يو بل د پاسه وي. (۳) حصه، برخه، (۴) د کارونو لړۍ. (۵) چکر، د پګړۍ يو وَل، ويل کېږي: (اَلْفُ عَشَرَ دَوْرَ عِمَامَتِهِ).

ترجمه: د هغه د پګړۍ يو وَل خلاص شو

(۶) د منطقيانو په نزد د دوه شيانو په يو بل باندې موقوف کېدلو ته دور ويل کېږي. (ج) اَدْوَارٌ.

د نورو الفاظو سره د (دَوْر) استعمال:

اَلدَّوْرُ الْاَرْضِيُّ	د ابادۍ لاندينۍ برخه، ژېر زمينې.
اَلدَّوْرُ الْاِيْجَابِيُّ	مثبت رول/ کردار
اَلدَّوْرُ الْبُطُوْلِيُّ	زړور کردار.
اَلدَّوْرُ الْحَاسِمُ	پرېکنده عمل/ زبردست کار.
دَوْرَةُ الْاُمَمِ الْمُتَّحِدَةِ	د ملګرو ملتونو غونډه
دَوْرَةُ الْمَجْلِسِ النِّيَابِيِّ	د پارلمان اجلاس/ د کال معياري غونډه.
اَلدَّوْرَةُ الطَّارِئَةُ	بېړنۍ غونډه.

وَكَانَ خَالِدٌ يَتَجَلّٰى فَيَهْتِفُ الْأَوْلَادُ بِاسْمِهٖ وَقَالُوْا: مَرْحٰى مَرْحٰى

خالد تر ټولو وړاندې و. هلکانو د هغه په نوم اواز وکړو. ویل یې شاباش. شاباش.

وَكَانَ إِخْوَانِيْ يَظُنُّوْنَ أَنِّيْ أَنَا أَنْجَلِيْ لِأَنِّيْ خَفِيْفٌ وَسَرِيْعٌ

زما وروڼو به ګومان کولو چې زه به مخکښ یم؛ ځکه چې زه سپک او تېز یم.

وَأَجْرِيْ كُلَّ يَوْمٍ وَتَأَسَّفْتُ لَمَّا وَلٰكِنِّيْ قُلْتُ فِيْ نَفْسِيْ:

روزانه منډې کوم. خو ما افسوس وکړو. خو ما په خپل زړه کې وویل

سَأَسْبِقُ فِي الْمَرَّةِ الثَّانِيَةِ عِنْدَ انْتِهَاءِ السَّنَةِ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ

که د الله تعالی خوښه وه. نو زه به دویم ځل د کال په پای کې مسابقه کوم،

وَخَطَبَ الْأُسْتَاذُ فِي الْأَخِيْرِ وَقَالَ: إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلَّمَ

په اخر کې ښوونکي خطبه وکړه او وې ویل بې شکه نبي علیه السلام

كَانَ يُسَابِقُ وَكَانَ أَصْحَابُهٗ يَتَسَابَقُوْنَ وَيَنْبَغِيْ لِلْمُسْلِمِ أَنْ يَكُوْنَ

به مسابقه کول. صحابه کرامو به یې هم د منډو مسابقې کولې. مسلمان ته پکار ده چې هغه

نَشِيْطًا خَفِيْفًا قَوِيًّا حَتّٰى لَا يَعْجِزَ فِي الْجِهَادِ.

چست. سپک او قوي وي. ترڅو چې په جهاد کې عاجزه نه شي.

د الفاظو تحقيق

يَظُنُّوْنَ	صیغه جمع مذکر غائب. فعل مضارع معروف. باب ن ګومان کول
خَفِيْفٌ	معنی یې ده سپک ترې
لَا يَعْجِزُ	صیغه واحد مذکر غائب. فعل مضارع معروف. باب ض عاجز کېدل

اللغات الجديدة/ نوې لغتونه

سِبَاقُ الْحِصَانِ	د اسونو منډه
الْجَوْكِيْ	تکړه اس خغلونکی
كُرَةُ الْقَدَمِ	د پښو توپ/ فټ بال
خَطُّ التَّمَاسِ	د بونډرۍ لاین: هغه کرښه چې د لوبې د میدان حد بندي وړ باندې کېږي.
حَكَمٌ	ریفري/ پرېکړه کوونکی
حَارِسُ الْمَرْمٰى	ګول کیپر: توپ نیونکی

مُدَافِع	نیونکی/ فیلډر
رَامِي الْكُرَة	توپ ویشتونکی بالر
حَكَم	امپایر/ فیصله کوونکی
ضَارِبُ الْكُرَة	توپ وهونکی بیټسمین
مِضْرَب	بیټ/ ډنډه
شَبَكَة	نټه جال

اَلسَّاعَةُ

ساعت/ ګهړی

حَارِث	كَمِ السَّاعَةُ يَا أَخِي؟
حارث	اې وروره! څه وخت دی؟
سَعِيْد	اَلسَّاعَةُ عَشْرَةٌ وَرُبْعٌ أَلَيْسَ عِنْدَكَ سَاعَةٌ؟
سعید	پاؤ باندې لس بجې دي، ایا ساعت درسره نشته؟
حَارِث	بَلٰى! وَلٰكِنَّ سَاعَتِيْ وَاقِفَةٌ.
حارث	ولې نه! خو زما ساعت ولاړ دی.
سَعِيْد	لَعَلَّكَ مَا مَلَأْتَهَا.
سعید	شاید تا یې چابي/ کیلي ډکه کړې نه وي؟ بتري به نه لري؟
حَارِث	نَعَمْ! نَسِيْتُ أَنْ أَمْلَأَهَا الْبَارِحَةَ أَنَا أَمْلَأُهَا فِي السَّاعَةِ الْعَاشِرَةِ فِي اللَّيْلِ وَلٰكِنْ غَلَبَنِيْ عَيْنِيْ الْبَارِحَةَ لَقَدْ كُنْتُ تَعِبًا جِدًّا فَمَا مَلَأْتُهَا.
حارث	هو، زما هر شو چې پرون شپه یې ډکه کړم. زه یې د شپې له خوا لس بجې ډکوم. خو په ما باندې پرون شپه سترګې/ خوب غالب شو. زیات ستړی وم؛ نو ډک مې نه کړو.
سَعِيْد	هَلْ تُرِيْدُ ضَبْطَهَا بِسَاعَتِيْ؟
سعید	ایا ته یې زما د ساعت سره په تیم کول غواړې؟

دالفاظو تحقيق

اَلسَّاعَةُ	قيامت، گړی، ساعت، وخت، (ج) سَاعَاتٌ.
وَاقِفَةٌ	صيغه واحد مؤنث، بحث اسم فاعل، باب (ض) بند بدل.
مَامَلَأْتَ	صيغه واحد مذكر حاضر، فعل ماضي منفي معروف، باب (ف) ډكول.
اَلْبَارِحَةُ	معنى يې ده: تيره شوې شپه
ضَبْطٌ	مصدر، باب (ن) صحيح كول.

حَارِثٌ	نَعَمْ! اَضْبِطُهَا بِسَاعَتِكَ اِذَا كَانَتْ سَاعَتُكَ مُسْتَقِيْمَةً.
حارث	هو، زه يې ستا د ساعت سره سموم، خو كه ستا ساعت روغ (په تېم برابر) وي
سَعِيْدٌ	سَاعَتِيْ تَتَقَدَّمُ دَقِيْقَتَيْنِ فِيْ اَرْبَعٍ وَعِشْرِيْنَ سَاعَةً وَلَقَدْ ضَبَطْتُهَا الْبَارِحَةَ فَأَخَّرْتُهَا دَقِيْقَتَيْنِ.
سعيد	زما ساعت په څلرويشت ساعته كې دوه دقيقې مخكې كېږي، نو ما پرون په تايم وخت برابر كړو، نو دوه دقيقې مې وروسته كړو.
حَارِثٌ	كَمِ السَّاعَةُ الْآنَ؟
حارث	اوس وخت څه دى؟
سَعِيْدٌ	اَلْآنَ عَشْرٌ وَثُلُثٌ.
سعيد	اوس شل منټه د پاسه لس بجې دي.
حَارِثٌ	اَشْكُرُكَ اَرِنِيْ سَاعَتَكَ.
حارث	مهرباني وكړه، خپل ساعت ماته وښيه!
سَعِيْدٌ	تَفَضَّلْ.
سعيد	واخله.

دالفاظو تحقيق

اَضْبِطُهَا	صيغه واحد مذكر متكلم، فعل مضارع معروف، باب (ض) سمول.
دَقِيْقَتَيْنِ	صيغه تثنيه، دوه منټه، (مفرد) دَقِيْقَةٌ (ج) دَقَائِقُ.
فَأَخَّرْتُ	صيغه واحد متكلم، فعل ماضي معروف، باب (تفعيل) شاته كول.
عَشْرٌ وَثُلُثٌ	شل منټه د پاسه لس بجې.
تَفَضَّلْ	صيغه واحد مذكر، فعل امر حاضر، باب (تفعّل) مهرباني كول.

حَارِثٌ	إِنَّ سَاعَتَكَ ثَمِيْنَةٌ وَجَمِيْلَةٌ مِيْنَاؤُهَا جَمِيْلَةٌ وَعَقَارِبُهَا دَقِيْقَةٌ وَغِطَاؤُهَا نَظِيْفٌ بِكَمْ اشْتَرَيْتَهَا يَا سَعِيْدُ؟
حارث	ستا ساعت قيمتي، ښايسته. داخلي ميدان يې ښايسته. ستني يې ډېرې نرۍ او شيشه يې ډېره پاکه ده. اې سعيده په څو دې اخيستې دی؟
سَعِيْدٌ	أَهْدَاهَا إِلَيَّ أَخِي الْكَبِيْرُ وَأَخْبَرَنِيْ أَنَّهُ اشْتَرَاهَا بِثَلَاثِيْنَ رُبِيَّةً وَسَاعَتُكَ بِكَمْ؟
سعيد	ماته زما مشر ورور دالې کړی. ماته يې خبر راکړی چې هغه په دېرش روپۍ اخيستی او ستا ساعت په څو دی؟ (يعني څومره قيمت لري؟)
حَارِثٌ	سَاعَتِيْ أَرْخَصُ مِنْهَا فَإِنَّهَا بِعِشْرِيْنَ رُبِيَّةً لَقَدْ أَهْدَاهَا إِلَيَّ عَمِّيْ لَمَّا رَجَعَ مِنَ السَّفَرِ.
حارث	زما ساعت د هغه څخه ارزان دی؛ ځکه چې دا په شل روپۍ دی. ماته زما تره دالې کړی، کله چې د سفر څخه واپس کېدلو.

دالفاظو تحقيق

ثَمِيْنَةٌ	معنی يې ده: قيمتي شی، مذکر يې (ثَمِيْنٌ) راځي.
مِيْنَاءُ	داخلي ميدان، (ج) مَوَانِيْ، مَوَانٍ.
عَقَارِبُ	د ساعت ستنې، (مفرد) عَقْرَبٌ.
غِطَاءٌ	پرده/ سرپوش/ کور (دلته شيشه مراد ده)، (ج) أَغْطِيَةٌ.
أَرْخَصُ	صيغه واحد بحث اسم تفضيل، باب (ک) ارزانه کېدل.
أَهْدٰی	صيغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معروف. باب (افعال) دالې ورکول.

سَعِيْدٌ	إِنَّ السَّاعَةَ لَازِمَةٌ فِيْ هٰذَا الزَّمَانِ فَبِالسَّاعَةِ يَعْرِفُ التِّلْمِيْذُ مِيْعَادَ الْمَدْرَسَةِ وَبِالسَّاعَةِ يَعْرِفُ الْمُسْلِمُ أَوْقَاتَ الْجَمَاعَةِ وَالصَّلَوَاتِ.
سعيد	نن سبا ساعت ډېر ضروري دی، په ساعت سره شاګرد د مدرسې وخت پېژني. په ساعت سره مسلمان د جماعت او لمونځونو وخت پېژني.
حَارِثٌ	نَعَمْ! أَنَا كُنْتُ أَنَا أَتَأَخَّرُ عَنْ مِيْعَادِ الْمَدْرَسَةِ فِيْ بَعْضِ الْأَيَّامِ وَتَفُوْتُنِي الْجَمَاعَةُ أَحْيَانًا وَلٰكِنْ مُنْذُ اشْتَرَيْتُهَا لَمْ أَتَأَخَّرْ عَنِ الْمَدْرَسَةِ وَمَا فَاتَتْنِيْ جَمَاعَةٌ.
حارث	هو، زه به په څينو ورځو کې د مدرسې له وخت څخه ځنډېدلم، جماعت به راڅخه فوت کېدلو، خو د کوم وخت څخه چې مې ساعت اخيستی، د مدرسې څخه نه يم ځنډېدلی او نه هم جماعت راڅخه فوت شوی.

سُعِيْدُ	أَسْتَأْذِنُكَ لِأَنِّيْ مُسَافِرٌ الْيَوْمَ وَمِيْعَادُ الْقِطَارِ السَّاعَةُ اثْنَتَا عَشْرَةَ إِلَّا ...
سعيد	اوس زه ستا څخه اجازه غواړم، ځکه چې نن ورځ زه مسافر يم، د ريل ګاډي وخت لس دقيقې کم دولس بجې دی.

دالفاظو تحقيق

لَازِمَةٌ	صيغه واحد مؤنث، بحث اسم فاعل، باب (س) ضروري کيدل
أَوْقَاتٌ	(مفرد) وَقْتٌ، معنى يې ده: موده/ وخت
تَفُوْتُ	صيغه واحد مؤنث غائب، فعل مضارع معروف، باب (ن) ضايع کول
اِشْتَرَيْتُ	صيغه واحد متکلم، فعل ماضي معروف، باب (افتعال) اخيستل
أَسْتَأْذِنُ	صيغه واحد متکلم، فعل مضارع معروف، باب (استفعال) اجازه اخيستل

د مُذْ و مُنْذُ تحقيق:

د مُذْ او مُنْذُ د استعمال درې صورتونه دي:

اول د حرف جر په توګه:

(۱) که په ماضي زمانه باندې داخل وي، نو په معنى د (مِنْ) سره به وي.

(۲) که په حال زمانه باندې داخل وي، نو په معنى د (فِيْ) سره به وي

(۳) که په محدوده زمانه باندې داخل وي، نو په معنى د (مِنْ او إِلَى) سره به وي.

دويم د اسم په توګه:

دا دواړه الفاظ د اسم په توګه هغه وخت استعماليږي چې ددې وروسته اسم مرفوع وي، لکه: (مَا رَأَيْتُهُ مُذْ يَوْمَانِ).

فايده: ځينې محققين وايي: دا دواړه به په هغه صورت کې ظرف وي چې اضافت يې جملې ته شوى وي، په دې صورت کې به فعل حذف کولى شي او فاعل به باقي پرېښودلى شي. تقدير: جارت به داسې شي: (أَيْ مَا رَأَيْتُهُ مُذْ يَوْمَانِ).

يم د ظرف په توګه:

جمهور قول دا دی: که ددې وروسته جمله اسميه يا فعليه وي، نو دواړه به ظرف وي

اَلْوَقْتُ وَاسِعٌ فَلَيْسَ الْآنَ اِلَّا عَشْرٌ وَنِصْفٌ وَالْمَحَطَّةُ قَرِيْبَةٌ مِّنْ بَيْتِكَ

وخت زيات دی. اوس خو (ايله) لس نيمي بجې دي. اسټېشن هم ستا کور ته نږدې دی.

نَعَمْ! اَلْوَقْتُ وَاسِعٌ وَلٰكِنْ لِيْ شُغْلٌ فِي السُّوْقِ وَلَمْ اَرْبِطِ الْحَوَائِجَ اِلَى الْآنَ.

هو، وخت زيات دی، خو زه په بازار کې کار لرم. تر اوسه مې د خپل سفر سامان نه دی تړلی.

عَلٰى بَرَكَةِ اللّٰهِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ

. الله تعالى دې برکت پکې نازل کړي. السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ

وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته

دالفاظو تحقيق

	صيغه واحد مذكر، بحث اسم فاعل، باب (س) پراخه کېدل. گنجايش کېدل
	صيغه واحد متكلم، فعل مضارع معروف، باب (ض) تړل

اللغات الجديدة/ نوي لغتونه

...السَّاعَاتِ	د ساعتونو دکان	اَلزُّجَاجُ	د ساعت شيشه
...السَّاعَةِ	د ساعت کيلي	تَنْظِيْفُ السَّاعَةِ	د ساعت صفايي
...الْعَرْضِ	شوکيس	تَشْكِيْلَةُ السَّاعَةِ	د ساعت ډيزاين
...السَّاعَةِ	د ساعت وارنټي	سَاعَةٌ مُنَبِّهَةٌ	بيداره کوونکی ساعت
...الْكَفَالَةِ	وارنټي کارډ	سَاعَةُ الْحَائِطِ	د دېوال ساعت

اَلْفُطُوْرُ

الفطور/ د سهار ډوډی/ ناشته

...مِنْ اَبِيْ وَاُمِّيْ اَنْ اَصُوْمَ يَوْمًا مِّنْ رَمَضَانَ فَقَالَ اَبِيْ:

...د خپل پلار او مور څخه وغوښتل چې د رمضان يوه ورځ روژه ونيسم، پلار راته وويل

...صَغِيْرٌ ضَعِيْفٌ لَاتَصْبِرُ عَلَى الْجُوْعِ وَالْعَطَشِ وَقَالَتْ اُمِّيْ:

...ووړوکی (او) کمزوری يې، لوږه او تنده نه شې برداشت کولی، مور مې راته وويل:

هٰذِهٖ اَيَّامُ صَيْفٍ وَالصَّوْمُ فِيْهَا شَدِيْدٌ اِصْبِرْ حَتّٰى تَكُوْنَ اَيَّامُ شتاء

دا د اوړي ورځې دي. روژې پکې سختې دي. صبر وکړه تر څو د ژمي ورځې شي.

وَلٰكِنِّيْ بَكَيْتُ وَقُلْتُ: قَدْ صَامَ مَحْمُوْدٌ وَهُوَ فِيْ سِنِّيْ

خو ما ژړل. ما وویل محمود روژه نیولې وه او هغه زما همزولی و.

وَقَدْ صَامَ اِسْمٰعِيْلُ وَهُوَ اَصْغَرُ مِنِّيْ وَلِمَاذَا اَنْتَظِرُ اَيَّام

اسماعیل هم روژه نیولې وه او هغه تر ما کشر دی، نو زه ولې انتظار وکړم؟

دالفاظو تحقیق

اَلْفُطُوْرُ	د فا، په ضمې سره. معنی یې ده روژه ماتول. د فا، په فتحې سره. معنی یې ده. ناشته
اَصُوْمُ	صیغه واحد متکلم. فعل مضارع معروف، باب (ن) روژه نیول.
لَاتَصْبِرْ	صیغه واحد مذکر حاضر. فعل مضارع معروف، باب (ض) بند پدل، صبر کول.
سِنٌّ	معنی یې ده: غابښ، عمر، (ج) اَسْنَانٌ.
اَنْتَظِرُ	صیغه واحد متکلم. فعل مضارع، باب (افتعال) انتظار کول.

وَقَدْ رَاَيْتُ مَحْمُوْدًا لَمَّا صَامَ لَبِسَ ثِيَابًا جَدِيْدًا

محمود مې ولیدلو، کله چې یې روژه ونیوله، نو نوي جامې کالي یې اغوستلي و.

وَصُنِعَتْ لَهٗ اَطْعِمَةٌ لَذِيْذَةٌ وَقُدِّمَ لَهٗ اَقَارِبُهٗ هَدَايَا وَجَوَائِز

د هغه لپاره خوندور خوراړه تیار شول. خپلوانو یې ډالۍ او تحفې ورته وړاندې کړې.

وَاجْتَمَعَ نَاسٌ كَثِيْرٌ وَكَانَ مَحْمُوْدٌ لَهٗ شَرَفٌ كُلٌّ يَتَحَادَثُ مَعَهٗ وَيَتَقَرَّبُهٗ اِلَيْهِ

ډېر خلک جمع شول. د محمود ډېر قدر عزت وشو. هر چا به خبرې ورسره کولې، ځان ته به یې نژدې کولو.

وَقَدْ سَمِعْتُ اَنَّ الْوَلَدَ الصَّغِيْرَ اِذَا صَامَ كَانَ لِوَالِدَيْهِ الْاَجْرُ وَالثَّوَاب

ما اورېدلي چې وړوکی ماشوم کله روژه ونیسي، نو اجر او ثواب یې د مور او پلار وي.

وَاُحِبُّ اَنْ يَنَالَ اَبِيْ وَ اُمِّيْ الْاَجْرَ وَالثَّوَاب

.. زه خوښوم چې زما پلار او مور اجر او ثواب حاصل کړي.

دالفاظو تحقیق

صُنِعَتْ	صیغه واحد مؤنث غائب، فعل ماضي مجهول، باب (ف) جوړول، تیارول.
اَطْعِمَةٌ	خوراک. (مفرد) طَعَامٌ

[illegible]	صيغه واحد مذكر غائب. فعل ماضي معروف. باب تفعيل وراندې كول
[illegible]	انعام/ دالى/ تحفه. مفرد، جَائِزَةٌ
[illegible]	صيغه واحد مذكر غائب. فعل مضارع معروف. باب تفعيل نژدې كول
[illegible]	صيغه واحد مذكر غائب. فعل ماضي معروف. باب ن روزه نيول
[illegible]	صيغه واحد مذكر غائب. فعل مضارع معروف. باب ف، موندل

أَنِّي وَرَضِيَتْ أُمِّي وَدَعَتْ أُمِّي أَصْدِقَائِي وَأَتْرَابِي

زما پلار (خبره) ومنله او مور مې راضي شوه. مور مې زما ملګري او همزولي زما سره د

...سَحَرٍ مَعِي فَبَاتُوا فِي بَيْتِي وَفِي السَّاعَةِ الرَّابِعَةِ فِي اللَّيْلِ اسْتَيْقَظْنَا

پښمني كولو لپاره راوبلل. هغوى زما په كور كې شپه تېره كړه. د شپې څلور بجې مونږ ويښ كړو.

...قَدَّمَتْ أُمِّي طَعَامًا لَذِيذًا فَأَكَلْنَا وَشَبِعْنَا وَنِمْنَا قَلِيلًا وَاسْتَيْقَظْنَا لِصَلَاةِ الصُّبْحِ.

زما مور خوندور خواړه راوړه، مونږ وخوړل او ماړه شولو. لږ وخت ويده شولو. د سهار لمانځه ته ويښ شولو

دالفاظو تحقيق

[illegible]	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف. باب (س) قبلول.
[illegible]	صيغه واحد مؤنث غائب، فعل ماضي معروف. باب (ن) دعاء كول. رابلل. غوښتل
[illegible]	د پښمني په وخت دروډي خوړل او اوبه څښل/ پښمني
[illegible]	صيغه جمع متكلم، فعل ماضي معروف. باب (س) مړېدل.
[illegible]	صيغه جمع متكلم، فعل ماضي معروف، باب (س) خوب كول.

...فِي النَّهَارِ أَرَادَتْ أُمِّي أَنْ تَشْغَلَنِي فَلَا أَذْكُرَ الْجُوعَ وَ الْعَطَشَ

زما مور اراده وكړه چې د ورځې له خوا ما مصروف كړي څو لوږه او تنده راته ياده نه شي،

...فَأَرْشَدَتْنِي بِأَشْغَالٍ لَيْسَ فِيهَا تَعَبٌ وَ كُنْتُ فِي شُغْلٍ وَحَدِيثٍ مَعَ الْأَصْدِقَاءِ وَالْأَتْرَابِ

نو هغې د داسې مصروفيت حكم وكړو چې ستړيا پكې نه وي. زه د ملګرو او همزولو سره په كار او خبرو كې وم

...حَتَّى انْتَصَفَ النَّهَارُ وَمَا شَعَرْتُ بِجُوعٍ وَلَا عَطَشٍ وَفِي الظَّهِيرَةِ شَعَرْتُ بِظَمَاءٍ

...ورځ نيمايي شوې وه، په لوږه او تنده باندې خبر نه وم، خو د ماسپښين په وخت مې لږه تنده

...وَحَرٍّ فَاغْتَسَلْتُ فَذَهَبَ عَنِّي الظَّمَاءُ وَاسْتَرَحْتُ.

او ګرمي محسوس كړه، نو ولمبېدم، زما څخه تنده لاړه او په ارام شوم.

د الفاظو تحقيق

تَشُغَلُ	صيغه واحد مؤنث غائب، فعل مضارع معروف، باب (ن) مشغولېدل، مصروف کېدل
اَلْعَطَشُ	تنده، (عَطِشَ يَعْطِشُ عَطَشًا) باب (ض) تږى کېدل
حَدِيثٌ	معنى يې ده: خبرې اترې، (ج) أَحَادِيثٌ.
اِنْتَصَفَ	صيغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معروف، باب (افتعال) نيمايي کېدل
مَاشَعَرْتُ	صيغه واحد متکلم، فعل ماضي منفي معروف، باب (ن) محسوس کول/ پوهېدل
اِغْتَسَلْتُ	صيغه واحد متکلم، فعل ماضي معروف، باب (افتعال) لمبېدل/ غسل کول
اَلظَّمَاءُ	مصدر. باب (ف) تږى کېدل
اِسْتَرَحْتُ	صيغه واحد متکلم، فعل ماضي معروف، باب (استفعال) راحت مونډل/ آرام مونډل

وَفِي الْعَصْرِ شَعَرْتُ بِالْجُوْعِ وَرَأَيْتُ أَطْعِمَةً وَثِمَارًا وَفَوَاكِهَ وَقَالَ لِيْ أَحَدُ الْأَصْدِقَاءِ

مازديگر مې لوږه محسوس کړه، خوراکونه، مختلفې مېوې مې وليدلې، يو ملگري راته وويل

لَا بَأْسَ أَنْ تَأْكُلَ شَيْئًا وَلَا يَرَاكَ الْآنَ أَحَدٌ وَقَدْ أَكَلْتُ أَيْضًا

هيڅ پروا نه کوي. که ته څه شی وخورې. اوس دې هيڅوک نه ويني، ما هم خوراک وکړو.

لٰكِنْ كُنْتُ صَائِمًا: قُلْتُ: نَعَمْ! لَا يَرَانِيْ هُنَا أَحَدٌ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَرَانِيْ

کله چې زما روژه وه، ما وويل: هو. څوک مې نه ويني، مگر الله تعالى مې ويني.

وَسَكَتَ صَدِيْقِيْ وَصَبَرْتُ عَلَى الْجُوْعِ

نو زما ملگرى چوپ شو، ما په لوږه باندې صبر وکړو.

د الفاظو تحقيق

تَأْكُلُ	صيغه واحد مذکر حاضر، فعل مضارع معروف، باب (ن) خوراک کول
لَايَرَاكَ	صيغه واحد مذکر غائب، فعل مضارع معروف، باب (ف) کتل
سَكَتَ	صيغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معروف، باب (ن) چوپ پاتې کېدل.
صَبَرْتُ	صيغه واحد متکلم، فعل ماضي معروف، باب (ض) صبر کول

د لفظ لا بَاْسَ تحقيق:

(لا بَاْسَ) هيڅ پروا نه کوي، د نحوي ترکيب په اعتبار سره (لا) د نفي جنس لپاره ده او (بَاْسَ) يې اسم دی او خبر يې محذوف دی، مثلا

لا بَاْسَ بِهٖ	په هغه باندې هيڅ اعتراض نشته
لا بَاْسَ فِيْهِ	(أَيْ لَا حَرَجَ فِيْهِ) په دې کې هيڅ حرج -خيره- نشته.
لا بَاْسَ عَلَيْكَ	په تا باندې هيڅ وېره نشته
لا بَاْسَ أَنْ تَجْمَعُوْا	ستا په راوړلو کې هيڅ مشکل نشته

تنبيه: زيات وخت د (لا بَاْسَ) په ځای (مَا بَاْسَ) هم استعمالېږي او (مَا بَاْسَ) په معنی د (لا بَاْسَ) سره دی، مثلا: (مَا بَاْسَ عَلَيْكَ بمعنى لا بَاْسَ عَلَيْكَ).

وَقُبَيْلَ الْغُرُوْبِ حَضَرَ أَصْدِقَاءُ أَبِيْ وَأَقَارِبُنَا وَنُقِلَ الْفُطُوْرُ إِلَى الْمَسْجِدِ

د لمر د ډوبېدو څخه وړاندې زما د پلار ملګري او خپلوان راغله، روژه ماتي جومات ته يوړل شو.

وَكَانَ الْوَقْتُ شَدِيْدًا عَلَيَّ فَكُنْتُ أَرْمُقُ الْمُؤَذِّنَ وَأَعُدُّ الدَّقَائِقَ

دا وخت په ما باندې ډېر سخت شو، ما به مؤذن ته کتل، دقيقې (منټونه) به مې شمېرل.

فَلَمَّا أَذَّنَ أَفْطَرْتُ بِتَمْرَةٍ ثُمَّ أَكَلْتُ وَشَرِبْتُ وَقُلْتُ

کله چې اذان وشو، په يوه خورما مې روژه ماته کړه، بيا مې خوراک او څښاک وکړو، ما وويل:

كَمَا عَلَّمَنِيْ أَبِيْ: ذَهَبَ الظَّمَاءُ وَابْتَلَّتِ الْعُرُوْقُ وَثَبَتَ الْأَجْرُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ

څرنګه چې زما پلار راته ښودلې وه: تنده لاړه، رګونه لانده شول، اجر ثابت شو، که د الله تعالى خوښه وه.

وَمَا أَكَلْتُ طَعَامًا أَلَذَّ مِنْ طَعَامِ ذٰلِكَ الْيَوْمِ وَمَا كَانَ يَوْمٌ أَجْمَلَ فِيْ حَيَاتِيْ مِنْ ذٰلِكَ الْيَوْمِ

ما د هغې ورځې څخه زيات خوږ خوراک نه دی کړی، زما په ژوند کې تر هغې ښايسته ورځ نه وه.

د الفاظو تحقيق

نُقِلَ	صيغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي مجهول، باب (ن) نقل کول.
أَرْمُقُ	صيغه واحد متکلم، فعل مضارع معروف، باب (ن) په توجه سره کتل/ په زير زير کتل
أَعُدُّ	صيغه واحد متکلم، فعل مضارع معروف، باب (ن) شمار کول.
تَمْرَةٌ	معنى يې ده: خورما، (ج) تَمَرَاتٌ

إِئْتَلَتْ	صيغه واحد مؤنث غائب، فعل ماضي معروف، باب (افتعال) لوند والى
اَلْعُرُوْقُ	معنى يې ده. رګونه، (مفرد) عِرْقٌ
آلَذُّ	صيغه واحد . بحث اسم تفضيل. باب (ن) بنايست.
ثَبَتَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (ن) ثابت شو
اَجْمَلُ	صيغه واحد . بحث اسم تفضيل، باب (ن) بنايست.
حَيَاتِيْ	زما ژوند

اللغات الجديدة/ لوي لغتونه

حَفْلَةُ الْفُطُوْرِ	د روژه ماتي پروګرام.
حَفْلَةُ الْعَشَاءِ	د ماسخوتن پروګرام.
نِظَامٌ خَاصٌّ لِلْاَكْلِ	د پرهيز ډوډى
حَفْلَةُ عِيْدِ مِيْلَادٍ	د پيدايش د ورځې ډوډى

اَلْاَمَانَةُ

امانت

إِسْتَاجَرَ	رَجُلٌ	قَوْمًا،	فَاشْتَغَلُوْا	وَلَمَّا

يو كس د ډېر خلک په مزدورى باندې ونيول، نو ټول مزدوران مصروف شول، په كار يې پيل وكړ،

وَلَمَّا	فَرَغُوْا	مِنْ	شُغْلِهِمْ	جَاؤُا	إِلَيْهِ	فَأَعْطَاهُمْ	أُجُوْرَهُمْ	

كله چې دوى له خپل كاز څخه فارغ شول، نو ټول هغه كس ته راغلل، هغه مزدوري وركړه،

وَكَانَ	فِيْهِمْ	رَجُلٌ	اِشْتَغَلَ	مَعَهُمْ	وَلٰكِنَّهُ	لَمْ	يَأْخُذْ	اَجْرَهُ	وَتَرَكَهُ	وَذَهَبَ

په هغوى كې يو كس ؤ چې د هغوى سره مصروف ؤ. خو خپله مزدوري يې وانخيسته. هغه يې پرېښوده او لاړ

د الفاظو تحقيق

اَلْاَمَانَةُ	امانتداري، امانت، ديانتداري. (ج) اَمَانَاتٌ
إِسْتَاجَرَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (استفعال) مزدوري اخيستل
إِشْتَغَلُوْا	صيغه جمع مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (افتعال) مصروف كېدل
أَجْرٌ	مزدوري، ثواب، بدله، (ج) أُجُوْرٌ
يَأْخُذُ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل مضارع معروف، باب (ن) اخيستل، وصولول

وَكَانَ الرَّجُلُ كَرِيمًا أَمِينًا فَلَمْ يَأْكُلْ أُجْرَتَهُ وَلَمْ يَنْتَفِعْ بِهَا

هغه سړی سخي او امانتدار و. هغه يې مزدوري ونه خوړل. نه يې ترې کومه فايده واخيسته.

وَنَمَّاهَا وَوَضَعَهَا اللّٰهُ فِي التِّجَارَةِ وَثَمَّرَهَا

د الله تعالى خخه وو بريدلو. په تجارت کې يې کېښودله. هغه يې زياته کړه

وَكَثُرَتِ الْأُجْرَةُ كَثِيرًا وَكَثُرَ مِنْهَا الْأَمْوَالُ.

او هغه اجرت هم ډېر زيات شو او مال هم ډېر زيات شو

د الفاظو تحقيق

كَرِيمًا	صيغه واحد ، بحث اسم فاعل. باب (ک) مهرباني کوونکی
أَمِينًا	صيغه واحد ، صفت مشبّه. معنى يې ده امانتدار
يَنْتَفِعْ	صيغه واحد مذكر غائب. فعل مضارع معروف. باب (افتعال) ګټه اخيستل
التِّجَارَةُ	تجارت، کاروبار
ثَمَّرَ	صيغه واحد مذكر غائب. فعل ماضي معروف. باب (تفعيل) زياتول
كَثُرَ	صيغه واحد مذكر غائب. فعل ماضي معروف. باب (ک) زياتېدل

وَبَعْدَ حِيْنٍ جَاءَهُ الْأَجِيْرُ وَهُوَ خَائِفٌ أَنْ لَا يَعْرِفَهُ الرَّجُلُ

له موده وروسته هغه مزدور واپس راغلو. په داسې حال کې چې هغه وېرېدلو چې هغه کس به يې ونه پېژني،

فَقَدْ طَالَتِ الْمُدَّةُ وَمَضَى زَمَنٌ كَثِيْرٌ وَمَاذَا يَفْعَلُ الْمِسْكِيْنُ

ددې وجې چې زيات وخت او زياته موده تېره شوې وه، دا غريب (بېچاره) به څه کوي.

إِنْ لَمْ يَعْرِفْهُ الرَّجُلُ أَوْ نَسِيَ قِصَّتَهُ جَاءَ الْأَجِيْرُ وَهُوَ لَا يَطْمَعُ

که هغه سړی يې ونه پېژني يا يې د هغه کيسه هېره شوې وي. مزدور راغلو. هغه اميد نه درلود.

إِلَّا فِي أُجْرَتِهِ الْقَلِيْلَةِ دَرَاهِمَ مَعْدُوْدَةٍ وَإِذَا جَحَدَهَا الرَّجُلُ وَلَمْ يَدْفَعْهَا رَجَعَ خَائِبًا

مګر د خپلې لږې مزدورۍ. څو دراهمو. که هغه سړي انکار وکړي. ورېې نه کړي. نو نا اميده به واپس شي

د الفاظو تحقيق

الْأَجِيْرُ	مزدور، نوکر. (ج) أُجَرَاءُ
طَالَتْ	صيغه واحد مؤنث غائب. فعل ماضي معروف. باب (ن) اوږدېدل.
لَا يَطْمَعُ	صيغه واحد مذكر غائب. فعل مضارع منفي معروف. باب (ف) لالچ کول

مَعْدُودَةٍ	صيغه واحد مؤنث. بحث اسم مفعول، باب (ن) معنى يې دا: شمارل
جَحَدَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (ف) انكار كول
غَائِبًا	صيغه واحد مذكر. بحث اسم فاعل، باب (ن) نقصان كېدل

وَلٰكِنَّهُ جَاءَهُ لِأَنَّهُ مُحْتَاجٌ إِلَىٰ هٰذِهِ الدَّرَاهِمِ، فَقَالَ: يَا عَبْدَ [اللّٰه]

خو هغه مزدور دې كس ته راغلو؛ ځكه چې هغه دې دراهمو ته محتاج ؤ، وې ويل اې د الله بنده

أَدِّ إِلَيَّ أَجْرِيْ فَمَا جَحَدَ الرَّجُلُ وَمَا أَنْكَرَ، بَلْ قَالَ: كُلُّ مَا تَرٰى مِنَ [الْإِبِلِ]

ماته زما اجرت راكړه، هغه كس نه انكار وكړو او نه يې منع كړو، بلكې هغه ووېل: دا څومره اوښان

وَالْبَقَرِ وَالْغَنَمِ وَالرَّقِيْقِ مِنْ أَجْرِكَ دُهِشَ الرَّجُلُ

غواګانې، مېږې/ګډې او غلامان چې وينې، دا ټول ستا له مزدورۍ څخه دي، هغه سړي حواس وبايلل

وَتَحَيَّرَ وَظَنَّ أَنَّهُ يَسْتَهْزِءُ بِهٖ فَقَالَ: يَا عَبْدَ اللّٰهِ لَا تَسْتَهْزِءْ [الخ]

او حيران شو، ګومان يې وكړو چې هغه وربانديې خاندي، وې ويل: اې د الله بنده! په ما باندې مه خانده

دالفاظو تحقيق

أَدِّ	صيغه واحد مذكر امر حاضر، باب (ض) ادا كول.
مَا أَنْكَرَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (افعال) انكار كول
اَلْإِبِلُ	معنى يې دا: اوښ، (د ب په سكون سره هم راځي: إِبْل) جمع يې آبَال راځي، مفرد لپاره نه استعمالېږي
اَلْبَقَرُ	معنى يې دا: غوا/غويى، (اسم جنس) مفرد: بَقَرَةٌ (ج) بَقَرَاتٌ، بَقَرٌ، بُقُرٌ، أَبْقَار، أَبَاقِر.
اَلْغَنَمُ	معنى يې دا: وزې/مېږې، (دا لفظ د مصدر په توګه استعمالېږي) مفرد: شَاةٌ، (ج) أَغْنَامٌ، غُنُوْمٌ، أَغَانِمُ.
اَلرَّقِيْقُ	غلام، (ج) أَرِقَّاءُ
دُهِشَ	صيغه واحد مذكر غائب. فعل ماضي مجهول، باب (س) حيران پاتې كېدل.
تَحَيَّرَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (تفعّل) حيرانېدل.
يَسْتَهْزِءُ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل مضارع معروف، باب (استفعال) ريشخند وهل/ خندل/ ټوكې كول/ مذاق كول

قَالَ الرَّجُلُ: لَا أَسْتَهْزِءُ بِكَ، فَكُلُّ مَا تَرَى مِنَ الْإِبِلِ وَالْبَقَرِ

سړي وويل. زه په تا باندې نه خاندم. دا هر څه چې له اوښانو، غويانو،

وَالْغَنَمِ وَالرَّقِيْقِ لَكَ فَإِنِّيْ قَدْ وَضَعْتُ أُجُوْرَكَ فِي التِّجَارَةِ

ګډو او غلامانو وينې، دا ستا دي؛ ځکه چې ما ستا مزدوري په تجارت کې اېښې وه.

وَثَمَّرْتُهَا وَ أَثْمَرَتْ هٰذِهِ الْإِبِلَ وَالْبَقَرَ وَالْغَنَمَ وَالرَّقِيْقَ

هغه مې زيات کړه، دا اوښان، غواګانې، ګډې او غلامان يې ګټه ده.

فَأَخَذَ الْأَجِيْرُ الْإِبِلَ وَالْبَقَرَ وَالْغَنَمَ وَالرَّقِيْقَ وَلَمْ يَتْرُكْ مِنْهَا شَيْئًا

مزدور اوښان، غواګانې، ګډې او غلامان واخيستل، د هغې څخه يې هيڅ شی پرېنښودل.

وَلَقَدْ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَلٰى هٰذِهِ الْأَمَانَةِ وَالْوَفَاءِ وَالْكَرَمِ

الله تعالى ددې سړي د امانتدارۍ، دياتدارۍ او وفادارۍ څخه راضي شو.

دالفاظو تحقيق

رَضِيَ	صيغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معروف، باب (س) راضي کېدل، خوشحالېدل
اَلْوَفَاءُ	معنى يې ده: ښايسته سلوک، وفاداري
اَلْكَرَمُ	معنى يې ده: شرافت، طيّب، د صفت په توګه د ګرَمُ لفظ استعمالېږي.

فايده: دا لفظ د واحد، جمع، مذکر او مؤنث ټولو لپاره استعمالېږي، مثلا: رَجُلٌ كَرَمٌ نِسَاءٌ كَرَمٌ أَرْضٌ كَرَمٌ.

وَلَقَدْ وَقَعَ هٰذَا الرَّجُلُ الْأَمِيْنُ مَرَّةً فِيْ غَارٍ وَانْطَبَقَتْ عَلَيْهِ صَخْرَةٌ فَلَمَّا يَئِسَ مِنَ الْحَيَاةِ

يو ځل دا سړی غار ته داخل شو، غټ کاڼي د غار خوله بنده کړه، کله چې هغه د ژوند څخه نا اميده شو،

دَعَا اللهَ بِهٰذَا الْعَمَلِ الصَّالِحِ وَقَالَ: اَللّٰهُمَّ إِنْ كُنْتُ فَعَلْتُ ذٰلِكَ

نو د الله تعالى څخه يې ددې نېک عمل په وسيله دعاء وکړه او وې ويل. اې الله! که هغه عمل

اِبْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَاكْشِفْ عَنَّا هٰذِهِ الصَّخْرَةَ

ما خالص ستا د رضاء لپاره کړی وي، نو زمونږ څخه دا کاڼی لرې کړه،

فَأَجَابَ اللهُ دَعْوَتَهُ وَأَعَانَهُ.

الله تعالى د هغه دعاء قبوله کړه او د هغه مرسته يې وکړه.

د الفاظو تحقیق

اَلْاَمِیْنُ	معنی یې ده امانتدار، ج، اُمَنَاءُ
غَارٌ	غار، سوری، ج، اَغْوَارٌ، غِیْرَانٌ
اِنْطَبَقَتْ	صیغه واحد مؤنث غائب، فعل ماضي معروف، باب (انفعال) بند پدل
صَخْرَةٌ	د غره لوی کاڼی، ذیره، ج صَخْرٌ، صَخَرٌ، صُخُوْرٌ، صُخُوْرَةٌ
يَيْئَسُ	صیغه واحد مذکر غائب، فعل مضارع معروف، باب (حَسِبَ) نا امیده کېدل
اِكْشِفْ	صیغه واحد مذکر، فعل امر حاضر، باب (ض) خلاصول

اللغات الجديدة / نوي لغتونه

شُغْلٌ	کار، مصروفیت، حالت، دنده/ وظیفه
شُغْلُ الْاِبْرَةِ	د ګل وېستلو کار
شُغْلُ الْبَالِ	زړه مصروف ساتل
اَلشُّغْلُ الشَّاغِلُ	مهم مصروفیت
شُغْلٌ شَاقٌّ	سخت کار
شُغْلٌ يَدٍ	د لاس کار
شُغْلَةٌ	کار، مشغله
اَلشَّغِيْلُ	کاریګر
شَغَّالٌ	مزدور، کاریګر، ډیر زیات مصروف
مَشْغُوْلٌ	مصروف
مَشْغَلٌ	ورکشاپ، د خای کار
اَلْاَمِیْنُ	امانتدار، دیانتدار، د اعتماد ور، بې ضرره، محافظ، نګران، ج اُمَنَاءُ
اَمِیْنُ الصُّنْدُوْقِ	خزانچي، تحویلدار
اَلْاَمِیْنُ الْعَامُّ	عمومي ناظم
تَاْمِیْنٌ عَلَی الْحَیَاةِ	د ژوند بیمه کول، لایف انشورنس
شِرْكَةُ التَّاْمِیْنِ	بیمه کمپنی/ د انشورنس کمپنی

اَلصَّيْدُ

ښکار

خَرَجْتُ يَوْمَ عُطْلَةٍ مَعَ صَيَّادِيْنَ عِنْدَهُمْ بَنَادِقُ وَ سَكَاكِيْنُ

د رخصتۍ په ورځ د ښكاريانو سره ووتلم. د هغوی سره ټوپكونه او چاړې وې.

خَرَجْنَا مُبَكِّرِيْنَ فِي الصَّبَاحِ لَمْ تَطْلُعِ الشَّمْسُ، وَكَانَ مَعِيَ كَثِيْرٌ مِنْ أَتْرَابِيْ وَ أَصْدِقَائِيْ

موږ سهار وختي ووتلو چې لمر راختلی نه ؤ. زما سره ډېر همزولي او ملګري وو.

أَخَذْنَا غَدَائَنَا مَعَنَا لِنَتَغَدّٰى إِذَا غَلَبَنَا الْجُوْعُ

د موږ د ماسپښين ډوډۍ له ځان سره واخيسته. ددې لپاره چې كله په موږ باندې لوږه زیاته شي، نو ډوډۍ به وخورو.

وَكُنَّا نُرِيْدُ أَنْ نَرْجِعَ فِي الْمَسَاءِ وَلَمْ نَزَلْ نَمْشِيْ فِي الْحَرِّ وَالشَّمْسِ حَتّٰى تَعِبْنَا

موږ اراده كړې وه چې ماښام واپس راشو، موږ به ګرمۍ او لمر كې روان وو، تردې چې موږ ستړي شو.

وَغَلَبَنَا الْجُوْعُ وَالظَّمَاءُ وَكَانَ الْغَدَاءُ مَعَ خَلِيْلٍ وَقَدْ ضَلَّ الطَّرِيْقَ

په موږ باندې لوږه او تنده غالبه شوه، د ماسپښين خوراک د خليل سره ؤ. هغه لاره ورکه کړې وه.

وَمَا وَجَدْنَا طَعَامًا وَلَا مَاءً

لهٰذا موږ ته ډوډۍ او اوبه ملاو نه شوې.

د الفاظو تحقيق

اَلصَّيْدُ	مصدر، باب (ض) ښکار کول
صَيَّادِيْنَ	مفرد. صَيَّادٌ، معنى يې ده: ښكاريان.
بَنَادِقُ	مفرد: بُنْدُقِيَّةٌ
سَكَاكِيْنُ	مفرد: سِكِّيْنٌ، معنى يې ده: چاړه، چاقو.
تَطْلُعُ	صيغه واحد مؤنث غائب، فعل مضارع معروف، باب (ن) لمر راپورته كېدل.
ضَلَّ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (ض) هېرېدل
نَمْشِيْ	صيغه جمع متكلم، فعل مضارع معروف، باب (ض) تلل
اَلْحَرُّ	تپش، ګرمي، د ګرمۍ سختي
مَاوَجَدْنَا	صيغه جمع متكلم، فعل ماضي منفي معروف، باب (ض) موږ ونه موندل

وَانْتَصَفَ النَّهَارُ وَجَلَسْنَا فِيْ ظِلِّ شَجَرَةٍ نَنْتَظِرُ خَلِيْلًا وَبَرَزَ خَلِيْلٌ مِنْ نَعَمٍ

ورځ نيمايي شوه، د ونې په سيوري کې کښېناستلو. د خليل انتظار مو کولو. خليل د لرې ځخه راښکاره شو.

فَنَادَيْنَاهُ بِاسْمِهِ وَحَمِدْنَا اللّٰهَ وَتَغَدَّيْنَا

مونږ د هغه په نوم باندې اواز وکړو. د الله تعالى حمد مو ادا کړو او د ماسپښين دودى مو وخوړله

وَاسْتَرَحْنَا قَلِيْلًا ثُمَّ خَرَجْنَا وَدَخَلْنَا فِي الْغَابَةِ وَوَجَدْنَا آثَارَ بَقَرِ الْوَحْشِ

مونږ لږ ارام وکړو، بيا ووتلو، بيا ځنګل ته داخل شولو، مونږ د وحشي غوا نخښې ولېدلې.

فَتَفَرَّقْنَا وَجَلَسْنَا بِالْمِرْصَادِ وَخَرَجَتْ بَقَرَةٌ مِنَ الْأَشْجَارِ وَكَانَ السَّيِّدُ إِسْمَاعِيْلُ مُسْتَعِدًّا

مونږ جدا جدا شولو، مورچې ته کښېناستلو، له ونو ځخه غوا راووتله، قدرمن اسماعيل تيار ؤ.

فَصَوَّبَ إِلَيْهَا بُنْدُقِيَّتَهُ وَأَطْلَقَ الرَّصَاصَةَ

هغه خپل توپک ورته برابر کړو، مرمۍ يې پرې خوشې کړه.

وَأَصَابَ الْبَقَرَةَ فِيْ صَدْرِهَا فَسَقَطَتْ جَرِيْحًا تَضْرِبُ بِرِجْلَيْهَا

د غوا په سينې باندې ولګېده، په زخمي حالت کې راوغورځېده چې خپلې پښې يې وهلې.

د الفاظو تحقيق

اِنْتَصَفَ	صيغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معروف، باب (افتعال) نيمايي کېدل.
ظِلّ	معنى يې ده: سايه/ سيورى، (ظِلُّ اللَّيْلِ) د شپې تياره، (ج) ظِلَالٌ، أَظْلَالٌ.
بَرَزَ	صيغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معروف، باب (ن) ښکاره کېدل.
بَقَرُ الْوَحْشِ	ځنګلي غوا.
مِرْصَاد	لاره، مورچه، (ج) مَرَاصِيْدُ، مَرَاصِدُ.
صَوَّبَ	صيغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معروف، باب (تفعيل) درست کېدل.
أَطْلَقَ	صيغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معروف، باب (افعال) پرېښودل.
رَصَاصَةٌ	مرمۍ، (ج) رَصَاص.
جَرِيْحًا	صيغه واحد مذکر، صفت مشبّه، معنى يې ده: زخمي، (ج) جَرْحٰى.

لومړۍ فايده: لفظ د (جَرِيْحًا) د (سَقَطَتْ) د ضمير لپاره د حال واقع کېدو له وجې منصوب دى.

وضاحت: د (فَعِيْل) وزن کله د (فاعل) په معنى سره استعمالېږي او کله د (مفعول) په معنى.

لومړۍ يادونه: که د (فَعِيْل) وزن د (فاعل) په معنى وي، نو په مذکر او مؤنث کې به فرق کولى

نې برابره خبره ده چې موصوف ذکر وي او که نه وي

بيمه يادونه: که د (فَعِيْــلٌ) وزن د (مفعول) په معنی وي، نو د موصوف سره په مذکر او مؤنث حالت به وي، لکه: زَيْدٌ قَتِيْلٌ، وَأَنْتِ الْمَرْأَةُ جَرِيْحًا

که د موصوف سره نه وي، نو فرق به کولی شي. لکه. جَآءَ حَبِيْبٌ وَحَبِيْبَةٌ

بيمه خبره: کله چې د (فَعِيْــلٌ) وزن د (متعدي) څخه مشتق وي، نو همېش د مفعول په معنی وي. لکه: قَتِيْلٌ بمعنی مَقْتُوْلٌ.

بيمه فايده: د (فَعِيْــلٌ) وزن د معنی په اعتبار سره مبالغې باندې دلالت کوي، يعنې د موصوف زياتني په صفت باندې دلالت کوي. لکه: رَحِيْمٌ (بې انتها رحم کوونکی ذات. عَظِيْمٌ، ډېر زيات عَلِيْمٌ، ډېر زيات پوه.

وَذَبَحَهُ الإِخْوَانُ صَوْتَ الْبُنْدُقِيَّةِ أَجَالُوْا وَذَبَحَهَا يَاقُوْتُ بِسِكِّيْنٍ كَبِيْرٍ حَادٍّ

ورونو د توپک اواز واورېدلو، تول را غلل، هغه غوا ياقوت په غټه تېره چاړې حلاله کړه.

وَنَحْنُ اللّٰهَ وَكَبَّرَ وَكُنَّا نَتَكَلَّمُ وَ كُنَّا مُطْمَئِنِّيْنَ إِذْ خَرَجَتْ

بسم الله او تکبير يې وويلو، موږ خپل منځ کې خبرې کولې او په اطمينان ناست وو چې ناڅاپه

بَقَرَةٌ أُخْرَى فَانْطَلَقَ عَلَيْهَا هَاشِمٌ بِبُنْدُقِيَّتِهِ بِسُرْعَةٍ وَمَا قَدَرَ أَنْ يُصَوِّبَ الْبُنْدُقِيَّةَ

بله غوا راووتله چې هاشم ډېر زر خپل توپک هغې ته برابر کړو. هغه قادر نه شو چې توپک سيده کړي،

فَأَخْطَأَتِ الرَّصَاصَةُ وَمَا صَادَتِ الْبَقَرَةَ وَتَأَسَّفَ هَاشِمٌ وَتَأَسَّفَتِ الْجَمَاعَةُ

نو مرمۍ خطاء لاړه، غوا يې ونه ويشتله، هاشم افسوس وکړو او ټولو ملګرو افسوس وکړو.

وَصِدْنَا حَمَامَتَيْنِ بِرَصَاصَةٍ وَبَطَّتَيْنِ بِرَصَاصَتَيْنِ

موږ دوه کوترې په يوه مرمۍ ښکار کړې، دوه بطې مو په دوه مرميو وويشتلې،

وَكَانَ عِنْدِيْ سِكِّيْنٌ صَغِيْرٌ حَادٌّ فَذَبَحْتُ الْبَطَّتَيْنِ وَسَمَّيْتُ اللّٰهَ وَكَبَّرْتُ.

زما سره وړه تېره چاړه وه، ما دواړه بطې حلالې کړې، بسم الله، الله اکبر مې وويلو

د الفاظو تحقيق

ذَبَحَ	صيغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معروف، باب (ف) ذبح کول.
حَادٌّ	صيغه واحد مذکر، بحث اسم فاعل، باب (ض) تېره څوکې والا.
أَخْطَأَتْ	صيغه واحد مؤنث غائب، فعل ماضي معروف، باب (افعال) غلطي کول.

بَطَّتَيْنِ	صيغه تثنيه، (مفرد) بَطَّةٌ، معنى يې ده: بطه/ بطخه، (ج) بُطُوطٌ.
أَصَبْتُ	صيغه واحد متكلم، فعل ماضي معروف، (سدل).

وَقُلْتُ لِلسَّيِّدِ إِسْمَاعِيلَ: أَنَا أُرِيْدُ أَنْ أَصِيْدَ أَيْضًا فَأَعْطَانِيْ بُنْدُقِيَّةً

ما محترم اسماعيل ته وويل: زه هم غواړم چې ښكار وكړم. نو ماته يې خپل توپک راكړ.

وَوَضَعَ فِيْهَا رَصَاصَةً وَكُنْتُ أَعْرِفُ كَيْفَ أُصَوِّبُ الْبُنْدُقِيَّةَ وَكَيْفَ أُطْلِقُهَا

په هغې كې يې مرمى كېښودله، زه پوهېدم چې توپک څنګه سيده كړم او څنګه يې وچلوم.

لِأَنِّيْ أَطْلَقْتُ الْبُنْدُقِيَّةَ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ أَوْ خَمْسَ مَرَّاتٍ فَذَهَبْتُ وَجَلَسْتُ بِالْمِرْصَادِ

ځكه چې ما څلور يا پنځه خله مخكې هم توپک چلولى ؤ، زه لاړم او په مورچه كې كېنستم.

وَجَاءَ حَمَامٌ وَوَقَعَ عَلَى شَجَرَةٍ قَرِيْبَةٍ وَصَوَّبْتُ بُنْدُقِيَّتِيْ نَحْوَ الْحَمَامِ

كوتره راغله، په نږدې ونه باندې كېنستله، ما خپل توپک د كوترې په طرف سيده كړو.

وَأَطْلَقْتُ الْبُنْدُقِيَّةَ فَأَصَبْتُ حَمَامَتَيْنِ وَفَرِحْتُ جِدًّا لَمَّا أَصَبْتُ الْحَمَامَتَيْنِ

توپک مې وچلولو چې دوه كوترې مې ووېشتلې، ډېر خوشحال شوم چې كله مې دوه كوترې ووېشتلې.

وَكَبَّرْتُ مِنَ الْفَرَحِ وَجَاءَ الْإِخْوَانُ وَقَالُوْا: مَرْحَى مَرْحَى، وَقَالُوْا:

د ډېرې خوشحالۍ له وجې غټ شوم، ورونه راغلل، هغوى وويل: شاباش شاباش، بيا يې وويل

مَاشَاءَ اللهُ إِنَّ خَالِدًا صَيَّادٌ

مَاشَاءَ اللهُ، بې شكه خالد ښكاري شوى.

دالفاظو تحقيق

حَمَامَتَيْنِ	تثنيه، دوه كوترې، (مفرد) حَمَامَةٌ (ج) حَمَائِمُ، حَمَامَاتٌ.
كَبَّرْتُ	صيغه واحد متكلم، فعل ماضي معروف، باب (تفعيل) تكبير ويل.
اَلْفَرَحُ	خوشحالي

وَمَا رَضِيْتُ أَنْ يَذْبَحَهُمَا أَحَدٌ فَذَهَبْتُ وَسَمَّيْتُ اللهَ

زه خوښ نه وم چې بايد څوک يې هم حلالې نه كړي. زه لاړم، بسم الله مې ووېل

وَ ذَبَحْتُ الْحَمَامَتَيْنِ بِسِكِّيْنِ الصَّغِيْرِ الْحَادِّ وَرَجَعْنَا إِلَى الْقَرْيَةِ فِي الْمَسَاءِ

او دواړه كوترې مې په خپلې وړې او تېرې چاړې حلالې كړې، ماښام خپل كلي ته واپس شولو.

جِئْنَا	كَثِيْرٍ وَقُطِعَتِ الْبَقَرَةُ قِطَعًا قِطَعًا وَأَهْدَيْنَا لَحْمَهَا إِلَى جَمِيْعِ الْأَصْدِقَاءِ وَالْأَقَارِبِ
د ډېر ښکار سره.	غوا مو ټوټې ټوټې کړه. د هغې غوښه مو ټولو ملګرو او خپلوانو ته ډالۍ کړه.
وَأَهْلُ	الْقَرْيَةِ فَأَكَلُوْا وَشَبِعُوْا وَشَكَرُوا الصَّيَّادِيْنَ.
او د هغه راز د کلي خلکو ته،	هغوی وخوړل، ماړه شول او د ښکاريانو شکريه يې ادا کړه.

دالفاظو تحقيق

مَا رَضِيْتُ	صيغه واحد متکلم، فعل ماضي معروف. باب (س) راضي کېدل
يَذْبَحُ	صيغه واحد مذکر غائب، فعل مضارع معروف. باب (ف) ذبح کول
سَمَّيْتُ	صيغه واحد متکلم، فعل ماضي معروف، باب (تفعيل) بسم الله ويل
حَائِزٌ	صيغه واحد، بحث اسم فاعل، باب (ض) تېرې ځوکې والا
قُطِعَتْ	صيغه واحد مؤنث غائب، فعل ماضي مجهول. باب (ف) کاټول
أَهْدَيْنَا	صيغه جمع متکلم، فعل ماضي معروف، باب (افعال) ډالۍ / تحفه ورکول

اللغات الجديدة/ نوې لغتونه

اَلظُّلَّةُ	سايه لرونکې شی، لکه: ونه او داسې نور... سايبان، چترې. (ج) ظُلَلٌ
اَلظَّلِيْلُ	سايه لرونکی، (ظِلٌّ ظَلِيْلٌ)، دوامداره سايه، ګڼه سايه
اَلظَّلِيْلَةُ	ګڼ باغ، له ونو ډکه ډک، (ج) ظَلَائِلُ
مِظَلَّةُ التِّلِيْفُوْنِ	د ټيلفون وړوکې اطاق.
اَلْمِظَلَّةُ الْوَاقِيَةُ	پراشوټ/ هوايي نوځي چترۍ.

فايده: پراشوټ ته په جديده عربۍ کې (اَلْمِهْبَطَة) هم ويل کېږي.

رَصَاصَةٌ فَارِغَةٌ	د مرمۍ خالي خول.
رَصَاصَات	چرې/ د ټوپک مرمۍ.
بُنْدُقَةٌ	کارتوس.
بُنْدُقِيَّةٌ	ټوپک.
بُنْدُقِيَّةُ رَشٍّ	د ويشتلو ټوپک.
بُنْدُقِيَّةٌ مَحْشُوَّةٌ	ډک ټوپک.
بُنْدُقِيَّةُ هَوَاءٍ	هوايي/ بادي ټوپک.

مَأْدُبَةٌ

دسترخوان/ د دعوت خوراک کول

رَجَعَ أَخِيْ مِنَ الْحَجِّ. فَفَرِحَ أَهْلُ الْبَيْتِ كَثِيْرًا وَفَرِحَتْ أُمِّيْ جِدًّا.

زما ورور د حج څخه واپس شو، ټوله کورنۍ زياته خوشحاله شوه، مور مي هم زياته خوشحاله شوه.

وَصَنَعَتْ أُمِّيْ طَعَامًا وَدَعَتْ إِلَيْهِ الْأَقَارِبَ وَالْأَصْدِقَاءَ وَكَثِيْرًا مِّنْ أَهْلِ الْقَرْيَةِ.

زما مور خواړه تيار کړه، هغې ته يې خپلوان، ملګري او د کلي زيات خلک راوغوښتل.

وَفَرِحْنَا جِدًّا. وَفَرَشْنَا فِرَاشًا نَظِيْفًا أَمَامَ الْبَيْتِ وَكَانَتْ أَيَّامُ صَيْفٍ.

موږ زيات خوشحال شو، موږ د کور مخې ته پاک فرش هوار کړو، دغه د اوړي ورځې وې.

وَوَضَعْنَا أَبَارِيْقَ فِيْهَا مَاءٌ لِغَسْلِ الْأَيْدِيْ وَوَضَعْنَا صَابُوْنًا وَمِنْشَفَةً.

موږ لوټې کېښودلې چې په هغې کې د لاس مينځلو اوبه وې، صابون او لاس پاک مو کېښودلو.

وَبَسَطْنَا سُفْرَةً وَاسِعَةً حَضَرَ النَّاسُ فِي الْمَسَاءِ فَاسْتَقْبَلَهُمْ أَخِيْ.

موږ پراخ دسترخوان کېښودلو، ماښام ټول خلک حاضر شول، زما ورور د هغوی استقبال وکړو.

وَقُلْنَا: مَرْحَبًا وَجَلَسُوْا قَلِيْلًا وَحَضَرَ الطَّعَامُ فَجَلَسَ الضُّيُوْفُ حَوْلَ السُّفْرَةِ

موږ وويل: ښه راغلاست، لږ وخت کېناستل، دوډۍ حاضره شوه، مېلمانه د دسترخوان شاوخوا کېناستل.

وَقَدَّمْنَا الرَّغِيْفَ الْحَارَّ وَاللَّحْمَ وَالرُّزَّ فِيْ صُحُوْنٍ

موږ ګرمه دوډۍ، غوښه او وريژې؛ وريجې په پلېټونو کې مخکې کړې،

وَالرَّائِبَ فِيْ أَقْدَاحٍ فَسَمُّوا اللهَ وَأَكَلُوْا.

او مستې مو په پيالو کې وړاندې کړې، هغوی بسم الله وويل او خوراک يې وکړو

د الفاظو تحقيق

رَجَعَ	صيغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معروف، باب (ض) واپس کېدل، واپس راتلل
اَلْحَجُّ	مصدر از باب (ن) زيارت کول، حج کول.
فَرِحَ	صيغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معروف، باب (س) خوشحاله کېدل.
فَرَشْنَا	صيغه واحد متکلم، فعل ماضي معروف، باب (ن) خورول، خپرول
فِرَاشًا	خپرول، بستر، درې، (ج فُرُشٌ، أَفْرِشَةٌ)

أمَامَ	مخامخ، وراندې. (اسم ظرف)
إبْرِيْق	لوټه، دست شوی، د لاس مينځلو لوښی. (مفرد: إبريق)
الْأَيْدِي	(مفرد: يَدٌ، معنى يې ده: لاس
صَابُوْنًا	صابون.
مِنْشَفَة	معنى يې ده: لاس پاک، صيغه مفرد مؤنث. اسم آله. از باب (ن، ح) مَنَاشِف
سُفْرَة	معنى يې ده: دسترخوان. (ج) سُفَر
اسْتَقْبَلَ	صيغه واحد مذكر غائب. فعل ماضي معروف. باب (استفعال) استقبال كول
حَوْلَ	شاوخوا.
قَدَّمَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف. باب (تفعيل) وراندې كول
الْحَارّ	گرم
صُحُوْن	(مفرد) صَحْنٌ، معنى يې ده: پليټ، كاسه، وروكى پياله
رَائِب	رائته، مستې
أقْدَاح	(مفرد) قَدَحٌ، معنى يې ده: پياله
سَمَّوْا	صيغه جمع مذكر، فعل ماضي معروف، باب (تفعيل) بسم الله ويل

...نَا الْيَمِيْنَ نُلَاحِظُ الضُّيُوْفَ وَنُقَدِّمُ لَهُمُ الْخُبْزَ وَالطَّعَامَ وَنُسَلِّيْهِمُ الْمَاءَ الْمَثْلُوْجَ	...وبولا، روچې د ميلمنو خدمت وكړو، هغوی ته موډوډی او خواړه وړاندې كړه. په هغوی مو يخې اوبه وڅښلې.
...لْمَائِدَةِ النَّاسُ مِنْ . كُلِّ نَوْعٍ مِنَ الطَّعَامِ وَأَكَلُوْا. بِرَغْبَةٍ وَحَمِدُوا اللهَ.	...ظلک د هر ډول خوړو څخه خوراک وكړو، په مينه يې خوراک وكړو او د الله تعالى ستاينه يې وكړه.

د الفاظو تحقيق

نُلَاحِظُ	صيغه جمع متكلم، فعل مضارع معروف، باب (مفاعله) يو بل ته كتل
مَشْوِيٌّ	صيغه واحد مذكر، اسم مفعول، باب (ن) راوره پكې اچول شوي
لَوْنٌ	معنى يې ده: قسم، (ج) أَلْوَانٌ.
أَلِفُوْا	صيغه جمع مذكر، فعل ماضي معروف، باب (س) تعريف كول

وَكَانُوْا وَغَسَلُوْا أَيْدِيَهُمْ وَمَسَحُوْهَا بِالْمِنْشَفَةِ وَجَلَسُوْا إِلٰى ثُمَّ
مفري ولاړ شول، خپل لاسونه يې ومينځل، په لاس پاک يې وچ کړل، زما وړور ته کښېنستل.
يَتَحَدَّثُوْنَ وَيَتَكَلَّمُوْنَ وَيَسْمَعُوْنَ مِنْهُ أَخْبَارَ الْحِجَازِ وَحَدِيْثَ مَكَّةَ الْمُشَرَّفَةِ
خبرې اترې يې کولې، د هغه څخه يې د حجاز او مکې مکرمې خبرې اورېدلې.
وَالْمَدِيْنَةِ الْمُنَوَّرَةِ وَمِنٰى وَعَرَفَاتٍ بِكُلِّ رَغْبَةٍ وَسُرُوْرٍ
او دغه راز د مدينې منورې، د منٰى او عرفات (خبرې) په پوره مينه او خوشحالۍ.
وَاشْتَاقُوْا إِلَى الْحَجِّ وَدَعَوْا اللهَ أَنْ يُوَفِّقَهُمْ لِلْحَجِّ
د دوی شوق حج ته پيدا شو. د الله تعالى څخه يې وغوښتل چې ددې توفيق ورکړي.
ثُمَّ اسْتَأْذَنُوْا لِلْخُرُوْجِ وَقَامُوْا يَقُوْلُوْنَ: أَفْطَرَ عِنْدَكُمُ الصَّائِمُوْنَ
بيا مفري د وتلو اجازه وغوښتله، ولاړ شول او ويل يې: ستاسو سره دې روژه دار افطار وکړي.
وَأَكَلَ طَعَامَكُمُ الْأَبْرَارُ وَصَلَّتْ عَلَيْكُمُ الْمَلَائِكَةُ
ستاسو دوډۍ دې نېک خلک وخوري او فرښتې دې ستاسو لپاره د رحمت دعاء وکړي.

د الفاظو تحقيق

يَتَحَدَّثُوْنَ	صيغه جمع مذکر غائب، فعل مضارع معروف، باب (تفعُّل) شپلمنځي خبرې کول
إِشْتَاقُوْا	صيغه جمع مذکر غائب، فعل ماضي معروف، باب (افتعال) شوق او رغبت کول
سُرُوْرٌ	مصدر، باب (ن) خوشحالېدل.
اَلْأَبْرَارُ	(مفرد) بَرٌّ، بَارٌّ، معنى يې ده: فرمانبردار، صالح.
وَصَلَّتْ	صيغه واحد مؤنث غائب فعل ماضي معروف، باب (تفعيل) د رحمت دعاء کول.
اَلْمَلَائِكَةُ	(مفرد) مَلَكٌ، معنى يې ده: فرښته.

اللغات الجديدة/ نوې لغتونه

ثَلْجٌ	واوره، (ج) ثُلُوْجٌ.
ثَلْجٌ رَخْوٌ	د سختۍ يخنۍ له وجې ورول شوې واوره چې ځمکه يې يخ کړې وي.
ثَلْجٌ جَامِدٌ	کلکه شوې/ جام شوې واوره، (هغه چې د ماشين په ذريعه جوړه شوې وي).

	د واورې والا/ د واورې غوندې
مَثْلُوجٌ، مَثْلَجٌ	يخې شوې اوبه/ واوره ملاو شوې
	واوره خرخونکی
	د آيسکريم بکس/ د واورې ايښودلو صندوق/ فرج، (ج) ثَلَّاجَاتٌ
	د يخولو ماشين، (ج) مَثَالِجٌ

بِرُّالْوَالِدَيْنِ

د مور او پلار خبره منل

كَانَ رَجُلٌ لَهُ أَبَوَانِ كَبِيْرَانِ وَأَوْلَادٌ صِغَارٌ وَكَانَ بَرًّا بِالْوَالِدَيْنِ
د يو سړي بوډا مور - پلار او کشران بچيان يې وو، د خپل مور - پلار فرمانبردار
شَفِيْقًا عَلَى الْأَوْلَادِ وَكَانَ يَذْهَبُ كُلَّ يَوْمٍ فِي الصَّبَاحِ إِلَى الْمَرْعَى
او په بچيانو مهربان و، هره ورځ د سهار په وخت کې به چراګاه ته تللو،
وَيَرْعَى الْمَاشِيَةَ وَيَرْجِعُ بِهَا فِي الْعِشَاءِ فَيَحْلِبُهَا
هلته به يې ګډې/ بزې پوولې، ماسخوتن به يې واپس راوستلې، هغه به يې لوشلې
وَيَسْقِي وَالِدَيْهِ وَأَوْلَادَهُ الصِّغَارَ وَكَانَ أَبَوَاهُ وَ أَوْلَادُهُ الصِّغَارُ
به خپل مور - پلار او وړو ماشومانو به يې څښلې، مور - پلار او وړو بچيانو به يې
يَنْتَظِرُوْنَ قُدُوْمَهُ، وَلَا يَنَامُوْنَ حَتَّى يَحْضُرَ الرَّجُلُ وَيَسْقِيَهُمُ اللَّبَنَ.
د هغه د راتګ انتظار کولو، هغوی نه ويده کېدل تردې چې سړی به حاضر شو او په هغوی به يې شيدې ورڅښلې.

د الفاظو تحقيق

بِرٌّ	بِکسر الباء، نېکي، ښه سلوک، اطاعت، بفتح الباء، فرمانبردار، (ج) أَبْرَارٌ، بضمّ الباء، غنم.
أَبَوَانِ	(۱) معنی يې ده: مور - پلار، (۲) پلار او تره، (مفرد) أَبٌ.
شَفِيْقًا	مهربان، (كَانَ) د محذوف فعل ناقص لپاره د خبر واقع کېدو له وجې منصوب دی.
اَلْمَرْعَى	چراګاه د څارويو د پوولو ځای، (ج) مَرْعَاتٌ، مَرَاعًا، (د اسم ظرف صيغه ده).
اَلْمَاشِيَةُ	معنی يې ده. څاروي، (ج) مَوَاشٍ، مذکر: اَلْمَاشِيْ، (ج) مُشَاةٌ.

يَجْلِبُ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل مضارع معروف، باب (ض) لوشل/ شيدي راستل

مَرَّةً ذَهَبَ الرَّجُلُ بِالْمَاشِيَةِ إِلَى الْمَرْعَى فَبَعُدَ فِي طَلَبِ الشَّجَرِ وَالْعَلَفِ

يو ځل سړی خاروي د دښتې چراګاه په طرف بوتلل، د ونو او واښو په طلب کې لرې لاړو.

فَتَأَخَّرَ ذٰلِكَ الْيَوْمَ فَرَجَعَ إِلَى الْبَيْتِ وَقَدْ ذَهَبَ كَثِيرٌ مِنَ اللَّيْلِ

نو هغه ورځ وخنډېدلو، کور ته واپس شو، په داسې حال کې چې د شپې زياته برخه تېره شوې وه.

وَانْتَظَرَ ابْنُهُ وَلَمْ طَوِيلًا وَكَانَ أَبُوهُ جَائِعًا وَكَانَتْ أُمُّهُ جَائِعَةً

پلار - مور يې اوږد انتظار کړی و، پلار يې وږی و، مور يې هم وږې وه.

وَرَقَدَ أَبُوهُ وَرَقَدَتْ أُمُّهُ بَعْدَ الْإِنْتِظَارِ الطَّوِيلِ

تر اوږد انتظار وروسته يې پلار هم ويده شوی و او مور يې هم ويده شوې وه.

دالفاظو تحقيق

بَعُدَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (ک) لرې تلل.
اَلْعَلَفُ	واښه/ چاره، (ج) أَعْلَافٌ، عُلُوْفَةٌ، عِلَافٌ
رَقَدَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (ن) ويده کېدل.

فايده: طَوِيلًا، د مفعول مطلق محذوف لپاره د صفت واقع کېدو له وجې منصوب دی

فايده: جَائِعًا او جَائِعَةً د كَانَ لپاره د خبر واقع کېدو له وجې منصوب دی.

د لفظ الشَّيْخُ تفصيل:

الشَّيْخُ: (۱) بوډا، عمر خوړلی، تقريبا چې پنځوس کالو ته رسېدلی وي، ددې څخه مخکې كَهْلٌ درجه ده او ددې څخه وروسته د هَرَمْ درجه ده.

(۲) په علم او فضيلت کې ممتاز شخصيت

(۳) د جماعت امير يا د قبيلې سردار.

(۴) د کلي مشر/ د قوم سردار، (ج) شُيُوْخٌ، أَشْيَاخٌ، مَشْيَخَةٌ، مَشَايِخُ.

د نورو الفاظو سره ددې استعمال:

شَيْخُ الْبَلَدِ	د ښار حاکم
شَيْخُ الْإِسْلَامِ	تر ټولو لوی مسلمان، لوی عالم

[illegible]	د ژوند ملګری/ میړه: خاوند
[illegible]	شیطان
مَشَايِخُ الطُّرُقِ	د طریقت صوفیان
مَشْيَخَةٌ	(۱) مشرداري، حاکمیت. (۲) ورزګی سلطنت چي حکه نه یي شیخ ویل کیږي
[illegible]	بوډا.

فائده: د الشَّيْخُ مؤنث الشَّيْخَةُ په معنی د بوډۍ حاکمي سره راځي

رَجَعَ الرَّجُلُ وَدَخَلَ الْبَيْتَ، فَوَجَدَ أَنَّ أَبَاهُ الشَّيْخَ قَدْ رَقَدَ

سړی واپس شو او کور ته داخل شو، وي لیدل چي بوډا پلار یي ویده شوی دی.

وَأَنَّ أُمَّهُ الْعَجُوزَ قَدْ رَقَدَتْ فَتَأَسَّفَ الرَّجُلُ وَحَزِنَ كَثِيرًا

بوډۍ مور یي هم ویده شوې ده، سړي افسوس وکړو او سخت غمجن خفه شو.

نَدِمَ عَلَى تَأْخِيرِهِ وَقَالَ: أَسَفًا إِنِّي تَأَخَّرْتُ الْيَوْمَ فِي الْمَرْعَى

په خپل خنډ باندي پښېمان شو، وي ویل: افسوس. نن ورځ په ما باندي چراګاه کي ناوخته شوم.

وَمَشَيْتُ فِي طَلَبِ الشَّجَرِ وَالْعَلَفِ لِأَرْعَى الْمَاشِيَةَ حَتَّى رَقَدَ الشَّيْخُ وَرَقَدَتِ الْعَجُوزُ.

د ونو او واښو پسي لري لاړم چي ګډې وپوروم ترڅو چي بوډا او بوډۍ دواړه ویده شوي دي

د الفاظو تحقیق

رَجَعَ	صیغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معروف. باب (ض) واپس کېدل
رَقَدَ	صیغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معروف. باب (ض) مونږل
نَدِمَ	صیغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معروف. باب (س) شرمېدل پښېمانه کېدل
أَسَفًا	مصدر، باب (س) افسوس کول.

فائده: أَسَفًا د فعل محذوف (تَأَسَّفْتُ) لپاره د مفعول مطلق له وجي منصوب دی

الْعَجُوزَةُ وضاحت:

الْعَجُوزَةُ معنی یي ده: بوډۍ ښځه

الْعَجُوزُ (۱) بوډا، عمر خوړلی سړی، بوډۍ. (۲) شراب. (۳) کشتۍ. (۴) لاره. (۵) لیندۍ. (۶)

[illegible] (۷) مرګ. (۸) د خورما ونه. (۹) قبضه؛ ولکه. (۱۰) د توري میخ. (۱۱) عافیت. (۱۲)

[illegible] ګاري. (۱۳) نبي لاس. (۱۴) بادشاه. (۱۵) مشک. (۱۶) قبله. (۱۷) سپین زر. (۱۸) چرګ ته

ترکه کول، ترکاي، (۱۹) لرم، (۲۰) حجره، (۲۱) بادر، (۲۲) خط، (۲۳) کتاب، (۲۴) بيرغ، (۱

جنګ، (۲۶) دوزخ، (۲۷) لويه پياله، (۲۸) درياب، (ج) عُجُز.

فائده: دا لفظ د مذکر او مؤنث دواړو لپاره يو شان استعمالېږي.

وَفَكَّرَ الرَّجُلُ هَلْ يُوقِظُ الشَّيْخَ وَالْعَجُوزَ؟ وَكَرِهَ الرَّجُلُ أَنْ يُوقِظَ الشَّيْخَ وَالْعَجُوزَ

سړي فکر وکړو چې بوډا او بوډۍ بيداره کړي؟ نو سړي بد وګڼل چې بوډا او بوډۍ وينبه کړي.

وَكَانَ أَهْلُهُ وَأَوْلَادُهُ يَنْتَظِرُونَهُ وَكَانُوا جِيَاعًا فَطَلَبُوا مِنْهُ اللَّبَنَ

کورنۍ او ماشومانو يې د هغه انتظار کولو، هغوی وږي وو، هغوی له ده څخه شيدې وغوښتلې.

وَلَكِنَّ الرَّجُلَ كَرِهَ أَنْ يَسْقِيَ أَهْلَهُ وَ أَوْلَادَهُ قَبْلَ وَالِدَيْهِ

خو سړي دا بد وګڼل چې خپلې کورنۍ او بچيانو ته يې د مور - پلار څخه مخکې ورکړي.

وَخَافَ اللَّهَ وَقَالَ: كَيْفَ أَسْقِيكُمْ وَلَمْ أَسْقِهِمْ إِنِّي إِذًا لَمِنَ الظَّالِمِينَ.

د الله تعالى څخه ووېرېدلو، وې ويل: زه به څنګه تاسو ته درکړم، حال دا چې په هغوی (مور - پلار) مې نه دي څښلي، (که داسې وکړم چې لومړی يې تاسو ته درکړم) نو بې شکه زه به د ظالمانو څخه شم.

دالفاظو تحقيق

فَكَّرَ	صيغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معروف، باب (تفعيل) فکر کول، سوچ کول.
يُوقِظُ	صيغه واحد مذکر غائب، فعل مضارع معروف، باب (افعال) بيداره کول.
كَرِهَ	صيغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معروف، باب (سمع يسمع) ناخوښ ګڼل.
جِيَاعًا	(مفرد) جائِع، صيغه واحد مذکر، بحث اسم فاعل، باب (ن) وږی کېدل، ددې جمع جُوَّعٌ او جِيَّعٌ راځي.

فائده: د جِيَاعًا نصب د فعل ناقص لپاره د خبر واقع کېدو له وجې دی.

وَحَلَبَ الرَّجُلُ الْمَاشِيَةَ وَوَقَفَ يَنْتَظِرُ أَنْ يَسْتَيْقِظَ أَبَوَاهُ وَبَقِيَ وَاقِفًا

سړي څاروي ولوشل، ودرېدلو، انتظار يې کولو چې خپل مور - پلار وېښ کړي، همداسې ولاړ پاتې شو.

وَالْقَدَحُ عَلَى يَدِهِ وَالْأَطْفَالُ يَبْكُونَ وَيَصِيحُونَ عِنْدَ قَدَمَيْهِ

پياله يې په لاس کې وه، ماشومانو ژړل، د هغه په قدمونو کې يې چيغې وهلې،

وَلَكِنَّهُ لَمْ يَسْقِهِمْ شَيْئًا مِنَ الْقَدَحِ وَلَمْ يَشْرَبْ وَبَاتَ قَائِمًا وَالْقَدَحُ عَلَى يَدِهِ.

خو د پيالې څخه يې هيڅ شى په هغوى باندې ونه څښلو. شپه يې په ولاړه تېره کړه او پياله يې په لاس کې وه

د الفاظو تحقيق

قَدَحٌ	پياله، (ج) أَقْدَاحٌ
يَبْكُوْنَ	صيغه جمع مذكر غائب، فعل مضارع معروف، باب (ضرب) چيغې وهل، ژړل
قَدَمٌ	معنى يې ده: پښه، (ج) أَقْدَامٌ
بَاتَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (ض) شپه تېرول

طَلَعَ الْفَجْرُ وَاسْتَيْقَظَ الْوَالِدَانِ فَقَدَّمَ الرَّجُلُ لَهُمَا قَدَحَ اللَّبَنِ
سهار شو، خپل مور - پلار يې ويښ کړل، سړي دواړو ته يوه پياله شيدې وړاندې کړې،
فَشَرِبَا ثُمَّ سَقَى أَوْلَادَهُ وَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْ هٰذَا الرَّجُلِ الَّذِيْ كَانَ
دواړو وڅښلې، بيا يې په خپلو بچيانو وڅښلې، الله تعالى ددې سړي څخه راضي شو هغه چې
بَرًّا بِالْوَالِدَيْنِ. رَضِيَ اللّٰهُ عَنْ هٰذَا الْعَمَلِ الصَّالِحِ وَقَبِلَهُ
د خپل مور - پلار سره يې نېک سلوک کولو، الله تعالى د هغه له نېک عمل څخه راضي شو او قبول يې کړو.
مَرَّةً كَانَ هٰذَا الرَّجُلُ الْبَرُّ مَاشِيًا فِي اللَّيْلِ فَرَأَى غَارًا
يو ځل همدا نېک سړى د شپې له خوا روان ؤ، هغه يو غار ولېد،
فَقَالَ: أَبِيْتُ اللَّيْلَ فِيْ هٰذَا الْغَارِ وَ أَخْرُجُ فِي الصَّبَاحِ.
وې ويل: زه به نن شپه په دې غار کې تېروم او سهار وختي به ترې وځم،

د الفاظو تحقيق

طَلَعَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (ن) راختل، راوتل.
رَضِيَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (س) راضي كېدل.
قَبِلَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (س) قبلول.
مَاشِيًا	صيغه واحد مذكر، بحث اسم فاعل، باب (ض) تلل.

فائده: لفظ د (مَاشِيًا) د (كَانَ) لپاره د خبر واقع كېدو له وجې منصوب دى.

وَدَخَلَ الْغَارَ لِيَبِيْتَ فَانْحَدَرَتْ صَخْرَةٌ مِّنَ الْجَبَلِ
هغه غار ته داخل شو، ددې لپاره چې شپه تېره كړي، نو له غره څخه يو كاڼى راوښوييدلو،

فَسُدَّتْ عَلَيْهِ الْغَارَ فَدَعَا اللّٰهَ بِهٰذَا الْعَمَلِ الصَّالِحِ وَقَالَ

د غار خوله ورباندې بنده شوه، هغه الله تعالى ته په خپل دې نېک عمل سره سوال وکړو، وې ویل

اَللّٰهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّيْ فَعَلْتُ ذٰلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَاكْشِفْ هٰذِهِ الصَّخْرَةَ

اې الله! تاته پته ده، که چېرته ما دغه عمل ستا د رضا لپاره کړی وي، نو دا کاڼی لرې کړه

فَأَجَابَ اللّٰهُ دَعْوَةَ هٰذَا الرَّجُلِ الصَّالِحِ وَأَعَانَهُ

الله تعالى ددې نېک سړي دعاء قبوله کړه او د هغه مرسته یې وکړه

د الفاظو تحقيق

لِيَبِيْتَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل مضارع معروف، باب (ض) شپه تېرول
إِنْحَدَرَتْ	صيغه واحده مؤنثه غائبه، فعل ماضي معروف، باب (انفعال) ښويېدل
اَلْجَبَلُ	معنى يې ده: غر، (ج) جِبَالٌ، أَجْبُلٌ، أَجْبَالٌ
فَسُدَّتْ	صيغه واحده مؤنثه غائبه، فعل ماضي معروف، باب (نصر ينصر) بندول
إِكْشِفْ	صيغه واحد مذكر، فعل امر حاضر معروف، باب (ضرب يضرب) خلاصېدل
أَجَابَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (افعال) قبلول
أَعَانَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (افعال) مرسته كول

اللغات الجديدة/ نوي لغتونه

اَلصَّخْرُ	كاڼي.
أَرْضٌ صَخِرَةٌ	كاڼيجنه ځمكه.
عِلْمُ الصُّخُوْرِ	د كاڼو د تركيبي اجزاوو او د هغوی د طبيعي خصائصو علم.
جَبَلُ لِقَوْمِهِ	د خپل قوم سردار.
جَبَلُ الْوَجْهِ	د بدي چهرې څښتن.
جَبَلُ نَارٍ	د اتش فشان غر.
جَبَلُ جَلِيْدٍ	د واورې غر.
اَلْجَبَلِيُّ	كوهستان/ غريزه ساحه.
اَلْعَلَّافُ	وابښو خرڅوونكى.
اَلْمِعْلَفُ	د وابښو ميده كوونكى. (ج) مَعَالِفُ.

فَضِيْلَةُ الشُّغْلِ

د کار فضيلت

إِنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُهُ
د انصارو يو کس رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغلو چې سوال يې کولو.
فَقَالَ: أَمَا فِيْ بَيْتِكَ شَيْءٌ؟ قَالَ: بَلٰى!
خو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ايا ستا په کور کې څه شته؟ وې ويل ولې نه!
حِلْسٌ نَلْبَسُ بَعْضَهُ وَنَبْسُطُ بَعْضَهُ، وَقَعْبٌ
يو تراټ دی چې بعضې برخه يې موږ اغوندو او بعضې برخه يې لاندې اچوو. يو لويه پياله ده،
نَشْرَبُ فِيْهِ مِنَ الْمَاءِ قَالَ: ائْتِنِيْ بِهِمَا،
چې په هغې کې موږ اوبه څښو. وې فرمايل: دواړه ماته راوړه.
فَأَخَذَهُمَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ وَقَالَ: مَنْ يَشْتَرِيْ هٰذَيْنِ؟
دواړه رسول الله صلى الله عليه وسلم په لاس کې ونيولې او وې فرمايل: څوک به دا دواړه واخلي؟

د الفاظو تحقيق

فَضِيْلَةٌ	معنى يې ده: عظمت، لويي، (ج) فَضَائِلُ
اَلشُّغْلُ	مصدر از باب (ن) محنت کول، معنى يې ده: کار، مصروفيت، شغل، (ج) أَشْغَالٌ
اَلْأَنْصَارُ	صيغه جمع مذکر، بحث اسم فاعل، از باب (ن) مرسته کول.
حِلْسٌ	معنى يې ده: تراټ، فرش، (ج) أَحْلَاسٌ
قَعْبٌ	معنى يې ده: لويه پياله (ج) أَقْعُبٌ، قِعَابٌ

قَالَ رَجُلٌ: أَنَا آخُذُهُمَا بِدِرْهَمٍ قَالَ: مَنْ يَزِيْدُ عَلٰى دِرْهَمٍ
يو کس وويل: زه يې په يو درهم باندې اخلم، وې فرمايل: څوک به يې له يو درهم څخه زيات واخلي.
قَالَ رَجُلٌ: أَنَا آخُذُهُمَا بِدِرْهَمَيْنِ فَأَعْطَاهُمَا إِيَّاهُ
بل کس وويل: زه يې په دوه درهمه اخلم، رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه ته ورکړې
وَأَخَذَ الدِّرْهَمَيْنِ فَأَعْطَاهُمَا الْأَنْصَارِيَّ، وَقَالَ: اِشْتَرِ بِأَحَدِهِمَا
او دوه درهمه يې ترې واخيستل او دواړه يې انصاري ته ورکړه، وې فرمايل: په يو درهم باندې

طَعَامًا، فَأَبِيْعُهٗ اِلٰى اَهْلِكَ وَالشَّرِّ بِالْاٰخَرِ قُدُوْمًا فَأْتِنِيْ

خوراک واخله خپلې کورنۍ ته یې وسپاره او په بل درهم باندې تبر واخله او ماته یې راوړه

د الفاظو تحقیق

اٰخُذُ	صیغه واحد متکلم، فعل مضارع معروف، باب (ن) اخیستل، نیول
یَزِیْدُ	صیغه واحد مذکر غائب، فعل مضارع معروف، باب (ض) زیاتې کول
فَأْتِنِیْ	صیغه واحد مذکر حاضر، فعل امر حاضر، از باب (ض) ورکول، ویشتل حواله کول، سپارل
قُدُوْمًا	معنی یې ده: زیات مخکې تلونکی، تکړه/ زړور/ جنګیالی، (ج) قُدُمٌ، تبر چې لرګي ورباندې ماتولی شي، (ج) قَدَائِمُ

فائده: قَدُوْمٌ: د دویمې معنی په اعتبار سره به مؤنث وي

وضاحت: قُدُوْمًا: د مفعول به واقع کېدو له وجې منصوب دی.

فَأَتَاهُ بِهٖ فَشَدَّ فِيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلَّمَ عُوْدًا بِيَدِهٖ
هغه سړي تبر واخیست. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل لاس مبارک د لرګو دسته برابره کړه،
ثُمَّ قَالَ لَهٗ: اِذْهَبْ فَاحْتَطِبْ وَبِعْ وَلَا اَرَيَنَّكَ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا
بیا یې هغه کس ته وویل لاړ شه. لرګي ماتوه او خرخوه یې او پنځلس ورځې دې ونه وینم.
فَذَهَبَ الرَّجُلُ يَحْتَطِبُ وَيَبِيْعُ فَجَاءَ وَقَدْ اَصَابَ عَشَرَةَ دَرَاهِمَ
سړی لاړ، لرګي یې ماتول او خرخول یې، هغه راغلو په داسې حال کې چې لس درهمه یې ګټلي ؤ.
فَاشْتَرٰى بِبَعْضِهَا ثَوْبًا وَبِبَعْضِهَا طَعَامًا، فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلَّمَ
په څیني یې جامې واخیستلې او په څینو یې خوراک واخیستلو، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل
هٰذَا خَيْرٌ لَكَ مِنْ اَنْ تَجِيْءَ الْمَسْاَلَةُ نُكْتَةً فِيْ وَجْهِكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ.
دا ستا لپاره غوره دي چې ته راشې او د قیامت په ورځ سوال په مخ باندې داغ وي.

د الفاظو تحقیق

فَشَدَّ	صیغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معروف، باب (ن) ترل
عُوْدًا	معنی یې لرګی، یو خوشبوداره لرګی دی چې د لوګي لپاره استعمالیږي. (ج) اَعْوَادٌ، عِوَدَانٌ

اغتلب	صيغه واحد مذكر، فعل امر حاضر معروف. باب افتعال لرګي جمع کول
	صيغه واحد مذكر، فعل امر حاضر معروف. باب (س) خرځول
زين	صيغه واحد متكلم، فعل مضارع معروف بانون تاكيد ثقيله باب (ف) کتل/ليدل
نكت	معنى يې ده: نکته/ داغ، (ج) نُكَتٌ، نِكَاتٌ

اللغات الجديدة/ نوي لغتونه

مركز الانتخاب	د ماچس تېلې/ د اور لګيت لرګي
وظائف	وظيفې/ دندې
رئيس تحرير	د ليکوالي رئيس
طبيب عام	جنرل طبيب
متناول	ټېکه دار
محاسب	حساب کونکی
المولد	لوګي والا لرګي؛ خوشبو داره لرګي
مهندس	انجينر/ مهندس
جراح	سرجن/ اپريشن والا ډاکټر
اخصائي	سپيشلسټ/ متخصص
بائع	خرڅونکی
رئيس القضاة	د قاضيانو مشر

تَرْنِيْمَةُ الْوَلَدِ فِي الصَّبَاحِ

د سهار په وخت کې د ماشوم ترانه

أَشْرَقَتِ الشَّمْسُ وَقَدْ	وَلَّى الظَّلَامُ هَارِبًا
لمر روښانه شو او په تحقيق سره	تورو تيارو شا کړه او وتښتېدلې
فَالشُّكْرُ لِلّٰهِ الْأَحَدْ	شُكْرًا عَظِيْمًا وَاجِبًا
بس يو د الله تعالى شکر دی،	د هغه عظيم شکر ضروري دی
مَا أَحْسَنَ النُّوْرَ أَرَى	فِيْهِ الْأُمُوْرَ بَائِنَةً
څه زره وړاښکونکې رڼا ده چې زه يې وينم،	چې امور په دې کې واضح دي.

وَالطَّيْرُ تَشْدُوْ سَحَرًا	عَلَى الْغُصُوْنِ فَاتِنَهْ
مارغان د سهار په وخت کې چغېږي	په شاخونو باندې د ولاړې په حالت کې
مَا أَحْسَنَ النُّوْرَ الْبَهِيْ	فِيْهِ أَجِدُّ عَامِلًا
څه ښايسته او خوندوره رڼا ده	چې زه يې په کارونو کې کوشش کوم
أَنِّيْ لَوَدُّ دَائِمًا	أَلَّا أَكُوْنَ خَامِلًا
بې شکه همېش زه دا خوښوم	چې زه گمنام کمزور جوړ نه شم
أَللّٰهُ قَدْ أَجَارَنِيْ	مِنْ كُلِّ شَرٍّ فِي الظَّلَامِ
بې شکه الله تعالى ماته پناه راکړې	د هر تکليف څخه چې په تياره کې دي
شُكْرًا لَهُ قَدْ صَانَنِيْ	شُكْرًا لَهُ عَلَى الدَّوَامِ
ددې شکر دی چې هغه زما حفاظت وکړ	د هغه شکر د همېش لپاره دی

دالفاظو تحقيق

تَرَنُّمَهْ	ترانه/ زمزمه
أَشْرَقَتْ	صيغه واحده مؤنث غائبه، فعل ماضي معروف، باب (افعال) روښانه کېدل
وَلَّى	صيغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معروف باب (تفعيل) په شان باندې گرځېدل
اَلظَّلَامُ	معنى يې ده: تياره.
هَارِبًا	صيغه واحد مذکر، بحث اسم فاعل، باب (ن) تښتېدل.
اَلشُّكْرُ	مصدر، باب (ن) شکر ويستل.
اَلْأَحَدُ	معنى يې ده: تنها/ يوازې.
وَاجِبًا	صيغه واحد مذکر، بحث اسم فاعل، باب (ض) ضروري کېدل
مَا أَحْسَنَ	صيغه فعل تعجب، بر وزن (مَا أَفْعَلَهُ) معنى يې ده: څه ښايسته دي.
اَلنُّوْرُ	معنى يې ده: رڼا/ رڼايي/ روښنايي.
اَلْأُمُوْرُ	(مفرد) أَمْرٌ، معنى يې ده: کار/ معاملات.
بَاسِمَهْ	صيغه واحده مؤنثه، بحث اسم فاعل، باب (ض) خندا کول

أَنْذَرَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل مضارع معلوم، باب (ن) لګول
سَحَرًا	د سهار په وخت کې/ سهار وختي
الْغُصْنُ	(مفرد) الغُصُنُ، شاخ
قَائِمَةً	صيغه واحده مؤنثه، بحث اسم فاعل. باب (ن) درېدل
تَنْوِيْرُ الرِّيَاضِ	زړه رانېکونکي رڼا
أَجْتَهِدُ	صيغه واحد متكلم، فعل مضارع معروف، باب (ض) کوشش کول
أَرُوْدُ	صيغه واحد متكلم، فعل مضارع معروف، باب (ن) غوښتل
خَامِلًا	معنى يې ده: ګمنام، صيغه واحد مذكر، بحث اسم فاعل، باب (ن) کمزوري کېدل
أَبَانَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب افعال بېځ کېدل
غِيَرٌ	معنى يې ده: فتنه، تكليف، مصيبت، (ج) غُيُوْرٌ
صَانَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (ن) حفاظت کول
الدَّوَامُ	معنى يې ده: همېشه

الدَّوَامُ : مَا أَحْسَنَهُ وَأَحْسِنْ بِهِ : (هغه څومره ښايسته دی) مَا استفهاميه په معنى د أَيُّ شَيْءٍ سره مبتداء، أَحْسَنَ فعل، ضمير د هُوَ فاعل، (هُ) ضمير مفعول به، فعل د خپل فاعل او مفعول به سره يو ځاى خبر، مبتداء د خپل خبر سره جمله انشائيه شوه.

أَحْسِنْ بِهِ : أَحْسِنْ په معنى د (أَحْسَنَ) فعل، ب زائده، (هٗ) ضمير د معنى په اعتبار سره فاعل. فعل د خپل فاعل سره جمله انشائيه شوه، د اختصار له وجې صرف په يو تركيب باندې اكتفاء وشوه. كنه نو په دې جملو كې د نورو تركيبونو احتمالات هم شته.

اللغات الجديدة/ نوې لغتونه

التَّرْنِيْمَةُ	سندره/ ترانه/ نغمه
رَنَّ	رَنِيْـــنًا، اواز ويستل، زمزمه كول
الرَّنِيْنُ	ليږې اوبه
الرِّيُّ	تول مخلوق، ويل كېږي: (مَا فِي الرِّيِّ مِثْلُهُ) په ټول مخلوق كې د هغه په شان څوک نشته
الرَّنِيْنُ	د زنګ اواز/ غږ

رَنِيْنُ الْمِسَرَّةِ	د ټيلفون غږ.
الرَّنَّانُ	ازانګي والا، (خُطْبَةٌ رَنَّانَةٌ) لوړ اواز/ د لوړ غږ تقرير/ وينا.

أَصْدِقَائِيْ
زما ملګري

لِيْ أَرْبَعَةُ أَصْدِقَاءَ: حَسَنٌ وَقَاسِمٌ وَعُمَرُ وَمُحَمَّدٌ، أَمَّا حَسَنٌ فَوَلَدٌ مُهَذَّبٌ حَلِيْمٌ

زما څلور ملګري دي: حسن، قاسم، عمر او محمد. هرچې حسن دی، نو هغه مهذب او بردباره انسان دی.

لَا يَكْذِبُ وَلَا يَغْضَبُ أُحِبُّهُ لِأَدَبِهِ وَحِلْمِهِ

دروغ نه وايي، غوسه نه کوي، د ادب او بردبارۍ له وجې زه ورسره محبت کوم.

وَهُوَ رَفِيْقِيْ فِي الْمَدْرَسَةِ وَجَارِيْ فِي الْحَيِّ وَصَدِيْقِيْ مُنْذُ أَرْبَعِ سِنِيْنَ

هغه په مدرسه کې زما ملګری دی او په کلي کې مې ګاونډی دی، د څلورو کالو راهيسې مې ملګری دی.

وَهُوَ يَسْكُنُ فِيْ حَيِّنَا مِنْ سِنِيْنَ وَبَيْتُهُ قَرِيْبٌ مِنْ بَيْتِيْ

هغه د ډېرو کلونو راهيسې زموږ په کلي کې اوسېږي، د هغه کور زما کور ته نژدې دی.

وَلَيْسَ بَيْنَ بُيُوْتِنَا إِلَّا بَيْتٌ وَاحِدٌ.

زموږ د کورونو ترمنځ نشته، مګر يو کور دی.

د الفاظو تحقيق

مُهَذَّبٌ	صيغه واحد مذکر، بحث اسم مفعول، باب (تفعيل) ځان ښايسته کول.
حَلِيْمٌ	د صفت صيغه ده، معنى يې ده: بردباري کول، ځانته صبر کول، (ج) حُلَمَاءُ، أَحْلَامٌ
رَفِيْقٌ	معنى يې ده: دوست، ملګری، (ج) رُفَقَاءُ.
جَارٌ	معنى يې ده: ګاونډی، (ج) جِيْرَانٌ.
اَلْحَيُّ	معنى يې ده: کلی، (ج) أَحْيَاءُ.

وَلَمْ نَتَخَاصَمْ فِيْ هٰذِهِ الْمُدَّةِ مَعَ أَنَّا نَسْكُنُ فِيْ حَيٍّ وَاحِدٍ

په دومره موده کې موږ جنګ نه دی کړی، سره له دې چې موږ په يو کلي کې اوسېږو.

وَنَقْرَأُ فِيْ صَفٍّ وَّاحِدٍ وَنَذْهَبُ جَمِيْعًا إِلَى الْمَدْرَسَةِ وَنَرْجِعُ جَمِيْعًا وَلَمْ نَتَخَاصَمْ كَثِيْرٌ مِّنَ الْأَصْدِقَاءِ،

بیرو لګي کي زده کړه کوو، مونږ ټول مدرسي ته یو ځای ځو. یو ځای بیرته راځو. په تحقیق سره ډیرو ملګرو جنګ کړی

وَأَرَى كُلَّ يَوْمٍ بَعْضَ الْأَوْلَادِ يَتَخَاصَمُوْنَ وَيُحِبُّ أَبِيْ وَ أُمِّيْ حَسَنًا،

زه هره ورځ ځیني هلکان وینم چي خپل منځ کي جنګ کوي، زما مور او پلار د حسن سره زیاته مینه لري.

وَيَفْرَحَانِ بِرِفَاقَتِهِ لِأَنَّهُ وَلَدٌ لَيْسَ فِيْهِ شَرٌّ،

د هغه سره ملګرتیا مي ډیرې خوشحاله دي؛ ځکه چي هغه داسي هلک دی چي شر/ بدي پکي نشته.

وَيُحِبُّنِيْ أَبُوْ حَسَنٍ وَيَرَانِيْ كَوَلَدِهٖ.

د حسن پلار زما سره مینه کوي او ماته داسي ګوري لکه خپل بچی/ اولاد.

د الفاظو تحقیق

لَمْ نَتَخَاصَمْ	صیغه جمع متکلم، فعل مضارع نفي جحد بلم، باب (تفاعل) جګړه کول
يَفْرَحَانِ	صیغه تثنیه مذکر غائب، فعل مضارع معروف، باب (س) خوشحاله کېدل
رِفَاقَتْ	معنی یې ده: دوستي/ ملګرتیا
يُحِبُّ	صیغه واحد مذکر غائب، فعل مضارع معروف، باب (افعال) محبت کول

لَمَّا قَاسِمٌ فَوَلَدٌ ذَكِيٌّ نَشِيْطٌ تَرَاهُ دَائِمًا مَسْرُوْرًا لَا أَذْكُرُ

هر چي قاسم دی؛ نو هوښیار او چست هلک دی، همېش به یې خوشحال وینې، زما نه یاد برې

إِنِّيْ رَأَيْتُهٗ قَطُّ مَحْزُوْنًا وَهُوَ ذُوْ أَخْبَارٍ وَحِكَايَاتٍ

چي ما هغه خفه لیدلی وي، هغه ته زیات خبرونه او کیسې یادي دي،

يَسُرُّ أَصْدِقَاءَهٗ بِأَحَادِيْثِهٖ وَحِكَايَاتِهٖ وَيُحِبُّهٗ أَصْدِقَاءُهٗ

خپل دوستان/ ملګري په خبرو او کیسو خوشحاله کوي او د هغه سره یې ملګري محبت لري.

وَهُوَ مُجْتَهِدٌ فِي الدُّرُوْسِ لَمْ يَرْسُبْ فِيْ اِمْتِحَانٍ.

هغه په درسونو کي کوشش کونکی دی، تر اوسه په امتحان کي ناکام شوی نه دی

د الفاظو تحقیق

ذَكِيٌّ	معنی یې ده: هوښیار، (ج) أَذْكِيَاءُ
نَشِيْطٌ	معنی یې ده: چست، (ج) نِشَاطٌ
مَسْرُوْرًا	معنی یې ده: خوشحالي

ذُوْاَخْبَارٍ	معنى يې ده: خبرونو والا، كيسو والا
حِكَايَاتٌ	معنى يې ده: واقعات، كيسې، (مفرد) حِكَايَةٌ
مُجْتَهِدٌ	صيغه واحد مذكر، بحث اسم فاعل، باب (افتعال) كوشش كول، محنت كول
لَمْ يَرْسُبْ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل مضارع نفي جحد بلم، باب (ن) ناكام كيدل
اِمْتِحَانٌ	مصدر، باب (افتعال) ازمونه، ازموينت، امتحان.

د لفظ قَطُّ تحقيق: د ظرف لپاره راځي، لكه: (مَا رَأَيْتُ خَالِدًا قَطُّ) ما هيڅكله خالد نه دى ليدلى او دا د ماضي منفي د تاكيد لپاره راځي.

اَمَّا عُمَرُ فَوَلَدٌ يَتِيْمٌ يَسْكُنُ فِيْ حَيِّنَا اَيْضًا اُمُّهُ عَجُوْزٌ

هر چې عمر دى، نو هغه يتيم هلك دى، دغه راز زموږ په كلي كې اوسيږي، مور يې بوډۍ ده،

تَكْتَسِبُ بِالْخِيَاطَةِ وَتُنْفِقُ عَلَى وَلَدِهَا وَلٰكِنَّ عُمَرَ وَلَدٌ كَبِيْرُ النَّفْسِ

په خياطى باندې گټه كوي، په خپل بچي يې مصرف كوي، خو د عمر نفس مستقل دى،

لَا يَقْبَلُ مِنْهَا شَيْئًا ثِيَابُهُ رَخِيْصَةٌ وَلٰكِنَّهَا دَائِمًا نَظِيْفَةٌ

د خپلې مور څخه هيڅ شى نه قبلوي، جامې يې ارزانه دي، خو همېشه پاكې وي،

يُحِبُّهُ جَمِيْعُ الْمُعَلِّمِيْنَ لِصَلَاحِهِ وَاَدَبِهِ وَاجْتِهَادِهِ وَمُوَاظَبَتِهِ

ټول ښوونكي د هغه د اصلاح، ادب، كوشش او همېشه راتگ له وجې ورسره مينه كوي.

د الفاظو تحقيق

اَلْخِيَاطَةُ	مصدر، از باب (ض) گنډل
كَبِيْرُ النَّفْسِ	معنى يې ده: د مستقل نفس څښتن.
رَخِيْصَةٌ	معنى يې ده: ارزان، (ج) رَخَائِصُ.

وَلَمْ يَرْسُبْ عُمَرُ فِي الْاِمْتِحَانِ اِلَّا مَرَّةً وَحَزِنَ كَثِيْرًا وَحَزِنَتْ اُمُّهُ

عمر په امتحان كې نه دى ناكامه شوى، مگر يو ځل، ډېر سخت خفه شو، مور يې خفه شوه

لَمَّا رَسَبَ عُمَرُ فِي الْاِمْتِحَانِ وَاَرَادَ عُمَرُ اَنْ يَتْرُكَ الْمَدْرَسَةَ وَلٰكِنْ شَجَّعَتْهُ اُمُّهُ

كله چې عمر په امتحان كې ناكام شو، عمر اراده وكړه چې مدرسه پرېږدي، خو مور يې زړه وركړو،

وَقَالَتْ: اَنَا اَكْتَسِبُ بِالْخِيَاطَةِ وَاُنْفِقُ عَلَيْكَ وَرَجَعَ عُمَرُ اِلَى الْمَدْرَسَةِ.

ورته يې ووېيل: زه د خياطى كار كوم، په تا باندې يې مصرفوم. عمر واپس مدرسې ته لاړ.

كَبِيْرًا وَنَجَحَ فِي الْإِمْتِحَانِ فِي السَّنَةِ الثَّانِيَةِ وَبَرَّزَ فِي الْإِمْتِحَانِ.

زيات كوښښ وكړو. هغه دويم كال په امتحان كي كامياب شو او په امتحان كي دويم نمبر شو

دالفاظو تحقيق

	صيغه واحده مؤنثه غائبه، فعل ماضي معروف. باب (تفعيل) داړ وركول
	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (تفعيل) مخكي والى

مُحَمَّدٌ تِلْمِيْذٌ نَجِيْبٌ مُجْتَهِدٌ جِدًّا يُبَرِّزُ فِي الْإِمْتِحَانِ كُلَّ سَنَةٍ

ورچي محمد دى، نو هغه ډېر محنتي هلک دى. هر كال په امتحان كي لوړ نمبر راخلي.

كَاتِبٌ جَيِّدُ الْخَطِّ يَعْرِفُ كِتَابَةَ الرَّسَائِلِ، وَهُوَ مُتَقَدِّمٌ فِي الصَّفِّ

كاتب هلک دى، ښايسته خط يې دى، د مقالو په ليكلو پوهېږي، هغه په ټولگي كي مخكي دى.

مُوَاظِبٌ عَلَى الدُّرُوْسِ وَجَمِيْعُ أَصْدِقَائِيْ مُحَافِظُوْنَ عَلَى الصَّلَوَاتِ

د درسونو پابند دى، زما ټول ملگري په پابندۍ سره لمونځ كوي.

مُوَاظِبُوْنَ عَلَى الدُّرُوْسِ وَلَمْ نَتَخَاصَمْ قَطُّ وَلَمْ نَغْضَبْ

په درسونو باندې پابندي كوي او هيڅ جنگ مو نه دى كړى او غوسه نه كوو.

وَأَرْجُوْ أَنْ لَا أَكُوْنَ شَرَّ الْأَصْدِقَاءِ

او زه دا نه خوښوم چي په ملگرو كي شرير شم.

دالفاظو تحقيق

نَجِيْبٌ	معنى يې ده: شريف، (ج) نُجَبَاءُ، أَنْجَابٌ.
كَاتِبٌ	صيغه واحد مذكر، بحث اسم فاعل، باب (ن) ليكل.
جَيِّدُ الْخَطِّ	معنى يې ده: ښكلى خط.
رَسَائِلُ	معنى يې ده: رسالي/ خطونه، (مفرد) رِسَالَةٌ.
أَرْجُوْ	صيغه واحد متكلم، فعل مضارع معروف، باب (ن) اميد كول.

اللغات الجديدة/ نوي لغتونه

الْخِيَاطَةُ	گنډل.
اِبْرَةٌ	ستن.
دَبُّوسٌ	چنگک، هغه ستن یا مېخ چې د پروني تینګولو لپاره استعمالېږي
عُرْوَةٌ	کاج
قُطْبَةٌ	کورشنل گنډل
مِحْبَسٌ مُنْزَلِقٌ	زنځير
مَاكِينَةُ خِيَاطَةٍ	د گنډلو ماشين.
مَطَّاطٌ	د تار رېل
زِرٌّ	بټن.
غُرْزَةٌ	ټانکه/ په تار باندې تک ورکول.
اِبْرَةُ الْخِيَاطَةِ	د خياطۍ ستن
مِقَصٌّ	قينچي.

قَرْيَتِيْ

زما کلی

قَرْيَتِيْ جَمِيْلَةٌ فِيْ وَسْطِ حُقُوْلٍ وَبَسَاتِيْنَ كَأَنَّهَا جَزِيْرَةٌ فِيْ بَحْرٍ أَخْضَ

زما کلی ښایسته دی، د پټیانو او باغونو په منځ کې دی، ګویا په شین سمندر کې یو ټاپو دی.

لَا تَرَى فِيْهَا إِلَّا خُضْرَةً وَمَاءً فَالْأَرْضُ خَضْرَاءُ وَالْحُقُوْلُ خَضْرَا

ته به نه وینې په هغې کې، مګر شینوالی او اوبه، ځمکه هم شنه ده او پټیان هم شنه دي.

وَالدُّنْيَا كُلُّهَا خَضْرَاءُ فِيْ قَرْيَتِيْ وَيَجْرِيْ مِنْ تَحْتِ الْقَرْيَةِ نَهْرٌ مَاؤُهُ نَقِيٌّ شَفَّا

ټوله دنیا زما په کلي کې شنه ده، د کلي لاندې یو نهر بهېږي چې پاکې او صفا اوبه يې دي؛

لِأَنَّهُ يَجْرِيْ عَلَى الرَّمْلِ نَغْتَسِلُ فِيْ هٰذَا النَّهْ

ځکه چې دغه نهر په شګو باندې بهېږي، موږ په دې نهر کې غسل کوو،

وَنَسْبَحُ وَنَلْعَبُ وَنَشْرَبُ مِنْ مَائِهِ النَّقِ

لامبو وهو، لوبې کوو، ددې له پاکو اوبو څخه يې څښو.

د الفاظو تحقيق

قَرْيَةٌ	معنى يې ده: کلى، (ج) قُرًى.
مِنْقَارٌ	معنى يې ده: منخ.
حُقُوْلٌ	(مفرد) حَقْلٌ، معنى يې ده: پټى
جَزِيْرَةٌ	معنى يې ده: هغه وچه خمکه چې شاوخوا يې اوبه وي، (ج) جَزَائِرُ
بَحْرٌ	معنى يې ده: سمندر، (ج) أَبْحُرٌ، بُحُوْرٌ، بِحَارٌ.
خُضْرَةٌ	معنى يې ده شين رنګ، (ج) خُضَرٌ.
نَهْرٌ	معنى يې ده: نهر، (ج) أَنْهَارٌ
نَقِيٌّ	معنى يې ده: صفا/ پاکيزه، (ج) أَنْقِيَاءُ
شَفَّافٌ	معنى يې ده: پاک او صفا.
رَمْلٌ	معنى يې ده: شګه.
نَسْبَحُ	صيغه جمع متکلم، فعل مضارع معروف. باب (ف) لامبو کول.
نَلْعَبُ	صيغه جمع متکلم، فعل مضارع معروف، باب (س) لوبه کول.

وَنَرَى السَّمَكَ يَجْرِيْ مِنْ هُنَا وَهُنَا وَنَرَى الصَّدَفَ فِيْ قَعْرِ النَّهْرِ:

موږ ماهيان ليدل چې ښي او چپ طرف ته تلل، موږ د نهر په ژوره کې سيپۍ ليدلې:

لِأَنَّ الْمَاءَ نَقِيٌّ شَفَّافٌ وَقَدْ تَعَلَّمْنَا السِّبَاحَةَ وَنَحْنُ صِغَارٌ

ځکه چې اوبه ډېرې پاکيزه او صفا وې او لامبوزني موږ په وړوکوالي کې زده کړې وه،

فَإِذَا كَانَتْ أَيَّامُ الْمَطَرِ فَاضَ النَّهْرُ وَكَانَ عَرْضُ كَبِيْرٌ

کله چې به د باران ورځې شولې، نو نهر به ډک شولو، نو پلنوالى به يې زيات شو.

عَبَرْنَا هٰذَا النَّهْرَ وَتَسَابَقْنَا فِي السِّبَاحَةِ.

موږ به په دې نهر باندې تېرېدلو او په لامبوزنى کې به مو مسابقه کول.

د الفاظو تحقيق

السَّمَكُ	معنى يې ده: ماهى، (ج) سِمَاكٌ، سُمُوْكٌ، أَسْمَاكٌ.
هُنَا وَهُنَا	معنى يې ده: دلته او هلته/ ښي او چپ طرف ته.

الصَّدَفُ	معنی يې ده سيپۍ. ج، أَصْدَافٌ
قَعْرٌ	معنی يې ده ژوروالی تل. ج، قُعُورٌ
فَاضَ	صيغه واحد مذکر غائب. فعل ماضي معروف. باب (ض) بهېدل
عَرْضٌ	معنی يې ده پلنوالی
عَبَرْنَا	صيغه جمع متکلم. فعل ماضي معروف. باب (ن) اوړېدل، اوښتل عبور کول

وَ نَرَى كَثِيْرًا مِنْ أَهْلِ الْبَلَدِ لَايَعْرِفُوْنَ السِّبَاحَةَ

ما د ښار زيات اوسېدونکي وليدل چې په لامبو نه پوهېدل او هغوی مشران وو.

وَهُمْ كِبَارٌ وَيَخَافُوْنَ الْمَاءَ جِدًّا وَلَايَدْخُلُوْنَ النَّهْرَ جَاءَ مَرَّةً صَدِيْقٌ لِيْ مِنَ الْبَلَدِ

سخت زيات د اوبو څخه وېرېدل، نهر ته نه ننوتل کېدل، يو ځل زما ملګری د ښار څخه راغلو.

وَدَخَلْنَا النَّهْرَ وَقُلْنَا لَهُ: تَعَالَ يَا أَخِيْ وَاغْتَسِلْ وَاسْبَحْ

موږ نهر ته داخل شولو. موږ هغه ته ووېل اې وروره! راشه، غسل وکړه او لامبو ووهه

فَقَالَ: إِنِّيْ أَخَافُ الْمَاءَ وَلَا أَعْرِفُ السِّبَاحَةَ، فَشَجَّعْنَاهُ

هغه ووېل زه د اوبو څخه وېرېږم، په لامبو باندې نه پوهېږم، موږ هغه ته زړه ورکړو.

وَقُلْنَا: لَا تَخَفْ وَنَحْنُ مَعَكَ فَتَشَجَّعَ وَ دَخَلَ الْمَاءَ وَ أَرَادَ

موږ ووېل: ته مه وېرېږه او موږ ستا سره يو، هغه زړور شو، اوبو ته داخل شو، اراده يې وکړه

أَنْ يَّسْبَحَ وَلٰكِنْ ذَهَبَ إِلَى الْقَعْرِ فَأَخَذْنَا بِيَدِهٖ

چې لامبو ووهي، خو هغه ژورې کندې ته ورسېدلو، موږ د لاس څخه ونيولو،

وَرَفَعْنَاهُ فَوْرًا وَقَدْ شَرِبَ الْمَاءَ

راپورته مو کړو، راووتلو او اوبه يې تېرې کړې وې.

د الفاظو تحقيق

كِبَارٌ	معنی يې ده: لوی، (مفرد) كَبِيْرٌ
شَجَّعْنَا	صيغه جمع متکلم، فعل ماضي معروف، باب (تفعيل) زړه ورکول/ تېزول/ په غيرت کې راوستل.
يَسْبَحُ	صيغه واحد مذکر غائب، فعل مضارع معروف، باب (ف) لامبو وهل.

	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (س) څښل

يَغْتَسِلُ مَعَنَا كُلَّ يَوْمٍ وَنَتَعَلَّمُ السِّبَاحَةَ حَتَّى تَعَلَّمْنَاهَا،

هغه به زموږ سره هره ورځ غسل کولو، لامبو به مو زده کول، تردې چې زده مو کړه.

النَّهْرُ فَتَشْتَجِمُ وَعَبَرَ مَرَّتَيْنِ، وَإِذَا نَزَلَتْ أَمْطَارٌ كَثِيرَةٌ

به نهر باندې تېر شو، زرور شو، دوه ځله ورباندې تېر شو. کله چې به زيات باران وشو.

فَاضَ النَّهْرُ أَصْبَحَتْ قَرْيَتُنَا شِبْهَ جَزِيرَةٍ يُحِيطُ بِهَا الْمَاءُ مِنْ ثَلَاثِ جِهَاتٍ،

نهر به ډک شو، زموږ کلی به د ټاپو په شان شو. له درې طرفونو څخه به اوبه ورباندې راتاو وې.

وَتَبْقَى جِهَةٌ وَاحِدَةٌ نَذْهَبُ مِنْهَا إِلَى الْبَلَدِ وَنَشْتَرِي الْحَوَائِجَ مِنَ السُّوقِ

يو طرف به پاتې ؤ چې موږ به په هغې باندې ښار ته تللو او د ښار څخه به مو د ضرورت شيان اخيستل

دالفاظو تحقيق

عَبَرَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (ن) تېرېدل
شِبْهٌ	معنى يې ده: په شان، تصوير، نقل، مشابهت، (ج) أَشْبَاهٌ
يُحِيطُ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل مضارع معروف، باب (افعال) احاطه كول
جِهَاتٌ	معنى يې ده: اطراف، جوانب، ارخونه، (مفرد) جِهَــةٌ
تَبْقَى	صيغه واحده مؤنثه غائبه، فعل مضارع معروف، باب (س) باقي پاتې كېدل
فَاضَ	صيغه واحد مذكر غائب. فعل ماضي معروف، باب (ض) بهېدل، جاري كېدل.

وَفِي سَنَةٍ كَانَ فَيَضَانٌ عَظِيمٌ فَاضَ الْمَاءُ وَدَخَلَ الْبُيُوتَ وَخَافَ النَّاسُ الْغَرَقَ

په يو كال زيات سېلاب راغلو، اوبه وبهېدلې او كورونو ته داخل شوې، خلك د غرقېدو څخه وېرېدل.

وَتَرَكْنَا قَرْيَتَنَا وَذَهَبْنَا إِلَى الْبَلَدِ وَلَمْ نَرْجِعْ إِلَّا بَعْدَ شَهْرٍ،

موږ خپل كلی پرېښودلو او ښار ته لاړو. واپس نه شولو. مګر يوه مياشت وروسته.

يَقْصُدُ قَرْيَتَنَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ وَالْعُلَمَاءِ لِأَنَّهَا قَرْيَةٌ مَشْهُورَةٌ

زموږ كلي ته زيات خلك او علماء راځي: ځكه چې هغه مشهور كلی دی.

وُلِدَ فِيهَا كَثِيرٌ مِنَ الْعُلَمَاءِ وَالصَّالِحِينَ.

زيات علماء او نېكان خلك پكې پيدا شوي

دالفاظو تحقيق

فَيَضَانٌ	معنی يې دهٔ: سېلاب، مصدر باب (ض) زيات بهېدل.
اَلْغَرَقُ	مصدر، باب (س) ډوبېدل
مَشْهُوْرَةٌ	صيغه واحد مؤنث، بحث اسم مفعول، باب (ف) مشهورېدل.
اَلْعُلَمَاءُ	(مفرد) عَالِمٌ، پوهېدونکی.
اَلصَّالِحِيْنَ	(مفرد) صَالِحٌ، معنی يې دهٔ: نېک انسان.

وَعَلٰى شَاطِئِ النَّهْرِ مَسْجِدٌ قَدِيْمٌ بَنَاهُ جَدُّنَا الْكَبِيْرُ

د نهر په غاړه يو پخوانی جومات دی چې زموږ مشر نيکه جوړ کړی دی.

مَضٰى عَلَيْهِ ثَلَاثُ مِائَةِ سَنَةٍ وَيَدْخُلُ فِيْهِ الْمَاءُ فِيْ كُلِّ فَيَضَانٍ

په هغې باندې درې سوه کاله تېر شوي دي، هر ځل باران کې به او به هغې ته داخلېدلې.

وَتَمْكُثُ فِيْهِ الْمَاءُ اَيَّامًا طَوِيْلَةً وَلٰكِنَّهُ لَمْ يَضْعُفْ

او اوبه به پکې ډېرې ورځې ولاړې وې، خو د دې باوجود به هغه نه کمزوری کېدلو.

دالفاظو تحقيق

شَاطِئٌ	غاړه/ څنډه، (ج) شَوَاطِئُ.
قَدِيْمٌ	زوړ/ پخوانی، (ج) قُدَمَاءُ.
بَنَا	صيغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معروف، باب (ض) ابادي کول: جوړول
مَضٰى	صيغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معروف. باب (ض) تېرېدل.
يَضْعُفُ	صيغه واحد مذکر غائب، فعل مضارع معروف، باب (کرم يکرم) کمزوری کېدل

اللغات الجديدة/ نوې لغتونه

اَلْاِحْتِفَالُ بِالْاِفْلَاسِ	د ديواليه کېدو اعلان/ د مفروض کېدو اعلان.
شَهْرُ الْعَسَلِ	هنې مون/ د خوشحالۍ ورځې، د واده وروسته د ښځې او خاوند جوړه چکر.
اَلتَّشْهِيْرُ	اعلان/ نامتو/ پاپولر/ د زمانې مشهور شخصيت
شِبْهُ رَسْمِيٍّ	نيمه دولتي.
شِبْهُ الْقَارَّةِ	کوچنی وچه/ بر صغير.
شَاطِئُ الْبَحْرِ	د سمندر ساحل، (ج) شَوَاطِئُ، شُطْآن.

تَرْنِيْمَةُ اللَّيْلِ

د شپې غزل/ترانه

بِتْ الْفِرَاشْ النَّاعِمَا	فِيْهِ تَنَامُ دَائِمًا
بې شکه نرمه بستره	چې ته په دې کې همېش ويده کېږې
نَمْ يَا حَبِيْبِيْ سَالِمَا	نَمْ آمِنًا نَمْ آمِنًا
رما ملګريه په سلامتيا سره ويده شه	په امن سره ويده شه او په امن سره ويده شه
بَامْ النَّهَارُ وَاحْتَجَبْ	مَعَهُ الْعَنَاءُ وَالتَّعَبْ
ورځ تېره شوه او پټه شوه	د هغې سره مشقت او تکليف
وَاللَّيْلُ بِالْأَمْنِ اقْتَرَبْ	نَمْ آمِنًا نَمْ آمِنًا
شپه په امن سره نژدې شوه	په امن سره ويده شه او په امن سره ويده شه
بَاتَتْ عَصَافِيْرُ الْغَرَدْ	فِيْ حِفْظِ مَوْلَانَا الصَّمَدْ
ږن کوونکو مارغانو شپه تېره کړه،	زموږ د بې نيازه آقا په حفاظت کې
مَنْ لَيْسَ يَغْفُلُ عَنْ أَحَدْ	نَمْ فِيْ حِمَاهُ آمِنًا
ه ذات چې د چا څخه هم بې خبره نه دی	د هغه په حفاظت کې په امن سره ويده شه
نَمْ آمِنًا حَتَّى السَّحَرْ	مِنْ كُلِّ ضَيْمٍ أَوْ كَدَرْ
ښمني تر وخت پورې په امن ويده شه	د هر ظلم او ناخوښۍ څخه
نَمْ فِيْ حِمٰى بَارِي الْبَشَرْ	نَمْ فِيْ حِمَاهُ آمِنًا
انسانانو د پيدا کوونکو په حفاظت کې ويده شه	د هغه په حفاظت کې په امن سره ويده شه

د الفاظو تحقيق

النّاعما	صيغه واحد مذکر، بحث اسم فاعل، باب (ك) نرمېدل.
نَمْ	صيغه واحد مذکر، فعل امر حاضر معروف، باب (س) ويده کېدل؛ خوب کول.
سالما	صيغه واحد مذکر، بحث اسم فاعل، باب (س) سلامت پاتې کېدل
آمنا	صيغه واحد مذکر، بحث اسم فاعل، باب (س) مامون پاتې کېدل.
[illegible]	صيغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معروف، باب (ن) تېرېدل.

إِحْتَجَبَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (افتعال) پټېدل
الْعَنَاءُ	مصدر، باب (س) ستړی کېدل
التَّعَبُ	مصدر، باب (س) ستړی کېدل
إِقْتَرَبَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (افتعال) نزدې کېدل
بَاتَتْ	صيغه واحده مؤنثه غائبه، فعل ماضي معروف، باب (ض) شپه تېربدل
عَصَافِيْرُ	(مفرد) عُصْفُوْرٌ، معنى يې ده: مرغى
الْغَرْدُ	مصدر، باب (س) چنچن کول/ چغېدل
حِفْظًا	مصدر، باب (س) حفاظت کول
مَوْلًا	معنى يې ده: آقا، سردار، مالک/ څښتن، (ج) مَوَالِيْ.
الصَّمَدُ	معنى يې ده: بې نيازه
يَغْفُلُ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل مضارع معروف، باب (نصرينصر) غافل کېدل
حِمًا	معنى يې ده: چراګاه/ پناه، حفاظت.
ضَيْرٌ	معنى يې ده: پرېشاني/ مشقت.
كَدَرٌ	مصدر، باب (ن) خاورين رنګ والا - باب (س) پرېشانه کېدل.
بَارِئٌ	پيدا کوونکی.
الْبَشَرُ	معنى يې ده: انسانيت.

اللغات الجديدة/ نوي لغتونه

عربي	پښتو	عربي	پښتو	عربي	پښتو
نُغْيٌ	په ځمکه باندې د لښتې وهلو اواز	صَقْرٌ	شکره/ باز.	عَنْدَلِيْبٌ	بلبل
حَجَلٌ	ژرر.	خُفَّاشٌ	اسمان څلکی	سُمَّنٌ	غوري
حِدَاءَةٌ	يو ډول څېلى.	عُقَابٌ	شاهين.	نَعَامَةٌ	شتر مرغ

بَاغَةٌ	عقابه شاهين	يَمَامَةٌ	فاخته	غُرَابٌ	كارغه
بُومَةٌ	الو	بَجَعَةٌ	بطخه	هُدْهُدٌ	هد هد
عُصْفُورٌ	مرغی	سُنُونُو	ابابيل	طَائِرُ حُبَاكٌ الْكَنَارِيْ	كناري مارغه

مُسَابَقَةٌ بَيْنَ شَقِيقَيْنِ

د دوه سكه ورونو ترمنځ مسابقه

قَالَ سَيِّدُنَا عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كُنْتُ وَاقِفًا يَوْمَ بَدْرٍ،
زموږ سردار عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه وايي: د بدر په ورځ زه ولاړ وم،
وَغُلَامَانِ مِنَ الْأَنْصَارِ مُعَاذُ بْنُ عَفْرَاءَ وَمُعَوِّذُ بْنُ عَفْرَاءَ عَنْ يَمِيْنِيْ وَشِمَالِيْ
د انصارو دوه هلكان معاذ بن عفراء او معوذ بن عفراء زما ښي او چپ طرف ته ودرېدل.
وَالْتَفَتَ إِلَيَّ أَحَدُهُمَا وَقَالَ لِيْ سِرًّا مِنْ صَاحِبِهٖ أَيْ عَمِّ! هَلْ تَعْرِفُ أَبَاجَهْلٍ؟
يو يې ماته متوجه شو او د خپل ملګري څخه يې پټ وويل: اې تره! ايا ته ابوجهل پېژنې؟

د الفاظو تحقيق

غُلَامَانِ	صيغه تثنيه، (مفرد) غُلَامٌ، هلك.
شَقِيْقَيْنِ	صيغه تثنيه، (مفرد) شَقِيْقٌ، معنى يې ده: سكه ورور، (ج) شَقَائِقُ.
اِلْتَفَتَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (افتعال) متوجه كېدل.
أَيْ	حرف نداء ده، د نږدې لپاره استعمالېږي.
عَمِّ	معنى يې ده: تره، (ج) أَعْمَامٌ.
سِرًّا	معنى يې ده: پټ، راز، (د حال واقع كېدو له وجې منصوب دی).
تَعْرِفُ	صيغه واحد مذكر حاضر، فعل مضارع معروف، باب (ض) پوهېدل/ پېژندل.

فَقُلْتُ: نَعَمْ! وَمَاذَا تُرِيْدُ مِنْهُ يَا ابْنَ أَخِيْ؟ قَالَ: أُخْبِرْتُ أَنَّهٗ يَسُبُّ
ما وويل: هو! خو ته په هغه څه كوې؟ اې وراره! هغه وويل: زه خبر شوی يم چې هغه كنځل كوي

رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرِنِيْهِ يَا عَمِّ! فَإِنِّيْ أَعْطَيْتُ اللّٰهَ عَهْدًا

رسول الله صلى الله عليه وسلم ته. اې تره! ماته يې وښيه! بې شکه ما د الله تعالى سره وعده کړې

إِنْ رَأَيْتُهُ أَنْ أَقْتُلَهُ أَوْ أَمُوْتَ دُوْنَهُ، وَقَالَ لِيَ الْآخَرُ سِرًّا مِّنْ صَاحِبِهِ:

که زه يې ووينم، نو زه به يې وژنم يا به خپله مړ کېږم. هغه بل راته د خپل ملګري څخه پټ وويل

أَرِنِيْهِ يَا عَمِّ! فَإِنِّيْ عَاهَدْتُ اللّٰهَ إِنْ عَايَنْتُهُ

اې تره. ماته يې وښيه، بې شکه ما د الله تعالى سره عهد کړی. که زه يې ووينم.

أَنْ أَضْرِبَهُ بِسَيْفِيْ حَتّٰى أَقْتُلَهُ.

نو په خپله توره به يې ووهم، ترديې چې زه يې ووژنم

د الفاظو تحقيق

اِبْنُ أَخٍ	وراره
أُخْبِرْتُ	صيغه واحد متكلم، فعل مضارع مجهول، باب (افعال) خبر ورکول/ ښودل
يَسُبُّ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل مضارع معروف، باب (ن) کنځل کول/ بدې خبرې کول
أَرِ	صيغه واحد مذكر، فعل امر حاضر معروف، باب (افعال) ښوودل.
عَهْدًا	مصدر، باب (س) وفا، ضمان، ذمه، دوستي، وصيت، وعده، قسم، (ج) عُهُوْدٌ.
دُوْنَ	معنى يې ده غير/ علاوه.
عَايَنْتُ	صيغه واحد متكلم، فعل ماضي معروف، باب (مفاعله) يو بل ته کتل
أَقْتُلُ	صيغه واحد متكلم، فعل مضارع معروف، باب (ن) وژل/ قتل کول

فَبَيْنَا أَنَا كَذٰلِكَ إِذْ بَرَزَ أَبُوْجَهْلٍ فَقُلْتُ: أَلَا تَرَيَانِ هٰذَا أَبُوْجَهْلٍ

زه په همدې حالت کې وم چې ابوجهل راښکاره شو، ما وويل: تاسو يې نه وينئ چې دا ابوجهل دی.

هٰذَا صَاحِبُكُمْ فَشَدَّا عَلَيْهِ مِثْلَ الصَّقْرَيْنِ حَتّٰى ضَرَبَاهُ

همدا ستاسو مقصود دی، دواړو پرې د شاهين په شان ورمنډه کړه. ترديې چې دواړو ووهلو.

ثُمَّ انْصَرَفَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَاهُ، فَقَالَ:

بيا دواړه نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته واپس شول. هغه ته يې خبر ورکړو. وې فرمايل

أَيُّكُمَا قَتَلَهُ؟ قَالَ كُلٌّ مِّنْهُمَا: أَنَا قَتَلْتُهُ قَالَ: هَلْ مَسَحْتُمَا سَيْفَيْكُمَا؟

په تاسو دواړو کې چا ووژلو؟ هريو وويل: ما ووژلو. وې فرمايل ايا تاسو خپلې تورې پاکې کړې دي؟

قَالَا: لَا! فَنَظَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهِ وَسَلَّمَ فِي السَّيْفَيْنِ فَقَالَ: كِلَاهُمَا قَتَلَهُ.

دواړو ووېل: نه، نبي عليه السلام دواړه تورې وکتلې، وې فرمايل: دواړو وژلی دی

دالفاظو تحقيق

بَيْنَا	معنی يې ده: موږ په همدې خبرو کې وو.
تَرَيَانِ	صيغه تثنيه مذکر حاضر، فعل مضارع معروف، باب (ف) ليدل.
شَدَّا	صيغه تثنيه مذکر غائب، فعل ماضي معروف، باب (ن) حمله کول.
صَقْرَيْنِ	صيغه تثنيه، (مفرد) صَقْرٌ، باز/ شاهين، (ج) أَصْقُرٌ
اِنْصَرَفَا	صيغه تثنيه مذکر غائب، فعل ماضي معروف. باب (افعال) واپس کېدل.
أَخْبَرَا	صيغه تثنيه مذکر غائب، فعل ماضي معروف، باب (افعال) خبر ورکول
أَنّٰى	د استفهام لپاره دی، په معنی د (څوک او چا) سره راځي.
مَسَحْتُمَا	صيغه تثنيه مذکر حاضر، فعل ماضي معروف، باب (ف) صفا کول
السَّيْفَيْنِ	صيغه تثنيه، (مفرد) السَّيْفُ، معنی يې ده: توره، (ج) سُيُوْفٌ
كِلَا	معنی يې ده: دواړه، د تثنيه مذکر د تاکيد لپاره راځي.

اللغات الجديدة/ نوي لغتونه

اَلشَّقِيْقُ	(۱) سکه ورونه، د يو مور او پلار څخه پيدا شوي سکه ورونه، (۲) په شان، په حديث کې دي: اَلنِّسَاءُ شَقَائِقُ الرِّجَالِ. (۳) نيمايي شلېدلې برخه، (ج) أَشِقَّاءُ
اَلشَّقِيْقَةُ	(۱) سکه خور، (۲) تېز باران، (۳) د نيمايي سر درد، (ج) شَقَائِقُ.
اَلْأَخُ	ورور، اَلْأَخُ شَقِيْقٌ، سکه ورور، اَلْأَخُ مِنْ أَحَدِ الْوَالِدَيْنِ، مېرنی ورور.
أَخٌ مِنَ الرَّضَاعِ	د شيدو ورور/ رضاعي ورور.
اِبْنُ أُخْتٍ	خوريی.
اِمْرَأَةُ الْأَخِ الْكَبِيْرِ	د مشر ورور مېرمن.
وَالِدَةُ الزَّوْجِ	د پلار مېرمن/ مېره
زَوْجَةُ الْعَمِّ الْأَكْبَرِ	د مشر تره/ کاکا مېرمن.

اِبْنُ أَخٍ	وراره.
بِنْتُ أُخْتٍ	ورېره.
أُخْتُ الزَّوْجِ	د خاوند خور.
اَلرَّبَّةُ: زَوْجَةُ الْأَبِ	میرنی مور / میره مور
اَلرَّبِیْبُ	ساتل شوی زوی
خَطِیْبٌ	هغه سړی چې د نکاح پیغام ورلیږل شوی وي، کوژده شوی ښځه

جَزَاءُ الْوَالِدَيْنِ

د مور او پلار بدله

وُلِدْتُ صَغِيْرًا ضَعِيْفًا لَا أَقْدِرُ عَلَى عَمَلٍ، لَا آكُلُ بِنَفْسِيْ وَلَا أَشْرَبُ بِنَفْسِيْ

زه وړوکی او کمزوری پیدا شوی وم. په کار مې قدرت نه درلود. خپله مې خوراک او څښاک نه شو کولی.

وَلَا أَتَكَلَّمُ وَلَا أَفْهَمُ فَحَنَتْ عَلَيَّ أُمِّيْ وَ أَرْضَعَتْنِيْ وَنَسِيَتْ نَفْسَهَا لِنَفْسِيْ

نه مې خبرې کولی شوې. نه وړباندې پوهېدم. زما مور راباندې شفقت وکړو. ماته یې شیدې راکړې

وَهَجَرَتْ رَاحَتَهَا لِرَاحَتِيْ فَكَمْ سَهِرَتِ اللَّيَالِيْ

او زما لپاره ترې خپل خاږه هېر ؤ. زما د راحت لپاره یې خپل راحت پرېښودلی ؤ. ډېرې شپې یې سهار کړې وې.

وَكَمْ تَعِبَتْ فِي النَّهَارِ وَكُنْتُ لَهَا شُغْلًا وَحَدِيْثًا وَإِذَا مَرِضْتُ طَارَ عَنْهَا النَّوْمُ

ډېرې ورځې یې سترپا زغملې وه. زه د هغې لوبتکه او خبرې وم. کله چې به ناروغ شوم، د هغې خوب به والوتلو.

وَمَا ذَاقَتْ طَعَامًا وَلَا شَرَابًا وَإِذَا سَكَتُّ اهْتَمَّتْ، وَقَالَتْ: مَا بَالُكَ يَا بُنَيَّ!

د ډوډۍ او اوبو څکه به یې نه کول. کله چې به چوپ شوم، نو هغه به خفه شوه. هغې به ویل: اې بچیه په تا څه شوي؟

مَاذَا أَسْكَتَكَ؟ لِمَاذَا لَا تَتَكَلَّمُ؟ أَتَشْكُوْ وَجَعًا أَوْ أَغْضَبَكَ أَحَدٌ؟

څه شي چوپ کړی یې؟ ولې خبرې نه کوې؟ ایا درد لرې او که چا غوسه کړی یې؟

وَإِذَا بَكَيْتُ جَاءَتْ تَجْرِيْ وَفِي اللَّيْلِ تَتَكَلَّمُ مَعِيْ وَتُضَاحِكُنِيْ.

کله چې به په ژړا شوم، په منډه به راغله. د شپې به یې راسره خبرې کولې او زه به یې خندونم

د الفاظو تحقیق

جَزَاءٌ	معنی یې ده: بدله، عوض.
وُلِدْتُ	صیغه واحد متکلم، فعل ماضي معروف، باب (ض) پیدا ایش

تفهیم الراشده

لَا أَلْبِدُ	صیغه واحد متکلم، فعل مضارع منفي معروف، باب (ض)، قدرت پیدا کېدل
لَا آكُلُ	صیغه واحد متکلم، فعل مضارع منفي معروف، باب (ن) خوراک کول
لَا أَفْهَمُ	صیغه واحد متکلم، فعل مضارع منفي معروف، باب (س)، پوهېدل
حَنَّتْ	صیغه واحده مؤنثه غائبه، فعل ماضي معروف، باب (ن) شفقت کول
هَجَرَتْ	صیغه واحده مؤنثه غائبه، فعل ماضي معروف، باب (ن)، پرېښودل
تَعِبَتْ	صیغه واحده مؤنثه غائبه، فعل ماضي معروف، باب (ی)، ستړیا
شُغُلًا	معنی یې ده: لوبتکه، د لوبو شی' مصروفیت، ج، أَشْغَالٌ. د فعل ناقص لپاره د خبر واقع کېدو له وجې منصوب دی.
حَدِيثًا	معنی یې ده: خبرې، ج، أَحَادِيثُ. د فعل ناقص لپاره د خبر واقع کېدو له وجې منصوب دی.
طَارَ	صیغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معروف، باب (ض)، الوتل
اِهْتَمَّتْ	صیغه واحده مؤنثه غائبه، فعل ماضي معروف، باب (افتعال) غمگین کېدل
بَالٌ	معنی یې ده: حالت، کیفیت.
بُنَيَّ	د اِبْنٌ تصغیر دی، د اِبْنٌ معنی ده: زوی، بُنَيَّ: وړوکی بچی، متی
أَتَشْكُو	صیغه واحد مذکر حاضر، فعل مضارع معروف، باب (ن) شکایت کول
تُضَاحِكُ	صیغه واحده مؤنثه غائبه، فعل مضارع معروف، باب (مفاعله) یو بل خوشحالول.

وَلَمَّا دَخَلْتُ فِي السَّنَةِ الْخَامِسَةِ كَانَتْ تَتَحَدَّثُ مَعِيْ فِي اللَّيْلِ وَقَدْ عَرَفْتُ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ فِيْ حَدِيْثِهَا،

کله چې زه پنځه کلن شوم، زما سره به یې د شپې له خواخبرې کولې. ما الله او د هغه رسول د هغې په خبرو کې پېژندلی و.

وَسَمِعْتُ قِصَصًا كَثِيْرَةً سَمِعْتُ مِنْهَا وَأَنَا عَلٰى فِرَاشِيْ قِصَّةَ اِبْرَاهِيْمَ،

ما د هغې څخه ډېرې کیسې اورېدلي وې چې زه په خپله بستره کې وم. د ابراهیم علیه السلام کیسه

وَكَيْفَ اُلْقِيَ فِي النَّارِ فَصَارَتْ بَرْدًا وَسَلَامًا وَكَيْفَ نَشَأَ مُوْسٰى فِيْ قَصْرِ فِرْعَوْنَ،

چې څنګه اور ته وغورځول شو؟ هغه اور یخ او سالم شو، موسی علیه السلام څنګه د فرعون په ماڼۍ کې لوی شو؟

وَتَمِعْتُ قِصَّةَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَسَلَّمَ وَقِصَّةَ حَلِيْمَةَ السَّعْدِيَّةِ وَقِصَصًا جَمِيْلَةً

او ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم. او حلیمې سعدیې کیسه او نورې ښایسته کیسې اورېدلې دي

د الفاظو تحقيق

أُلْقِيَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي مجهول، باب (افعال) غور ځول
بَرْدًا	معنی يې ده: يخوالی، (د فعل ناقص لپاره د خبر واقع کېدو له وجې منصوب دی
نَشَأَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (ف) پيدا کېدل/ تربيه
قَصْرٌ	معنی يې ده: قصر/ ماڼۍ، (ج) قُصُوْرٌ

وَحَفِظْتُ آيَةَ الْكُرْسِيِّ وَالْآيَاتِ الْأَخِيْرَةَ مِنْ سُوْرَةِ الْبَقَرَةِ وَأَدْعِيَةً كَثِيْرَةً

ما اية الكرسي او د سورة البقرة آخري ايتونه او ډېرې دعاګانې يادې کړې وې.

فَكُنْتُ عَالِمَ الْأَطْفَالِ وَكَانَ أَبِيْ يُحِبُّنِيْ كَثِيْرًا وَكُنْتُ أَصْغَرَ إِخْوَتِيْ

نو زه د ماشومانو عالم شوم، زما پلار به زما سره زيات محبت کولو، زه په ورونو کې کشر وم.

أَبِيْتُ مَعَهُ وَآكُلُ مَعَهُ وَإِذَا جَاءَ مِنْ سَفَرٍ

ما د هغه سره شپه تېرول، د هغه سره مې خوراک کولو، کله چې به د سفر څخه راتلو.

اشْتَرٰى لِيْ هَدِيَّةً جَمِيْلَةً وَكَانَ النَّاسُ يُحِبُّوْنَنِيْ وَيُقَرِّبُوْنَنِيْ إِلَيْهِمْ

نو ماته به يې ښايسته ډالۍ اخيستلې وه. خلکو به هم زما سره محبت کولو او ځان ته به يې نږدې کولم

لِمَكَانِيْ مِنْ أَبِيْ وَقَدْ قَرَأْتُ عَلٰى أَبِيْ أَيْضًا فَهُوَ لِيْ أَبٌ مُعَلِّمٌ

ځکه چې په پلار مې قدر درلود، ما د خپل پلار څخه درس زده کړی، نو هغه زما لاربنود پلار دی

د الفاظو تحقيق

سُوْرَةٌ	د قران کريم خاصه برخه، سورت. (ج) سُوَرٌ، سُوْرَاتٌ.
هَدِيَّةٌ	معنی يې ده: ډالۍ/ تحفه، (ج) هَدَايَا.
يُقَرِّبُوْنَ	صيغه جمع مذكر غائب. فعل مضارع معروف، باب (تفعيل) نږدې کول.
مَكَانَةٌ	معنی يې ده. مقام/ مرتبه/ ځای، (ج) أَمْكِنَةٌ.
قَرَأْتُ	صيغه واحد متكلم، فعل ماضي معروف. باب (ف) لوستل.
مُعَلِّمٌ	صيغه واحد مذكر. بحث اسم فاعل، باب (تفعيل) ښودل/ تعليم ورکول.

وكَانَ يُوصِي أُمِّي أَنْ تَكْسُوَنِي يَوْمَ الْعِيدِ لِبَاسًا جَدِيدًا وَإِذَا مَرِضْتُ

هغه به زما مور ته وصيت كولو چې په ما باندې د اختر په ورځ نوې جامې واغوندي. كله چې ناروغ شم.

أَوْ تَخَلَّفْتُ مِنْ مَكَانٍ أَوْ أَصَابَنِي ضَرَرٌ أَوْ أَلَمٌ وَجَاءَهُ الْخَبَرُ طَارَ نَوْمُهُ

او يا لوڅت ځاى څخه وغورځېږم يا څه تاوان يا درد راته ورسيږي. هغه ته به خبر راغلو. نو خوب به يې وتښتېدلو.

وَيَهْجُرُ اللَّيْلَ هَمًّا وَحُزْنًا، كَيْفَ أُجَازِي هٰذِهِ النِّعَمَ؟! هَلْ يُمْكِنُ أَنْ

شپه به يې د غم او خفګان له وجې سهار كړه. نو زه به څنګه ددې نعمتونو بدله وركړم؟ ايا دا ممكنه ده

أُجَازِيَهُمَا بِمَالٍ؟ كَلَّا! فَأَنَا وَمَالِي لِوَالِدَيَّ، نَعَمْ! أَنَا أَخْدِمُهُمَا بِالْمَالِ

چې زه ورته په مال سره بدله وركړم؟ هيڅكله نه. زه او زما مال زما د مور - پلار دي، هو! زه به د هغوى خدمت په مال

وَالْبَدَنِ بَلْ أَصِلُ أَصْدِقَاءَهُمَا وَأَقَارِبَهُمَا بِالْبِرِّ وَالْمَعْرُوفِ وَلٰكِنِّي سَأَدْعُو لَهُمَا

او بدن سره كوم، بلكې زه به د هغوى ملګرو او خپلوانو سره نېكي كوم. هغوى دواړو ته به دعاء كوم

وَ أَقُولُ دَائِمًا فِي دُعَائِي: رَبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا.

او هميش به په خپله دعاء كې وايم اې زما ربه! په دوى دواړو رحم وكړه. لكه څنګه چې دوى زما تربيه په وړوكوالي كې وكړه

دالفاظو تحقيق

يُوصِي	صيغه واحد مذكر غائب، فعل مضارع معروف، باب (افعال) وصيت كول
ضَرَرٌ	معنى يې ده: نقصان/ تاوان/ تكليف، (ج) أَضْرَارٌ
أَلَمٌ	معنى يې ده تكليف، غم، پرېشاني، (ج) آلَامٌ
أُجَازِي	صيغه واحد متكلم، فعل مضارع معروف، باب (مفاعله) بدله ادا كول
النِّعَمُ	معنى يې ده نعمتونه، (مفرد) نِعْمَةٌ
الْبَدَنُ	معنى يې ده: بدن/ جسم، (ج) أَبْدَانٌ
أَصِلُ	صيغه واحد متكلم، فعل مضارع معروف، باب (ض) رسېدل
الْمَعْرُوفُ	معنى يې ده: ښه والى/ نېكي/ ښېګڼه.
ارْحَمْ	صيغه واحد مذكر، فعل امر حاضر معروف، باب (س) رحم كول
رَبَّيَا	صيغه تثنيه مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (تفعيل) تربيه كول.

وَسَأَجْتَهِدُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَغْتَبِطَا فِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَمَامَ النَّاسِ

زه به ان شاء الله كوشش وكرم چې دوى په ما باندې د قيامت په ورځ د خلكو په وړاندې غبطه وكړي.

وَ أَمَامَ الْآبَاءِ وَالْأُمَّهَاتِ وَيَغْبِطُهُمَا أَصْحَابُ الْأَوْلَادِ وَيَقُولُوْنَ:

د پلرونو او مورگانو په وړاندې او په دوى باندې د بچيانو څښتنان غبطه وكړي او وبه وايي

يَا لَيْتَ لَنَا مِنَ الْأَوْلَادِ مِثْلَ مَا أُوتِيَ فُلَانٌ إِنَّهُ لَسَعِيْدٌ

كاش چې زموږ هم داسې بچيان واى، لكه فلاني ته چې وركړل شوي، بې شكه هغه نېک دى.

وَسَأَجْتَهِدُ لِأَنْ أَعْمَلَ عَمَلًا يُنَادِيْ فِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رُؤُوْسِ الْأَشْهَادِ

زه كوشش كوم چې داسې كار وكرم چې د خلكو په وړاندې د قيامت په ورځ ماته اواز وشي.

فَيَقُوْلُ النَّاسُ: مَنْ هُوَ؟ فَيُقَالُ: اِبْنُ فُلَانٍ وَفُلَانَةَ

خلک به وايي: دا څوک دى؟ وبه ويل شي: د فلاني سړي او فلانى ښځې زوى دى.

فَيَغْتَبِطُ وَالِدَايَ وَيَنْعِمُ بَالِيْ.

نو مور او پلار به مې راباندې غبطه كوي او زما زړه به خوشحاله شي.

د الفاظو تحقيق

يَغْتَبِطُ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل مضارع معروف، باب (افتعال)، فخر كول
سَعِيْدٌ	معنى يې ده: نېک، نېک بخت، بامراده، كامياب، (ج) سُعَدَاءُ، معنى يې ده: ورو كې نهر، (ج) سُعُدٌ.
يُنَادِيْ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل مضارع معروف، باب (مفاعله) رابلل/ دعوت كول
رُؤُوْسُ الْأَشْهَادِ	معنى يې ده: د خلكو په وړاندې
يَنْعَمُ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل مضارع معروف، باب (س) خوشحاله كېدل
بَالٌ	معنى يې ده: حالت، حيثيت، زړه، عقل، اهميت.

د لفظ بَالٌ استعمال د نورو الفاظو سره :

رَخِيُّ الْبَالِ وَنَاعِمُ الْبَالِ : خوشحال.

مُرْتَاحُ الْبَالِ هَادِئُ الْبَالِ : مطمئن.

كَاسِفُ الْبَالِ: پرېشانه حالت.

مُنْشَغِلُ الْبَالِ : فكرمند/ پرېشان.

قَدْ سَمِعْتُ أَنَّ وَلَدًا إِذَا حَفِظَ الْقُرْآنَ يُتَوَّجُ وَالِدَاهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

ما اورېدلي چې كله يو هلک قرآن ياد كړي، مور - پلار ته به يې د قيامت په ورځ تاج پ...

أَجْتَهِدُ فِيْ حِفْظِ الْقُرْآنِ لِيُتَوَّجَ وَالِدَايَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ
زه به د قرآن کريم په حفظ باندې کوشش وکړم، د دې لپاره چې د قيامت په ورځ مې مور - پلار ته تاج په سر شي.
إِنِّيْ سَمِعْتُ أَنَّ الشَّهِيْدَ يَشْفَعُ لِسَبْعِيْنَ مِنْ أَهْلِ بَيْتِهٖ وَلَعَلَّ اللّٰهَ يَرْزُقُنِيَ الشَّهَادَةَ
ما اوريدلي چې شهيد به د خپلې کورنۍ اويا کسانو سفارش کوي، شايد الله تعالى شهادت راته نصيب کړي.
أَشْفَعُ لِوَالِدَيَّ قَبْلَ النَّاسِ وَبِذٰلِكَ أُجَازِيْ بَعْضَ نَعِيْمِهِمَا.
زه به د نورو خلکو څخه وړاندې د خپل مور او پلار شفاعت وکړم او په دې سره به زه د هغه بعض نعمتونو بدله ادا کړم

د الفاظو تحقيق

يُتَوَّجُ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل مضارع مجهول، باب (تفعيل) تاج په سر کول.
حِفْظ	معنى يې ده: يادول، مصدر، باب (س).
شَهِيْد	معنى يې ده: د الله تعالى په لاره کې ځان ورکول، (ج) شُهَدَاءُ، أَشْهَادٌ.
يَشْفَعُ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل مضارع معروف، باب (ف) سفارش کول.
يَرْزُقُ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل مضارع معروف، باب (ن) ورکړه/ عطاء کول.
أُجَازِيْ	صيغه واحد متكلم، فعل مضارع معروف، باب (مفاعله) بدله ورکول.

اللغات الجديدة/ نوې لغتونه

شَهَادَةُ إِخْلَاءِ طَرَفٍ	د ګوند پرېښودلو سند.
شَهَادَةُ إِيْدَاعٍ	د امانت ترلاسه کولو تصديق.
شَهَادَةُ مُرُوْرٍ	د پاس سند/ جواز سير.
شَهَادَةُ الْمَوْلِدِ	د پيدايش سند.
شَهَادَةُ نَفْيٍ	د انکار شاهدي.
شَهَادَةُ الْوَفَاةِ	د وفات سند.
الشَّهَادَةُ الصِّحِّيَّةُ	د روغتيا سند
الشَّهَادَةُ الطِّبِّيَّةُ	د ډاکټرۍ سند.
الشَّهَادَةُ الْإِبْتِدَائِيَّةُ	ابتدائيه سند.
الشَّهَادَةُ الْعَالِيَةُ	د فراغت سند.
الشَّهَادَةُ الْعِلْمِيَّةُ	علمي سند.

اَلشَّهَادَةُ عَلٰى صِحَّةِ شَيْءٍ	د يو شي د صحت تصديق
اَلشَّهَادَةُ الْفَخْرِيَّةُ	اعزازي سند / امتيازي سند.
اَلشَّهَادَةُ الْكِتَابِيَّةُ	تحريري سند / په ليکلې بڼه سند.
اَلشَّهَادَةُ الْمَدْرَسِيَّةُ	د ښوونځي سند

اَدَبُ الْاَكْلِ وَالشُّرْبِ

د خوراک او څښاک ادب

كَانَ عُمَرُ بْنُ اَبِيْ سَلَمَةَ صَغِيْرًا وَكَانَ مَعَ اُمِّهٖ اُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا

عمر بن ابي سلمه رضي الله عنه وړوکی و. هغه د خپل مور ام سلمه رضي الله عنها سره و.

وَكَانَتْ اُمُّ سَلَمَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَسَلَّمَ تَزَوَّجَهَا

ام سلمه رضي الله عنها د رسول الله صلى الله عليه وسلم. مېرمن وه. هغه يې نکاح کړې وه وروسته له دې چې

بَعْدَ وَفَاةِ اَبِيْ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا فَكَانَ عُمَرُ فِيْ حِجْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَسَلَّمَ

ابو سلمه رضي الله عنه. وفات شو. دغه وخت عمر د رسول الله صلى الله عليه وسلم. په پالنه کې و.

د الفاظو تحقيق

اَدَبٌ	طريقه، سليقه، (ج) آدَابٌ.
غُلَامًا	هلک، ماشوم، (د فعل ناقص لپاره د خبر واقع کېدو له وجې منصوب دی
وَفَاةٌ	معنی يې ده: مرګ، (ج) وَفَيَاتٌ.
تَزَوَّجَ	صيغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معروف، باب (تفعّل) نکاح کول.
حِجْرٌ	پرورش، تربيه، حمايت، حفاظت، (ج) حُجُوْرٌ، اَحْجَارٌ.

وَكَانَ عُمَرُ يَاْكُلُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَسَلَّمَ كَمَا يَاْكُلُ الْوَلَدُ الصَّغِيْرُ

عمر به د رسول الله صلى الله عليه وسلم. سره خوراک کولو. لکه څنګه چې وړوکی ماشوم

مَعَ اَبِيْهِ وَكَمَا تَاْكُلُ اَنْتَ مَعَ اَبِيْكَ وَاُمِّكَ وَكَانَ عُمَرُ غُلَامًا يَتِيْمًا

د خپل پلار سره خوراک کوي، لکه څنګه چې ته د خپل پلار او مور سره خوراک کوې، عمر يو وړوکی يتيم هلک و.

مَاتَ اَبُوْهُ وَهُوَ صَغِيْرٌ فَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَسَلَّمَ يُحِبُّ

پلار يې په داسې حالت کې ترې مړ شوی و چې هغه کشر و، رسول الله صلى الله عليه وسلم. به د هغه سره مينه کول.

فيعلّمه الأدب فكان يأكل مرّة مع النبي صلى الله عليه وعلى آله وسلم

هغه ته به يې ادب ښودلو. هغه يو ځل د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره خوراک کولو.

فكانت يده تدور في الصحفة وكان يأكل من هنا وهنا

د هغه لاس به په کاسه کې ګرځېدلو. هغه به (کله) ددې خاى څخه خوراک کولو او (کله) د هغه خاى څخه.

كما يأكل كثير من الأولاد.

لکه څرنګه چې زيات ماشومان همداسې خوراک کوي

دالفاظو تحقيق

يعلّم	صيغه واحد مذكر غائب. فعل مضارع معروف. باب (تفعيل) ښودنه، تعليم ورکول
تدور	صيغه واحده مؤنثه غائبه. فعل مضارع معروف. باب (ن) ګرځېدل
الصحفة	پياله، پلېټ، رکابي، (ج) صِحَاف
يتيما	(۱) داسې ماشوم چې پلار يې وفات شوى وي. (۲) بې مثاله شى. بې نظير. (ج) أيتام، يتامى

فائده: د يتيم مؤنث اليتيمة راځي، ددې جمع يتائم راځي.

فعلّمه النبي صلى الله عليه وعلى آله وسلم كيف يأكل وقال له

رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه ته وښودل چې څنګه بايد خوراک وشي، هغه ته يې وفرمايل:

سمّ الله وكل مما يليك وهكذا ينبغي أن يأكل المسلم

بسم الله ووايه او د خپلې مخې څخه خوراک وکړه، همداسې پکار ده هر مسلمان ته چې خوراک وکړي.

فيسمّي الله ويأكل بيمينه ويأكل مما يليه

بسم الله ووايي او په ښي لاس باندې خوراک وکړي او د خپل مخامخ څخه خوراک وکړي،

وهكذا علّم النبي صلى الله عليه وعلى آله وسلم أمّته أدب الأكل والشرب

دغه شان رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل امت ته د خوراک او څښاک ادب ښودلى،

و أدب كل شيء كما علّم عمر بن أبي سلمة الصغير

او د هر شي ادب (همداسې دى) لکه څرنګه چې يې عمر بن ابي سلمه ماشوم ته وښودلو،

وقال النبي صلى الله عليه وعلى آله وسلم إنما بعثت معلّما.

او رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: بې شکه زه لارښود (ښوونکى) رالېږل شوى يم.

د الفاظو تحقیق

يَلِيْ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل مضارع معروف، باب (حسب) متصل كيدل
أُمَّةٌ	معنى يې ده: قوم، عوام، (ج) أُمَمٌ
بُعِثْتُ	صيغه واحد متكلم، فعل ماضي مجهول، باب (فتح) لېږل
مُعَلِّمًا	صيغه واحد مذكر، بحث اسم فاعل، باب (تفعيل) ښودونكى

وَقَدْ أَدَّبَ اللّٰهُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَسَلَّمَ وَعَلَّمَهٗ أَدَبَ كُلِّ شَيْءٍ
په تحقيق سره الله تعالى پېغمبر عليه السلام ته همداسې ادب ښودلى، هغه ته يې د هر شي ادب ښودلى.
فَقَالَ: أَدَّبَنِيْ رَبِّيْ فَأَحْسَنَ تَأْدِيْبِيْ، وَقَالَ أَبُوْهُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ:
وې فرمايل: زما رب ماته ادب ښودلو او په ښه طريقه يې وښودلو، ابوهريره رضي الله عنه وايي:
مَا عَابَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَسَلَّمَ طَعَامًا قَطُّ
رسول الله صلى الله عليه وسلم په هيڅ خوراك كې هيڅكله عيب نه دى راويستلى.
إِنِ اشْتَهَاهُ أَكَلَهٗ وَ إِنْ كَرِهَهٗ تَرَكَهٗ
كه اشتهاء يې ورته وشوه، نو خوراك به يې وكړو او كه خوښ يې نه ؤ، نو پرېښودلو به يې.
وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَسَلَّمَ أَجْلِسُ كَمَا يَجْلِسُ الْعَبْدُ وَآكُلُ
رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: زه داسې كېنم، لكه څنګه چې يو غلام كېني، زه داسې خوراك كوم،
كَمَا يَأْكُلُ الْعَبْدُ، وَقَالَ: لَا آكُلُ مُتَّكِئًا
لكه څرنګه چې يو غلام خوراك كوي، فرمايل يې: زه د تكيې په حالت كې خوراك نه كوم

د الفاظو تحقیق

أَدَّبَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (تفعيل) ادب ښودل
أَحْسَنَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (افعال) ښه كول
عَابَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (ض) عيب ويستل
اِشْتَهَى	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (افتعال) غوښتل
مُتَّكِئًا	صيغه واحد مذكر، بحث اسم فاعل، باب (افتعال) تكيه كول، ټېك لګول

فائده: لفظ د مُتَّكِئًا د حال واقع كېدو له وجې منصوب دى او ذوالحال يې د آكُلُ ضمير دى.

وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَسَلَّمَ
د كعب بن مالک -رضي الله عنه- روايت دی، وايي چې ما رسول الله صلى الله عليه وسلم- وليد
يَأْكُلُ بِثَلَاثَةِ أَصَابِعَ، وَإِذَا فَرَغَ لَعِقَهَا
چې په درې گوتو بې خوراک كولو. كله چې به فارغ شو. نو گوتې به يې څټلې.
وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَسَلَّمَ إِذَا أَكَلَ طَعَامًا،
د انس رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم- به چې كله خوراک كولو.
لَعِقَ أَصَابِعَهُ الثَّلَاثَ وَقَالَ: إِذَا سَقَطَتْ لُقْمَةُ أَحَدِكُمْ فَلْيَأْخُذْهَا
خپلې درې گوتې به يې څټلې، فرمايل يې: كله چې ستاسو څخه د يو كس مړۍ وغورځېږي هغه دې راواخلي.
وَلْيُمِطْ عَنْهَا الْأَذٰى وَلْيَأْكُلْهَا وَلَا يَدَعْهَا لِلشَّيْطَانِ وَ أَمَرَنَا أَنْ نَسْلُتَ الْقَصْعَةَ
او څخه دې گډ لرې كړي، بيا دې وخوري، هغه دې شيطان ته نه پرېږدي. موږ ته يې حكم كړی چې كاسه پاكه كړو.
وَقَالَ: إِنَّكُمْ لَا تَدْرُوْنَ فِيْ أَيِّ طَعَامِكُمُ الْبَرَكَةُ.
فرمايل يې: بې شكه تاسو خبر نه يئ چې ستاسو د خوراک په كومه برخه كې بركت دی؟

دالفاظو تحقيق

أَصَابِعُ	(مفرد) إِصْبَعٌ، معنی يې ده: گوته
لَعِقَ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (س) څټل
لِيُمِطْ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل امر غائب معروف، باب (افعال) لرې كول/ مدد كول
الْأَذٰى	معنی يې ده: تكليف
نَسْلُتَ	صيغه جمع متكلم، فعل ماضي معروف، باب (ن) څټل
الْقَصْعَةُ	دومره غټه/ لويه كاسه چې لږ تر لږه لس كسان پكې خوراک كولی شي. (ج) قِصَاعٌ
لَا تَدْرُوْنَ	صيغه جمع مذكر حاضر، فعل منفي مضارع معروف، باب (ض) پوهېدل

وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَسَلَّمَ كَانَ يَتَنَفَّسُ فِي الشَّرَابِ
د انس رضي الله عنه روايت دی چې بې شكه رسول الله صلى الله عليه وسلم- به د اوبو په څښلو كې
ثَلَاثًا، وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَسَلَّمَ
درې ساگاني اخيستلې، د ابن عباس رضي الله عنه روايت دی چې بې شكه رسول الله صلى الله عليه وسلم-

نَهٰى أَنْ يُتَنَفَّسَ فِي الْإِنَاءِ أَوْ يُنْفَخَ فِيْهِ

ددې څخه منع فرمايلې چې په لوښي کې ساه واخيستل شي او يا په دې کې پو کړل شي.

وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَسَلَّمَ أَنَّهُ نَهٰى عَنِ الشُّرْبِ قَائِمًا

انس رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې بې شکه هغه ددې څخه منع فرمايلې چې په ولاړو اوبه وڅښل شي.

د الفاظو تحقيق

يُتَنَفَّسُ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل مضارع معروف، باب (تفعّل) ساه اخيستل.
نَهٰى	صيغه واحد مذكر غائب، فعل ماضي معروف، باب (ف) منع کول/بندول
اَلْإِنَاءُ	معنى يې ده لوښى، ج آنِيَةٌ.
يُنْفَخُ	صيغه واحد مذكر غائب، فعل مضارع مجهول، باب (ن) پو کي وهل

وَعَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَسَلَّمَ نَهَانَا عَنِ الْحَرِيْرِ

د حذيفه رضي الله عنه روايت دى، وايي چې بې شکه رسول الله صلى الله عليه وسلم موږ د وريښم

وَالدِّيْبَاجِ وَالشُّرْبِ فِي آنِيَةِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَقَالَ:

او پلنو وريښمو او د سرو زرو - سپينو زرو په لوښو کې د څښاک څخه منع کړي يو او فرمايلي

هِيَ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا وَهِيَ لَكُمْ فِي الْآخِرَةِ

دا (شيان) د دوی (کافرانو) لپاره دي په دنيا کې او ستاسو (مؤمنانو) لپاره دي په آخرت کې

د الفاظو تحقيق

اَلْحَرِيْرُ	وريښم، وريښمي کپړه.
اَلْحَرِيْرُ الصِّنَاعِيُّ	مصنوعي (لاسي جوړ) وريښم.
اَلْحَرِيْرَةُ	(۱) وريښمي کپړې ټوټه. (۲) د اوړو، شيدو او غوړو څخه تياره شوې حلوا
اَلْحَرِيْرِيُّ	(۱) وريښم جوړونکي يا وريښم خرڅونکي. (۲) د علم ادب د کتاب المقامات الحريرية د مصنّف لقب.
اَلدِّيْبَاجُ	ډبل وريښم.

دِيبَاجُ الوَجْهِ	د مخ ښایست، د مخ د خرمنې خوشنمايي، ج، ديابيج. دبابج
الدِّيبَاجُ	د دیباج کپړې خرخونکی

اللغات الجديدة/ نوي لغتونه

مَأْكُولَاتٌ	د خوراک شیان	بَيْضَةٌ مَسْلُوقَةٌ	ترکي والا هگی
أَرُزٌّ	وريجي/ وريژې	بِسْكُوِيت	د خوراک شیان
[illegible]	آیسکریم	حَلْوَى	بسکټ
بَيْضٌ	هگی	ثَرِيْدٌ	ماته کړې ډوډی
بَيْضٌ مَقْلِيَّةٌ	په پیازو کې پخه شوي هگی	شَطِيْرَةٌ	سینډویچ
شَايٌ شَاهِيٌ	لنده	مَلْعَقَةٌ	چکنې
سُكَّرٌ	بوره/ چیني	مُخَلَّلٌ	آچار
عُجَّةٌ	آمليټ	فُوْلٌ سُوْدَانِيٌ	مونگ پلي/ مم پلي
[illegible]	ملايي	رَوْبٌ	ماسته.
كَعْكٌ	کیک	مُرَبَّى	جام

شَرٌّ وَخَيْرٌ

بدي او نيکي

شَرُّ الْمَقَالِ الكَذِبُ	خَيْرُ الْخِصَالِ الأَدَبُ
بده خبره دروغ ده	ښه عادت ادب دی
اَلْبُخْلُ عَيْبٌ فَاضِحٌ	وَالْجُوْدُ سِتْرٌ صَالِحٌ
بخیلي رسوا کوونکی عیب دی	سخاوت ښایسته لباس دی
اَلعَقْلُ قَاضٍ عَادِلٌ	وَالْعُجْبُ دَاءٌ قَاتِلٌ
عقل په انصاف سره فیصله کوونکی دی	تکبر هلاک کوونکې ناروغي ده
اَلْعُمْرُ ضَيْفٌ رَاحِلٌ	وَالْمَالُ ظِلٌّ زَائِلٌ
عمر کوچ کوونکی مسافر دی	مال زائله کېدونکې سایه ده

إِنَّ الْبَخِيْلَ لَا يُحِبُّ	اَلْبِرُّ لِلْحُبِّ سَبَبٌ
بې شکه د بخیل سره محبت نه شي کېدلی	ښه والی د محبت ذریعه ده

دالفاظو تحقیق

شَرٌّ	فتنه، فساد، خرابي، شرارت، بد اخلي، شر، (ج) شُرُوْرٌ
خَيْرٌ	نېکي، (ج) خُيُوْرٌ
اَلْمَقَالُ	مصدر، باب (ن)، معنی يې ده: وینا کول
اَلْخِصَالُ	معنی يې ده: عادت، (ج) خصائل
اَلْبُخْلُ	مصدر، باب (س)، معنی يې ده: بخیلي کول
عَيْبٌ	معنی يې ده: عیب ویستل، بده خبره پکې کول، (ج)، عُيُوْبٌ
فَاضِحٌ	صیغه واحد مذکر، بحث اسم فاعل، باب (ف)، رسوا کول
اَلْجُوْدُ	معنی يې ده: سخاوت کول
سِتْرٌ	پرده، رکاوټ/ مانع، حیاء، شرم، عقل، (ج) أَسْتَارٌ، سُتُوْرٌ، سُتُرٌ
قَاضٍ	صیغه واحد مذکر، بحث اسم فاعل، باب (ض)، انصاف کول، فیصله کول
اَلْعُجْبُ	خان خوښي، غرور
دَاءٌ	معنی يې ده: ناروغي، (ج) أَدْوَاءٌ
ضَيْفٌ	معنی يې ده: مېلمه، (ج) ضُيُوْفٌ
رَاحِلٌ	صیغه واحد مذکر، بحث اسم فاعل، باب (ف)، کوچ کول/ کډه کول
زَائِلٌ	صیغه واحد مذکر، بحث اسم فاعل، باب (ن)، ختمېدل
سَبَبٌ	معنی يې ده: ذریعه، (ج) أَسْبَابٌ
لَا يُحِبُّ	صیغه واحد مذکر غائب، فعل مضارع مجهول، باب (ض)، محبت کول

د لفظ اَلْخَيْرُ تحقیق

د اسم تفضیل صیغه ده چې خلاف القیاس راغلې ده

۱: اسم تفضیل خلاف القیاس په معنی د زیات ښه والي سره، زیات غوره، زیات ګټور، زیات نېک، خیر هر هغه شي ته ویل کېږي چې حسن لذاته وي، یعني ښه والی او غوره والی د هغه په

ذات کې وي او په هغه کې ذاتي خوند، ذاتي ګټه او ذاتي خوشبختي، خير او ښه والی وي
۲ : نېکي، خوشبختي، ۳ : برکت، ۴ : نفع، فايده، ګټه

٤ : مال، دولت، زيات ښايسته مال، په قران کريم کې دي: ﴿إِنْ تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ بِالْمَعْرُوفِ﴾

۱ : د خير څښتن، فيض رسونکی، (۷) د برکت باعث، ۸ : زيات شتمن، زياتې ګټې والا، نېک.
۱ : نېک، (لَعَمْرُ أَبِيكَ الْخَيْرِ) ستا د خير څښتن پلار باندې قسم، (جمع خِيَارٌ وَأَخْيَارٌ وَخُيُورٌ، الْأَخْيَارُ.
وَخِيَارُ النَّاسِ: نېکان او منتخب خلک.

طَهَارَةُ الْأَخْلَاقِ	مِنْ كَرَمِ الْأَعْرَاقِ
د اخلاقو پاکيزګي	د نسبي شرافت يوه برخه ده
اَلْكِذْبُ وَالنَّمِيمَةُ	وَالْغَدْرُ شَرُّ شِيَمِهِ
دروغ او چغلخوري	او د رکه بدترين خصلتونه دي
تَأَنَّ فِي الْأُمُورِ	لَا سِيَّمَا السُّرُورِ
درميانه او سبړه په معاملات کې	خاص ډول په خوشحالی کې
وَاعْجَلْ إِلَى الْخَيْرَاتِ	مِنْ حَذَرِ الْفَوَاتِ
په ښه کارونو کې چالاکي کوه	د فوت کېدو له وېرې څخه
مَا الْحَقُّ غَيْرُ نَلْيَكَا	لَا تَكُ عَنْهَا مُمْسِكًا
ستا د خان څخه علاوه نور هيڅ نشته	ته ددې څخه منع کوونکی مه جوړېږه

د الفاظو تحقيق

كَرَمُ	معنی يې ده: شرافت، پاکيزه.
اَلْأَعْرَاقُ	(مفرد) عَرَقٌ، معنی يې ده: رګونه.
اَلنَّمِيمَةُ	چغلخوري، (ج) نَمَائِمُ.
اَلْغَدْرُ	مصدر، باب (ن، س، ض)، خيانت کول.
شِيمَة	عادت، طريقه، (ج) شِيَمٌ.
تَأَنَّ	صيغه واحد مذکر، فعل امر حاضر، باب (تفعّل) تباه کېدل.
اِعْجَلْ	صيغه واحد مذکر، فعل امر حاضر، باب (س) چالاکي کول.

اَلْخَيْرَاتُ	(مفرد، خَيْرَةٌ. معنی یې ده خیر ښېګڼه
خُذْ	صیغه واحد مذکر. فعل نهي حاضر. باب (س) وېرېدل
لَاتَكُ	صیغه واحد مذکر. فعل نهي حاضر. باب (ن) کېدل.

فایده: لَاتَكُ په اصل کې (لَاتَكُنْ) و. (ن) خلاف القیاس وغورځول شو

مُتَنِكًا	صیغه واحد مذکر. بحث اسم فاعل، باب (افعال) بندېدل

د لفظ لَاسِيَّمَا تحقيق

لَاسِيَّمَا لکه څنګه چې په شرح تهذیب کې استعمال شوی: (سِيَّمَا الْوَلَدُ الْأَعَزُّ) دا لفظ د (سِيٌّ) په معنی د (مِثْل) او (مَا) څخه مرکب دی، (سِيٌّ) د (لَا) اسم دی او لفظ د (مَا) یا حرفیه زائده دی یا اسمیه موصوله او موصوفه دی، د (لَاسِيَّمَا) څخه وروسته کلمه باندې جر دی. (سِيٌّ) د مضاف الیه واقع کېدو له وجې (مَا) زائده دی یا (مَا) بمعنی (شَيْءٌ) مضاف الیه دی او (مَا) به د زیاتې کلمه باندې جر دی د بدلیت له وجې، په دې صورت کې به (مَا) زائده نه وي یا د (لَاسِيَّمَا) وروسته به مرفوع وي د مبتداء محذوف لپاره د خبر واقع کېدو له وجې یا به مبتداء محذوف الخبر وي. یا جمله واقع کېدو سره به د (مَا) صله یا صفت وي یا به د (لَاسِيَّمَا) وروسته د تمیز په بناء منصوب وي د لفظ (مَا) له وجې یا د (أَعْنِيْ) فعل مقدر لپاره د مفعول به له وجې یا به مستثنی وي، په داسې حال کې چې (لَاسِيَّمَا) د استثنایي کلماتو څخه وګرځول شي، د جمهورو نحویانو په نزد ددې خبر محذوف دی، یعنې (لَاسِيَّمَا) د اصلي معنی (لَامِثْلُ) څخه نقل کړل شي په معنی لازمي یعنې د خصوصا په معنی سره استعمال شو، لهذا په دې وخت کې د فعل مقدر لپاره د مفعول واقع کېدو په بناء به محلا منصوب وي، یعنې: خَصَّ خُصُوْصًا. کله د (لَاسِيَّمَا) استعمال د واؤ سره هم کېږي. واؤ عاطفه یا اعتراضیه یا حالیه وي او کله (لَاسِيَّمَا) مابعد ته په ماقبل باندې د ترجیح ورکولو لپاره راځي او کله چې صرف (لَاسِيٌّ) استعمال شي، نو په دې کې مذکر او مؤنث دواړه برابر دي، لکه: رَاشِدٌ سِيُّكَ فَاطِمَةُ سِيُّكَ او کله په تخفیف سره هم ویل کېږي. لکه (لَاسِيَمَا).

اللغات الجديدة/ نوي لغتونه

ښه عادتونه		بد عادتونه	
مُعْتَدِلٌ	درمیانه	قَاسٍ	سنگدل/ سخت زړی
سَعِيْدٌ	خوش نصیب	تَعِيْسٌ	ناخوښ/ بد قسمت
مُبْتَهِجٌ	خوشحاله اوسې	مُهْمِلٌ	بې پروا
كَرِيْمٌ	د فراخ زړه څښتن	جَبَانٌ	بې غیرت
مُتَفَائِلٌ	ښه گومان کوونکی	كَسْلَانٌ	سست
لَطِيْفٌ	مهربان	خَامِلٌ	نوم ورکی
فَعَّالٌ	مؤثر/ اغېزناک	غَيْرُ مُخْلِصٍ	بې وفا
شُجَاعٌ	بهادر/ غیرتي/ زړور	أَحْمَقُ	کم عقل

يَوْمٌ مَطِيْرٌ

باراني ورځ

نَزَلَ الْمَطَرُ فِي اللَّيْلِ. وَسَالَتِ الطُّرُقُ وَالشَّوَارِعُ وَنَشَأَ وَحَلٌ كَثِيْرٌ
د شپې باران وورېدلو، لارې او سړکونه وبهېدل، زیاتې ختې پیدا شوې.
زَلِقَ بِهِ النَّاسُ. وَتَوَسَّخَتِ الثِّيَابُ وَإِذَا سَارَتْ سَيَّارَةٌ تَطَايَرَ الْمَاءُ
خلک ورباندې وښوییدل، جامې خیرنې شوې، چې ناڅاپه موټر تېر شو او اوبه یې والوځولې.

د الفاظو تحقیق

مَطِيْرٌ	باران والا
سَالَتْ	صیغه واحده مؤنثه غائبه، فعل ماضي معروف، باب (ض) بهېدل.
اَلشَّوَارِعُ	معنی یې ده: سړکونه، لارې، (مفرد) شَارِعٌ.
وَحَلٌ	معنی یې ده: ختې، (ج) أَوْحَالٌ.
زَلِقَ	صیغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معروف، باب (ض) ښوییدل.
تَوَسَّخَتْ	صیغه واحده مؤنثه غائبه، فعل ماضي معروف، باب (تفعّل) خیرن کېدل.
تَطَايَرَ	صیغه واحد مذکر غائب، فعل ماضي معروف، باب (تفاعل) الوتل.

اِنْقَطَعَ الْمَطَرُ فِي الصَّبَاحِ وَ اَمِنَ النَّاسُ خَرَجُوْا يَمْشُوْنَ عَلَى الشَّوَارِعِ

سهار باران ودرېد، خلک مطمئن شول، راووتل او په سړکونو باندې ګرځېدل.

وَقَدْ تَوَسَّخَتْ ثِيَابُهُمْ بِالْوَحْلِ وَزَلَقَ بَعْضُ النَّاسِ عَلَى الشَّوَارِعِ

جامې يې په خټو خيرنې شولې، ځينې خلک په سړک باندې ونښوېدل.

وَسَقَطَ فِي الْوَحْلِ وَضَحِكَ النَّاسُ وَضَحِكَ الرَّجُلُ وَتَوَسَّخَتْ ثِيَابُهُ جِدًّا

په خټو کې پرېوتل، خلکو وخندل او (هغه) سړي هم وخندل، جامې يې زياتې خيرنې شوې

د الفاظو تحقيق

